eilia.org

# جادویی سفرونهٔ

محب الله زغم

eilia.org

بسم الله الرحمن الرحيم

eilia.org

## د کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | **جادويي سفرونه** |
| لیکوال: | **محب الله زغم** |
| ډیزاینر: | **اسدالله خان امرخېل** |
| خپرندوی: | **د ماشوم ادبیاتو ملي بنسټ** |
| چاپ چارې: | |
| چاپ کال: | **۱۳۹۸** |
| چاپ شمېر: | **۱۰۰۰** |
| لړ: | |

eilia.org

**آزادي ترپاچاهيه لا تېرى كا**

**چې د بل ترحكم لاندې شي زندان شي**

## د هېواد د خپلواکۍ سلمه کلیزه دې ټولو هېوادوالو ته مبارک وي!

د افغانستان د ماشوم ادبیاتو ملي بنسټ وياړي چې د هېواد د خپلواکۍ د سلمې کليزې په پار د ماشومانو له پاره د ليکوالو له وطن دوستۍ او هېواد پالنې ډکې کيسې، شعرونه او ترانې چاپوي او له دې لارې يې د وطنپالنې روحيه او ملي احساس پیاوړی کوي.

د افغانستان د ماشوم ادبیاتو ملي بنسټ هڅه کوي، چې د ماشومانو د پوهې د کچــې د لوړولو له پاره په بېلابېلو برخو کې کتابونه چاپ کړي، چې دا ځل يې د خپلو فعــاليتونو په لړ کې دغه کتاب ترتيب او چاپ کړ.

د ماشومانو د ښې روزنې او پیاوړتیا په برخه کې کورنۍ تر بل هرچا زيات رول لري؛ نــو هیله ده چې کورنۍ دا دنده په ښه توګه ترسره او خپل ماشومان کتاب لوستو او مطالعې ته وهڅوي.

د افغانستان د ماشوم ادبیاتو ملي بنسټ د دې کتاب له ليکوال څخه د مننې ترڅنګ د هېواد له نورو ليکوالو هيله کوي، چې په دې برخه کې خپلې هڅې ونه سپموي.

**د افغانستان د ماشوم ادبیاتو ملي بنسټ**

**کابل ۱۳۹۸ لمريز کال**

eilia.org

# «جادويي سفرونه» مې څنګه ولیکه؟

زه چې وړوکی وم، کور مو د بګرام هوايي ډګر په بلاکونو کې و. هره ورځ به مې د الوتکو الوتنې لیدې. په کال کې یو یا دو وارې چې به کابل ته راتلو، تګ راتګ به مو په الوتکو کې کاوه. الوتل مې خوښ و. ما غوښتل پیلوټ شم خو ډاکټر شوم. نو اوس په خیال کې الوځم خو یوازې نه؛ په دې کتاب کې به ځیرک او تاسې هم راسره والوځئ.

څو کاله مخکې آغلې اناهیتا روهي د سویډنۍ لیکوالې سلما لاګرلوف د یوه کتاب په اړه لیکنه کړې وه. د نوبل جایزې دغه ګټونکې لیکوالې د ماشومانو له پاره یو ناول لیکلی و چې په کې یو هلک د لاس د ورغوي په اندازه وړوکی کېږي. هغه د بتې د وزرنو تر منځ کېني او د سویډن په ټولو سیمو، ښارونو او ولایتونو ګرځي. د دې لیکنې په لوستلو سره مې په زړه کې وویل چې زه به هم همداسې ناول ولیکم خو په دې خبرې څو کاله تېر شول او رانه هېره شوه.

څو میاشتې مخکې د ماشوم ادبیاتو د ملي بنسټ په غونډه کې استاد اسدالله غضنفر وویل: «که غواړئ چې ماشومان مو له وطن سره مینه پیدا کړي، په وطن یې وګرځوئ. خو دا کار به هر چا ته ممکن نه وي نو داسې کتاب باید ولیکئ چې ماشومانو ته د وطن فرهنګ او جغرافیه معرفي کړي.»

د استاد د خبرو په اورېدو مې هغه زړه خبره رایاده شوه. د ناول په لیکلو مې پیل وکړ او دا دی اوس یې لولئ. دا کتاب د زلمکیو او پېغلوټو له پاره لیکل شوی دی خو د ځوانانو او لویانو له پاره به هم په زړه پورې وي.

ما د وطن ډېر تاریخي ځایونو لیدلي دي. په کابل کې مې ژوند کړی دی. پروان، پنجشیر، کاپیسا، کندوز، بغلان، سمنګان، بلخ، بامیان، هرات، هلمند، کندهار، غزني، لوګر، وردک، پکتیا، پکتیکا، خوست، لغمان او ننګرهار ته تللی یم نو په ناول کې اکثره معرفي شوي ځایونه مې پخپله لیدلي دي. د دغو ځایونو په اړه مې د خپلو سترګو لیدلی حال لیکلی دی. همدرانګه د وطن د لرغونو سیمو او تاریخي آبداتو په اړه مې ځینې کتابونه

eilia.org

لوستي دي. د ناول د ليکلو په وخت کې مې يو ځل بيا هماغه او ځينې نور کتابونه ولوستل.

که غواړئ چې په ناول کې د راغليو ځايونو په اړه نور معلومات هم پيدا کړئ، دا کتابونه ولولئ:


۱. شناسنامهء آبدات تاريخی افغانستان، فيض الله محتاج، ۱۳۹۴

۲. افغانستان تاريخی، محمد حسين يمين، ۱۳۸۰

۳. عجايب تاريخي افغانستان، جانتن لي، مترجم سيد محمد حسينی، کابل ۱۳۹۶

۴. تاريخ امپراطوری غوريان، شاه محمود محمود، پوهنتون کابل، ۱۳۸۹

۵. د سيمو تاريخي جغرافيه، له علامه عبدالشکور رشاد سره مرکې، صديق‌الله بدر، ۱۳۹۶

۶. لرغونی افغانستان، پوهنوال رسول باوري، کابل ۱۳۸۸

۷. درآمدی بر جغرافيای طبيعی افغانستان، محمد عظيم عظيمی، کابل ۱۳۹۱



د کتاب د پښتی انځور او درې نور انځورونه راته ښاغلي جواد طاهري جوړ کړي دي. د کتاب لپاره ځينې عکسونه د وطن تکړه عکاس ښاغلي نجيب الله مسافر راولېږل. ځينې عکسونه ما اخيستي وو او يو څو نور ښاغلي سردار ولي پښتون‌زوی او آغلې مينا زمانې راکړل. د دوی د همکارۍ منندوی يم.

د ماشوم ادبياتو له ملي بنسټ څخه هم منندوی کوم چې کتاب يې راته چاپ کړ.


په مينه او درنښت

محب الله زغم

eilia.org



# جادويي سفرونه

پوره يوه بجه وه. ځيرک له کوټې څخه ووت. شاوخوا يې وکتل. په کراره تکاوې ته ورننوت. تياره وه. څو شېبې د تکاوې له وره سره ودرېد او سترګې يې پټې کړې. له وروسته يې چې سترګې خلاصې کړې، تياره کمه شوې وه. يو دوه ګامه يې واخيستل. پښه يې پر کوم نرم شي ولګېد.

ميووووووو.

پيشو پورته ټوپ کړ. په منډه د تکاوې پر دېوال پورته شوه او له کوچنۍ کړکۍ څخه د باندې وتښتېده.

د ځيرک زړه په درزا شو. د زړه درزا يې په خپله اورېدله. د نيا خبره يې وريادو شوه: «پيشو سره به غرض نه کوې! هسې نه چې پېرى وي.»

شا ته يې وکتل. د وره خوا ته رڼا زياته وه. هلته څوک نه وو.

هسې نه چې پيشو پېرى وي.

زړه يې و چې له تکاوې څخه وتښتي. خو بيا يې د نيا خبره ياده شوه: «تياره ځاى ته چې ځې، بسم الله ووايې. چې بسم الله ووايې، پېريان تښتي.»

ځيرک تر شونډو لاندې کلمه تېره کړه: بسم الله الرحمن الرحيم. بسم الله الرحمن الرحيم.

د زړه درزا يې کمه شوه. لويه ساه يې واخيسته.

اوس يې سترګو ښه کار کاوه. د تکاوې چارچاپېره يې له نظره تېره کړه. وړاندې ولاړ. د وچو لښتو ګېډۍ يې په پښې سره يوې خوا ته پورې ووهله. اوووف! چېرته به يې پټه کړې وي؟

مور يې د ده لېنده پټه کړې وه. خبره داسې وه چې ها بله ورځ ځيرک د ګاونډي شيشه

eilia.org



ماته کړې وه. خو د ده ګناه بيخي نه وه. ده غريب غوښتل چې يوه مرغۍ وولي. مرغۍ د ونې پر ښاخ ناسته وه. ده خو نښه سمه ويشتلې وه خو ته وا چې پېريانو به مرغۍ خبره کړې وي. نژدې وه چې تيږه پرې ولګېږي خو ناڅاپه والوته. نو تيږه همداسې تلــه، تلــه، تله، سيده د ګاونډي د کور پر شيشه ولګېده. ښه نو دا ته يې ووايه، په دې کــې د ځيــرک څه ګناه وه؟

مور يې نو هسې پلمه غوښته. همدا چې د ګاونډې ښځه په جنګ راغله چې زوی دې زموږ شيشه ماته کړې ده، مور يې لېنده ترې واخيسته. زور يې ورباندې وکړ چې ماته يې کړې خو د خدای فضل و چې لېنده ماته نه شوه. د لېندې له رابړ نه يې ونيو او پــه ده بانــدې يې وار کړ. ده ځان بچ کړ. لېنده يې معمولي پر مټ ولګېده خو ده هســې «وی وی وی» چيغې کړې چې مور يې ګومان وکړي ژوبل شوی دی او نور يې ونه وهي. مور يې چيغه کړه: چابک به کور ته ځې! خدای دې خوار که په دې کارونو!

ځيرک کور ته ولاړ. خو د کړکۍ له کونجه يې انګړه ته کتل. مور يې تکاوۍ ته ولاړه. چې بېرته راووته، لېنده ورسره نه وه.

نو خامخا به يې لېنده همدلته چېرته پټه کړې وي.

ځيرک د ژمنيو جامو بوجۍ راپورته کړه. د بوجۍ سر يې خلاص کړ. لاس يې په کــې ور ننه ايست. د بوجۍ چارچاپېره يې لاس وګرځاوه خو لېنده په کې نه وه. بوجۍ يې لانــدې خطا کړه او يوه ټينګه لغته يې ورکړه.

درب شو. له بوجۍ نه ګرد پورته شو.

تر بوجۍ لاندې زوړ اوسپنيز بکس و. د بکس سر يې خلاص کــړ. څــو دانــې ټيمګــي او مرتبانونه په کې وو. د بکس په يوه کونج کې يوه کورتۍ وه. کورتۍ يې پورته کړه.

بې شکه! لېنده يې پيدا کړه.

د لېندې کاسۍ يې ښکل کړه او په غاړه کې يې واچوله.

eilia.org



د بکس سر يې بنداوه چې سترګې يې پر يوه لرګين صندوق ولګېدې. کوچنی صندوق و، د يوې خښتې په اندازه. ځيرک د بکس سر بېرته خلاص کړ. صندوق يې راوايست. د صندوق د سر دوړې يې په لاس وځنډلې. دوړې يې سپږمو ته ننوتې. څو وارې وپرنجېده. له پرنجېدا سره يې د صندوق سر خلاص شو.

ګوري چې په صندوق کې د مرغيو ځالهګۍ ده او په ځالهګۍ کې يوه وړه هګۍ، د کوترې د هګۍ په اندازه.

ځيرک هګۍ په جېب کې واچوله. صندوق يې بېرته په بکس کې کېښود. د بکس سر يې بند کړ. په منډه له تکاوۍ څخه ووت.

کوڅې ته لاړ. يو څو ګردې وړې تيږې يې راټولې کړې. تيږې يې په بل جېب کې واچولې. په کوڅه کې هېڅوک نه و. غرمه وه نو ټول خلک به ويده وو. د اوړي په دې سره غرمه کې به څوک په کوڅو کې ګرځي؟

ځيرک د ونې ځانګو ته وکتل. پاڼې يې دومره ډېرې وې چې ځانګې او ښاخونه يې سم نه ښکارېدل. ځيرک ونې ته ورنژدې شو. بلې خوا ته يې تېر شو. ويې ليدل چې يوه مرغۍ پر لوړه ځانګه ناسته ده. يوه تيږه يې له جېبه راوايسته. د لېندې په کاسۍ کې يې کېښوده. نښه يې ورته برابره کړه. مرغۍ مخامخ ورته کتل. ځيرک د ليندې کاسۍ کش کړه. خو جالبه دا وه چې مرغۍ هماغسې ورته کتل. ښه يې ليدل چې ځيرک يې ولي خو نه الوته.

د دې مرغۍ سترګې بل رقم وې. تر نورو مرغيو غټې. له سترګو نه يې تته شنه رڼا راوتله. مخکې له دې چې ځيرک مرغۍ وولي، ترک ترک ترک غږ يې واورېد.

په جېب کې يې يو شی وښورېده.

ګوري چې په جېب کې يې له هګۍ نه د مرغۍ بچی راوتلی ده. د مرغۍ بچی د ده له جېب نه بهر ته راټوپ کړه. تر څو پورې چې ځمکې ته رسېده، د چرګ په اندازه غټه شوه. ځيرک ته مخامخ پر ځمکه کېناسته. شېبه په شېبه لويېده، د فېلمرغ په اندازه شوه. لا

eilia.org



پسې غټه شوه. د پسه په اندازه شوه. د ځيرک تر اوږو پورې دنگه شوه. بيا يــې لــه ډېرو ښخه وزرې راشنې شوې. وزرې يې ورو ورو لويې شوې. تــه وا ښــوک يــې لــه ښــوکې راکاږي.

اوووه! ښومره لويې وزرې. پوهېږې چې ښومره لوی؟ و به يې نه منې. هــره وزر يــې د کور د يوې پردې په اندازه.

بله به درته وکړم: د مرغۍ وزرې درې رنگه وې. په ډېې پورې لگېدلې برخه يې توره وه، بله ټوټه يې سره او بله يې شنه. تور، سور، زرغون. دا د افغانستان د بېرغ رنگ نه دی؟

ځيرک حيران و چې دا نو ښه رنگه مرغۍ ده. ښنگه يو ناڅاپه دومره لويه شوه او ښنگــه يې وزرې د افغانستان د بېرغ په رنگ دي؟

لا يې بل شي ته پام نه و. د مرغۍ پر سر يوه ججوغه راشنه شوه. ججوغه هم وار په وار سره لويه شوه. د کتابچې د يوې ورقې په اندازه. ججوغه يې د افغانستان نقشه وه.

ښنگه، د حيرانتيا خبره نه ده؟

ځيرک خو سخت حيران شوی و. خوله يې ورته وازه پاتې وه او سترگې رډې راوتلې وې.

سلام ځيرکه!

اووووه! دا يې نو بله. ناڅاپه مرغۍ په خبرو راغله. جالبه دا چې د ځيرک نوم يې هم زده و.

مننه چې زه دې له بنده خوشې کړم. زه دې آزاده کړم. واه! آزادي ښومره خوندي کوي!

ځيرک وويل: ته بندي وې؟

مرغۍ وويل: خود. ښه نو زه به تا ته د دې کار بدل درکړم. تا زه آزاده کړم نو زه به هم يو ښه درکوم. خو اول دا راته ووايه چې دا زما ججوغه وينې؟

eilia.org





ځيرک ځواب ورکړ: هو. دا خو زموږ د وطن نقشه ده.

- آفرين! ښه نو، تا د خپل وطن کوم کوم ځايونه ليدلي دي؟

eilia.org



- ما خو ايله خپل کور او خپل مکتب ليدلی. خو په جغرافيه کې مې د ولايتونو نومونه لوستي دي.
- امممممم! ښه، د يو څو ولايتونو نومونه راته واخله.
- کابل، کندهار، هرات، غزنی، پروان، مزار شريف ...

مرغۍ کټ کټ وخندل.

ځيرک حيران و چې مرغۍ نو ولې خاندي.

مرغۍ وويل: مزار شريف خو ولايت نه دی، د يوه ولايت مرکز دی. د بلخ ولايت مرکز مزار شريف دی. ښه نو، غواړې چې په چکر راسره ولاړ شې او ډېر ښايسته ځايونه وګورې؟

ځيرک په خوشحالۍ وويل: ولې نه. خو که مور راته اجازه راکړي.

مرغۍ وويل: د اجازې غم به نه کوې. هغه ما ته پرېږده. ته راځه پر څټ مې راسپرېږه، بل شي ته به چورت نه وهې.

ځيرک زړه نازړه ولاړ و خو مرغۍ ورته وويل: پر ما باور وکړه.

مرغۍ ټيټه شوه او ځيرک يې پر څټ پښه واړوله.

مرغۍ پوښتنه وکړه: ښه نو، اول کومې خوا ته ورشو؟

ځيرک وويل: ما خو يو ځای هم نه دی ليدلی.

مرغۍ وويل: دا ووايه چې د شمال خوا ته لاړ شو، که جنوب ته، شرق ته، که غرب ته؟ ته خو دا لوري پېژنې، همداسې نه ده؟ شمال کوم خوا ته دی؟

ځيرک وويل: دا څلور لوري پېژنم خو نه پوهېږم چې شمال کوم خوا ته دی. رښتيا ستا نوم څه دی؟

مرغۍ وويل: نوم مې ګل‌وزرې.

eilia.org



ځيرک حيران شو چې دا څه رقم نوم دی. ده د ډېرو الوتونکو او مرغانو نومونه پېژندل: چتکۍ، توتکۍ، کارغه، کوتره، کونگ، باز، شاهين، ملا چرگک، گوربت، ډينگ، هيلۍ، زانه ... خو داسې نوم يې کله هم نه و اورېدلی. دی په همدې چورت کې و چې گلوزرې وويل: گوره! په دې خو پوهېږې چې لمر له کومې خوا راخېژي او کومې خوا ته لوېږي.

گلوزرې داسې ودرېده چې ښۍ وزر يې د لمرخاته خوا ته شوه او چپه وزر يې لمر لوېدو خوا ته. بيا يې وزرې وغوړولې، ويې ويل: ته دې هم لاسونه دواړو خواوو ته وغځوو. اوس را ته غوږ شه. لمر له کومې خوا څخه راخېژي؟

ځيرک ځواب ورکړ: له ښي.

گلوزرې وويل: آفرين! نو ښي لوري ته مو شرق دی. چپ لوری مو چې لمر په کې لوېږي، غرب دی. مخامخ شمال دی او شا ته مو جنوب. پوه شوې؟

ځيرک وويل: بيخي پوه شوم. که لوری را نه ورک شو، داسې به درېږم چې ښی لاس مې لمرخاته ته شي. بيا رامعلومېږي چې چپ لاس ته مې غرب دی، مخې ته مې شمال او شا ته مې جنوب دی.

گلوزرې وويل: آفرين! ته خو په رښتيا چې ځيرک يې. نو اوس به همداسې مخامخ شمال خوا ته والوځوو. تيار يې؟

ځيرک لاسونه د گلوزرې له غاړې تاو کړل. يوه لويه ساه يې واخيسته، ويې ويل: تيار يم.

گلوزرې څو گامه منډې کړې او بيا يې وزرې ورپولې. پښې يې له ځمکې پورته شوې. په هوا شوه. وار په وار سره له ځمکې څخه لرې کېده.

ځيرک سر د گلوزرې د غاړې په بڼکو کې پټ کړی و. باد يې ويښتان د شا خوا ته خوځول. لاسونه يې د گلوزرې پر اورمېږ کلک ټينگ کړي وو.

ټوخه، ټوخه، ټوخه، گلوزرې وټوخل.

ويې ويل: وه ځيرکه! ورمېږ مې ډېر مه ټينگوه. ساه دې راکې بنده کړه.

eilia.org



ځيرک هماغسې چې سر يې د ګلوزرې په ښکو کې ننه ايستلی و، وويل: و به لوېږم.

ګلوزرې وخندل. ويې ويل: مه ډارېږه. نه لوېږې. پر ما باور وکړه. هله نو لاسونه دې لږ سست کړه.

ځيرک ورو ورو ګوتې سستې کړې. سر يې په کراره د ښکو له منځه راوايست. سترګې يې پرانيستې.

اوه!

څومره لوړ!

لاندې کورونه، سړکونه، موټرې او هر څه ډېر کوچني ښکارېدل. موټرې لکه د لوبو موټرکونه چې وي. کورونه لکه هغه کوټنۍ چې ځيرک به د ويالې په غاړه کې له خټو جوړولې. دوی لا هم پورته خوا روان وو. ګلوزرې د ښار له پاسه يوه دوره ووهله او وار په وار پورته تله. کورونه لا پسې کوچني شول. يو وخت شو چې هر کور د اورلګيتو د قوتيو غوندې ښکارېده. د يوې شنې غونډۍ له پاسه تېر شول. غونډۍ په ونو پټه وه او په سر کې يې د افغانستان خورا لوی بېرغ ښکارېده چې باد يې د شرق خوا ته رپاوه. ګلوزرې د شمال لورې ته ځان برابر کړ.

لاندې د کابل هوايي ميدان ښکاره شو. په ميدان کې هليکوپټرې څنګ په څنګ قطار ولاړې وې. ها خوا ته بيا څو لويې الوتکې ښکارېدې. يوه الوتکه د شرق له خوا راروانه وه او وار په وار سره کښته کېدله. هوايي ميدان ته نژدې شوه، نژدې شوه، نژدې شوه او بيا پر ځمکه کېناسته. لومړی خو پر ځمکه تېزه روانه وه خو بيا وار په ورا سره ورو شوه او بيا ودرېده. دا اول ځل و چې ځيرک د الوتکې ناسته ليدله.

يو دم ځيرک ناره کړه: پام، پام!

دوی د غره څوکې ته ډېر نژدې شوي وو. ځيرک ووېرېده چې هسې نه د غره له څوکې سره ولګېږي. خو ګلوزرې سر د آسمان خوا ته نېغ کړ او په چټکۍ سره ډېره زياته پورته لاړه. د غره د څوکې له پاسه تېره شوه.

eilia.org





ځیرک به هر وخت له ځان سره فکر کاوه چې تر غرونو ها خوا به څه وي. اوس يې ليدلی شو. د غره ها خوا ته بيا هواره ځمکه وه، کورونه وو. خو د کابل د ښار غونډۍ نــه چــې

eilia.org



کورونه بيخي ډېر او سره نژدې دي. هلته کورونه خال خال، له يو بله لرې او د کورونو تر منځ پراخې کروندې او باغونه وو.

هلته پاس سوړ باد لګېده. د ځمکې پر مخ هوا ډېره ګرمه وه خو هلته ښه يخه لګېده. ځيرک نور نه ډارېده. لاسونه يې د ګل‌وزرې له غاړې لرې کړي وو. اوس يې لاسونه د ګل‌وزرې د وزرو غوندې دواړو خواوو ته غځولي وو او د وزرو غوندې يې کښته پورته خوځول. ملا يې نېغه کړې وه او سر يې پورته نيولی و. ويښتان يې په باد کې د جنوب خوا ته داسې خوځېدل لکه بېرغ چې باد رپوي. عجيبه خوند يې کاوه.

ګل‌وزرې او ځيرک مخ په شمال په الوت وو.

مازديګر نژدې و. دوی د انګورو د شنو باغونو له پاسه تېر شول. بيا ګل‌وزرې ورو ورو د ځمکې خوا ته راکښته شوه. يو لوی سورور سيند ښکاره شو. په سيند کې ځينو کسانو لمبل او ځينې کسان د موټر د ټيوبونو په منځ کې د اوبو پر سر روان وو.

ګل‌وزرې وويل: راځه چې لږ دمه وکړو.

د سيند غاړې ته کښته شوه او پر پستو شګو کېناسته. ځيرک هم د ګل‌وزرې له شا څخه راکښته شو.

اوه!

ورنونه يې شخ پخ وو ځکه چې دا څو ساعته د ګل‌وزرې پر څټ ناست و او پښې يې سره ارتې نيولې وې. لکه پر آس چې کېنې، د ګل‌وزرې دواړو ډډو ته يې پښې غځولې وې. ځيرک څو شېبې ورو ورو ګامونه اخيستل. څو وارې کېناست او پورته شو. پښې يې کرار کرار سمې شوې. د سيند برې خوا ته يو اوږد، لوړ پل و. له پله دې خوا ته د سيند په غاړه کې له اوسپنې جوړ شوي څپرونه وو چې يو سر يې په وچه کې او بل سر يې د اوبو له پاسه و. ځيرک ځمکې ته ورټيټ شو. موټی يې له پستو شګو ډک کړ. شګې پاکې او نمجنې وې، ذره خاوره او خټه په کې نه ليدل کېده. شګې يې بېرته واچولې. بوټونه يې وايستل. يبلې پښې پر شګو روان شو. د پښو تلي به يې له هر ګام سره په شګو کې لږ لږ

eilia.org



خښېدل، لکه پر سپنج باندې چې وګرځې خو پر شګو ګرځېدل ډېر خونـدور وو. داسـې خوند يې کاوه لکه څوک دې چې د پښو تلي درته چاپي کړي.

ځيرک د اوبو غاړې ته ورغی. اوبه دومره رڼې وې چې د سيند تل اوچت ښکارېده. ګردې ګردې سپينې غټې او وړې تيږې د سيند په تل کې پرتې وې او د تيږو په منځ کـې سـپين چکي واړه کبان ګرځېدل. ځيرک پايڅې پورته کړې او اوبو ته ورګـډ شـو. اوبـه يـې تـر ښنګرو پورې وې. لږ وړاندې ولاړ، اوبه يې تر زنګنو پورې ورسېدې. اوبه ډېـرې نـه وې خو خورا تېزې بهېدې.

ګل‌وزرې پرې غږ کړ: پام کوه ځيرکه!

وړاندې مه ځه. وړاندې اوبه ډېرې دي. تيږو ته هم پام کوه. تيږې ښويې دي، چـې پـرې ونه ښويېږې.

ځيرک وويل: سمه ده.

سيند له غرب څخه د شرق خوا ته روان و. اوبو د شا له خوا د ځيرک پر پښو زور کاوه او دی يې کښته خوا ته ټېله کاوه. ده مخ راوګرځاوه، د غرب خوا ته روان شو. اوس نـو پـه اوبو کې مخ ته تګ سخت و ځکه چې ځيرک پورته روان و او اوبه کښته روانــې وې. نـو ځيرک مجبور و چې د اوبو د زور په مقابل کې پر خپلو پښو زيات زور وکړي.

د سيمې هلکانو او ځوانانو د سيند په منځ کې لامبو وهله. تر لرې ځايه به ولاړل او بيا به له سينده راووتل. بېرته به په پښو راغلل ځکه چې د اوبو د بهير په مخالف لوري يې لامبو نه شوه وهلې.

ځيرک هم له اوبو راووت. يو همزولی ماشوم يې وليد چې کتاب يې په لاس کـې و او پـر شګو ناست و. کتاب يې لوست. ځيرک يې څنګ ته ورغی. هلک د جغرافيې کتاب لوسـت. هغه کتاب بند کړ او په لاس کې يې ونيو. بيا يې پر شګو د جمعې د علامې په شان کرښې وايستې. د کرښو په هر سر کې يې د غشي نښه رسم کړه. يوې خوا ته يـې شرق وليکـه، بلې خوا ته غرب، بل لوري ته شمال او مقابل لوري ته يې جنوب.

eilia.org



ځيرک ورته وکتل. ويې ويل: لوري دې سرچپه ليکلي دي.

هلک وويل: څنګه؟

ځيرک داسې ودرېد چې ښی لاس يې شرق ته برابر شو او چپ لاس يې غرب ته. بيا يې خپل ښی لاس وښوراوه، ويې ويل: ګوره! شرق دې ته طرف ته دی، غرب ها طرف ته. مخامخ راته شمال دی او شا ته مې جنوب.

هلک هم همداسې ودرېد. ويې ويل: ته رښتيا وايې.

بيا کېناست. پر شګو ليکل شوې کلمې يې ړنګې کړې. دا وار يې څلور واړه لوري سم وليکل. ويې ويل: ته د کابل نه راغلی يې؟

ځيرک وويل: هو. دا سيمه څه نومېږي؟

هلک وويل: دا صياد دی. په جغرافيه کې دې د ولايتونو نومونه لوستي دي؟ دا کاپيسا ولايت دی.

ځيرک وويل: ښه، ښه! مرکز يې چې محمود اوراقي دی. نو دا سيند چېرته ځي؟

هلک د شرق خوا ته اشاره وکړه، ويې ويل: همداسې کښته ځي، بيا په نغلو کې د کابل سيند ته تويېږي. دا د پنجشير سيند دی. د سالنګ او غوربند سيندونه هم په کې ګډ دي.

ځيرک وويل: امممم. پوه شوم. ما په جغرافيه کې لوستي وو چې د کابل د سيند يو معاون د پنجشير سيند دی. نو دا هماغه سيند دی.

ګل‌وزرې پر ځيرک غږ کړ: خوښه دې نه ده چې لږ ماهيان درباندې وخورم؟

ځيرک ايله اوس دې ته ورپام شو چې ورړی دی. ويې ويل: ماهيان؟ ولې نه. د همدې سيند ماهيان؟

ګل‌وزرې وويل: خود. د دې سيند ماهيان ډېر تنکي دي او بل رقم خوند کوي.

هلک ځيرک ته رډ رډ کتل. شا و خوا ته يې سترګې وغړولې. ويې ويل: ته له چا سره

eilia.org



خبرې کوي؟

څېرک وویل: له ګلوزرې سره. ولې ته یې نه وینې؟

هلک بیا چارچاپېره وکتل.

ویې ویل: دلته خو څوک نشته.

ګلوزرې کټ کټ وخندل.

څېرک پوه شو چې یوازې دی ګلوزرې لیدلی شي او یوازې دی یې غږ اورېدلی شي.

نو په ګلوزرې پسې روان شو. هغه هلک همداسې په حیرانو سترګو ورته کتل. په زړه کې به یې ویلي وي چې دا کابلی خو سوچ لیونی دی، له ځانه سره غږېږي.

څېرک یوه اوسپنیز ځپر ته وروخوت او پر تخت یې کېناست. هوټلي شاګرد په یوه اوسپنیز غاب کې سره کړي ماهیان له چکنۍ سره راوړل. یوه وچه ډوډۍ هم ورسره. ماهیان واړه او نري وو، د څېرک له اوږدې ګوتې نه دوه برابره غټ. ده د ماهي یوه ټوټه راجلا کړه. د ګوتو په سرونو یې منځ راوسپړه چې لېشې یې راوباسي.

هوټلي هلک وویل: داسې مه کوه. لېشې یې نه ایستل کېږي. دا خو واړه کبان دي او ښه سره شوي هم دي. لېشې یې هم پخې شوې دي. په ډوډۍ کې یې تاو کړه او خوره یې.

څېرک څو ګولې وکړې یو وار یې ورپام شو چې دی خو دومره پیسې نه لري چې د ډوډۍ پیسې پرې کړي نو دا به څنګه شي. د ډوډۍ پیسې به څوک پرې کوي. ګلوزرې چې د ځپر مخې ته ولاړه وه، وویل: د پیسو غم یې مه کوه. ما پرې کړې دي.

څېرک په دې حیران و چې ګلوزرې څنګه پوهه شوې ده چې دی د پیسو په اړه فکر کوي.

ګلوزرې بیا کټ کټ وخندل، ویې ویل: مه حیرانېږه. زه ستا فکر لوستلی شم.

اوه!

eilia.org



دا يې لا بله. هر څه چې د ځيرک په فکر کې ګرځي، ګلوزرې پرې پوهېږي.

ځيرک وويل: ته څه شی نه خورې؟

ګلوزرې وويل: ولې نه. خورم يې. خو زما خوراک بل شی دی. زما خــوراک کيســې دي، کيسې.

- کيسې؟
- هو، کيسې. ځنګه داسې حيران شوې؟

ځيرک په خندا وويل: هاهاهاها! کيسې نو چا خوړلې دي. ته به ټوکې کوې.

ګلوزرې وويل: بس نو زما خو همدا خوراک دي.

ځيرک ډوډۍ خلاصه کړه. بېرته د ګلوزرې پر څټ سپور شو. ګلوزرې والوته. لږ مــزل يې وکړ، بيا يې وويل: وږې يمه.

ځيرک هېڅ و نه ويل.

ګلوزرې خپله خبره تکرار کړه: وه ځيرکه! تا ته وايم. وږې يم. هله نو زما خوراک راکړه، کيسه راته ووايه.

ځيرک وويل: رښتيا وايې؟ ښه. سمه ده. امممم. ته ودرېږه چې رايادہ مې شي.

يو فيل او يو موږک سره ملګري وو. دوی په يوه کور کې اوسېدل. موږک به د کور کارونه کول او فيل به خواړه راوړل. موږک چې د فيل خوراک ته کتل، له ځان سره يې ويل چې دا فيل څومره ډېر خوراک کوي. راځه ته هم ډېر خوراک وکړه. يوه ورځ يې په خوراک پيــل وکړ. ويې خوړل، ويې خوړل، ويې خوړل. يو وخت يې نس دومره وپړسېد چې ساه يې نه شوه ايستلې. نس يې ډډ شوی و او سخت خوږېده. دی همداسې ستونی ســتغ پــروت و. بيخي خوځېدای نه شو. پر ځمکه پروت و او زګيروي يې کول. فيل يې زګيروي واورېدل. په منډه راغی. موږک يې په خرطوم کې ونيو او د ځنګله ډاکټر ته يووړ. بيزوګی د ځنګله ډاکټر و. هغه موږک ته دوا ورکړه او ورته ويې ويل: نور به په خوراک کې احتياط کوې.

eilia.org



موږک وویل: نو فیل خو هم ډېر خوراک کوي، هغه ولې نه مریضېږي.

بیزو ورته وویل: اورېدلي دي نه دي چې د فیل خوراک د فیل کولمې غواړي.

ګلوزرې کټ کټ په خندا شوه. هاهاهاهاها

بیا یې ویل: ښه نو، دا ټوکه خو به دې په ما پورې نه وي کړې. زما خوراک خو هم درته عجیب ښکاره شو، کنه؟

ځیرک ځواب ورکړ: نه نه، هسې دا کیسه رایاده شوه.

آفرین! ښکلې کیسه وه. اوس نو مَړه شوم. زه هغه ستا د کیسې د موږک په شان ډېر خوراک نه کوم. په هر الوت کې مې یوه کیسه بس وي.

لمر لا نه و ناست چې ګلوزرې او ځیرک پنجشیر ته ورسېدل. تنګه دره، په منځ کې یې سیند او د سیند یوې خوا ته نرۍ سړک، بلې خوا ته یې څو پټي، د توت ونې او د غره په ډډه کې د خلکو کورونه. سیند نو داسې مست بهېده چې د شرهارو غږ یې له لرې اورېدل کېده. دا سیند له شمال څخه جنوب خوا ته روان و. څو ځوانان په وړو نریو بېړیو کې ناست وو او د بېړۍ چلولو مسابقه یې کوله. د دوی په لاسونو کې بېلچې وې او په بېلچو به یې د بېړۍ لورې سماوه. کله به چې بېړۍ کومې پرښې یا د سیند څنډې ته نژدې شوه، دوی به بېلچه هماغه خوا ته وهله چې بېړۍ بلې خوا ته ټېله شي.

ګلوزرې د سیند پر غاړه کېناسته. هلته یو سپین ږیری بزګر له خپلې مېرمنې سره ناست و. په وړو پیالو کې یې شین چای اچولي وو او پر دسمال باندې تلخان ایښي وو. د چایو په لیدو ځیرک ته هم وریاده شوه چې تږی دی. ده ماهیان خوړلي وو او بیا یې چای نه و څښلی.

سپین ږیري بزګر ورته د چایو ست وکړ. دی هم ورسره کېناست.

د بزګر مېرمنې ورته تلخان ورکړ. عجب خوند یې کاوه.

ځیرک پوښتنه وکړه: تلخان له څه شي جوړېږي؟

eilia.org



سپین سرې ښځې وویل: بچو! دا د وچو توتانو نه جوړېږي. توتان چې وچ شي، بیا یې اوړه کوو او د وریتو شویو غنمو له اوړو سره یې ګډوو. وروسته یې سره ټکوو چې کلکې چکۍ ترې جوړې شي.

ځیرک پوښتنه وکړه: ښه نو. دا خو په آسانه نه جوړېږي. دې ځای ته ولې پنجشېر وایي؟

سپین ږیري ښځې ته وکتل، ویې ویل: واه! دا څومره هوښیار هلک دی.

بیا یې ځیرک ته مخ واړاوه، ویې ویل: ګوره بچی! په دې خو پوهېږې چې پنج یعنې پنځه او شېر هم زمري ته وایي. نو پنج شېر یعنې پنځه زمریان. په پخوا زمانو کې یو پاچا و چې سلطان محمود غزنوي نومېده. هغه په غزني کې و. هلته یې د اوبو یو بند جوړاوه. نو د وطن هر ځای ته یې احوال ولېږه چې کاریګر ورولېږي. زموږ له سیمې نه یوازې پنځه تنه ورغلل. پاچا چې خبر شو، ویې ویل له نورو ځایونو پنځوس کسه، سل کسه راغلي دي، ستاسو له سیمې ایله همدا پنځه تنه راغلي؟

دوی ورته وویل: خیر دی. موږ تکړه کاریګر یو. موږ به د پنځوسو کسانو په اندازه کار وکړو.

دوی په رښتیا چې ډېر تکړه کاریګر وو. په رښتیا یې هم د پنځوسو کسانو په اندازه کار کاوه. سلطان محمود چې د دوی کار ولید، ویې ویل: دوی پنځه کاریګر نه دي، پنځه زمریان دي. بیا نو زموږ د سیمې نوم پنجشېر شو.

ځیرک وویل: څومره ښه. نو هغه بند اوس هم شته؟

سپین ږیري وویل: هو. اوس هم شته. بند سلطان نومېږي.

د ځیرک په زړه کې ورتېر شول چې کاش بند سلطان هم ووینې.

د ګل‌وزرې غږ یې واورېد: غم یې مه کوه. ور به شو. بند سلطان به هم ووینې.

ځیرک او ګل‌وزرې والوتل. دا وار نو ځیرک دې ته معطل نه شو چې ګل‌وزرې ورنه خپل خوراک وغواړي. پخپله یې کیسه شروع کړه:

eilia.org



باد او باران په خپلو کې خبرې کولې. باد ویل زه زورور یم. زه ونې ماتولی شم، کورونه ړنګولی شم، ګرد او دوړې هوا ته پورته کولی شم.

خو باران ویل زه زورور یم. زه سېلاب راوستی شم. زه کورونه، باغونه او کروندې ورانولی شم.

باد وویل: نو راځه چې خپل زور معلوم کړو. هاغه بوډا وینې چې په دښته کې روان دی؟

هر چا چې د دې سړي څادر ایسته کړ، هغه تکړه دی.

باران وویل سمه ده. اول ته خپل زور وکړه.

باد والوت. د سړي په لوري په منډه ورغی. خو هر څومره زور يې چې وکړ، سړي خپل څادر هماغومره کلک ونیو. باد ډېره خواري وکړه خو د بوډا څادر یې لرې نه کړای شو. آخر باد ستړی شو. زور یې وخوت او کرار کېناست. باران ته یې وویل چې اوس نو ستا وار دی.

باران په ورېدو شو. بوډا څادر پر سر ونیو او له ځانه یې تاو کړ. باران هم ډېر زور وکړ. کله سیده ورېده کله کوږ. خو ناکامه شو. باران هم ستړی ستومانه بېرته ورېځو ته ولاړ.

په دې وخت کې لمر راغی. په موسکا سره یې وویل: اوس نو زما کمال وګورئ.

بوډا د لمر په راتلو خوشحاله شو. پر یوې ډبرې کېناست او خپل څادر یې د تېږو پر سر هوار کړ چې وچ شي. پخپله هم لمر ته کېناست چې جامې وچې کړي.

ګل‌وزرې وویل: ډېر ښه. څومره ښه کیسه وه. ښه نو، د دې کیسې مطلب څه دی؟

ځیرک وویل: امممم. خو همدا یې مطلب دی چې هر کار په زور نه کېږي.

ګل‌وزرې وویل: آفرین! او بله معنا به یې دا وي چې یوازې زور مهم نه دی. مهرباني او ګټه رسول او ښه کول مهم دي. بوډا ځکه خپل څادر لمر ته واچاوه چې لمر ورته څادر وچاوه او ګټه یې ورته رسوله.

eilia.org



دوی د ګڼو غرونو له پاسه تېرېدل. هرې خوا ته غرونه وو. د يوه غره له پاسه د اوبو لوی ډنډ و. ګل‌وزرې د اوبو پر غاړه کېناسته. ځيرک حيران و چې د دومره لوړ غره پـر سر د اوبو ډنډ به چا جوړ کړی وي.

خو دا ډنډ چا نه و جوړ کړی. دا طبيعي ډنډ و چې د واورو اوبه پـه کـې راټولېـدې. لمـر لوېدلی و او ورو ورو تياره خپرېدله.

ګل‌وزرې پوښتنه وکړه: ښه نو، د پنجشېر په معنا پوه شوې؟

ځيرک وويل: هو. جالبه کيسه يې وه.

ګل‌وزرې وويل: خو يوه بله به زه درته وکړم. په پخوا وختونو کې دا ځای پنجهېر نومېده. پنج خو هماغه پنځه ده او هېر يعنې غر معنا دا چې پنځه غرونه. دا په دې چې دلته پنځه کنډاوونه دي. داسې هم ويل کېږي چې هېر د اوبو او سيند معنا لري، دلته پنځه کـوچني سيندونه سره يو ځای کېږي او د پنجشېر سيند جوړوي. په پخوانو کتابونو کـې راغـلي دي چې دلته د سپينو زرو کان و خو اوس د پنجشېر زمرد ډېر مشهور دی. دلته د زمردو کانونه دي. اوه! څنګه ربړد اخيستی يې؟ راځه، زما په بڼکو کې پټ شه.

ځيرک چې له يخه رېږدېده، د ګل‌وزرې تر وزر لاندې ننوت. ګل‌وزرې وزر راټوله کړه او ځيرک يې په خپلو نرمو ګرمو بڼکو کې پټ کړ. پخپله يې هم سر د بلې وزر لاندې کـړ او دواړه ويده شول.

د ګل‌وزرې بڼکې دومره پستې او دومره تودې وې چې ځيرک تر سهاره پورې په خـواږه خوب ويده و. لمر راختلی و خو ځيرک لا ويده و. ګل‌وزرې ورباندې غږ وکړ: ځيرکـه! وه ځيرکه! جګ شه چې لمر راختلی دی. ټوله دنيا رڼا رڼا ده.

ځيرک په خوبولي غږ وويل: مورې! پرې مې ږده. پرېږده چې خوب وکړم. مکتبونـه خـو رخصت دي.

ګل‌وزرې کټ کټ په خندا شوه.

eilia.org



ځيرک حيران و چې د مور غږ يې څنګه بدل شوی دی.

سر يې اوچت کړ. ګوري چې د ګلوزرې تر وزر لاندې پروت دی.

ګلوزرې وويل: نه، نه، نه! مور به دې هېڅ اندېښنه و نه کړي. ما خو درته وويل چې پـر ما به باور کوې.

ځيرک وويل: زه خو دا ټوله شپه په کور کې نه وم نو مور او پلار به مې څنګه اندېښنه نه کوي؟

ګلوزرې ځواب ورکړ: ګوره! څنګه چې ستا فکر لولم، د هغوی حال هم رامعلوم دی. زما او ستا سفر اوږد دی. که غواړې چې خپل وطن ووينې نو د کور سودا به نه کوې. بيا هم در ته وايم، پر ما باور ولره. هر څه به سم وي.

ځيرک د هغه خبره ومنله او له ځان سره يې وويل چې نور به اندېښنه نه کوي.

ګلوزرې وويل: په سبناري کې څه شی خورې؟

ځيرک وويل: مور خو مې هر سهار شيدې ابشوي. وايي شيدې د بدن ودې ته ګټه لري او هډوکي کلکوي.

ګلوزرې وويل: بالکل ښه وايي. خو زه به بل رقم شيدې دربانديې وڅښم «شـور چـای». هله نو راوخېژه چې والوځو.

ځيرک د ګلوزرې پر څټ سپور شو. ګلوزرې د غره پر سر څو ګامه منډې کړې او بيا په هوا شوه.

اوه!

څومره ډېر غرونه!

يو نه، دوه نه، لس نه، سل نه، سلګونه غرونه وو چې يو د بل په څنګ کې او يـو پـه بـل پسې پراته وو. خو غرونه له پاسه داسې نه ښکارېدل چې له ځمکې څخـه ښـکاري. لـه

eilia.org



هوارې ځمکې څخه چې غره ته ګورې، ډېر لوړ در ته ښکاري خو له پاسه، له هوا څخه بيا د کوچيانو د کېږديو غونډې معلومېږي، لکه ډېرې کېږدۍ چې سره څنګ په څنګ جوخت درول شوې وي او ته له پاسه ورته وګورې. ځينې غرونه تور، ځينې زېړ بخون، ځينې نسواري او ځينې سپينچکي وو.

پاس هوا يخه وه. د ځيرک ستمی کېده. ساه يې ډوبېده.

ګلوزرې ورته يو ماسک ورکړ. په ماسک پورې يو نری پيپ تړلی و، لکه د سيروم پيپ.

ګلوزرې وويل: دا دې په خولې او پوزې پورې ونيسه. دلته د هوا آکسيجن کم دی. په دې ماسک کې به آکسيجن درشي.

ځيرک چې څنګه ماسک وتاړه، پششششش، نری باد يې سپږمو ته ورننوت. ساه يې ورسره سمه شوه.

ګلوزرې وويل: څومره چې له ځمکې څخه پورته ځې، هماغومره آکسيجن کمېږي ته خو پوهېږې چې آکسيجن څه شی دی، همداسې نه ده؟

ځيرک وويل: هو. په بيولوژي کې مې لوستي دي. انسان بې آکسيجنه ژوند نه شي کولی. موږ آکسيجن اخلو او کاربن ډای اکسايډ هوا ته خوشي کوو خو ونې بوټي بيا کاربن ډای اکسايډ اخلي او آکسيجن خوشي کوي.

دوی وار په وار سره پورته تلل. ډېر مزل يې وکړ. بيا ګلوزرې د يوه غره پر لوړه څوکه کېناسته. داسې ښکارېدل چې نور غرونه او نورې څوکې ټولې تر دې څوکې ټيټې وې.

ځيرک د ګلوزرې له شا څخه راکښته شو. متې يې دواړو خواوو ته پرانيستې. سر يې شا ته او سينه يې مخې ته راوايسته. لويه ساه يې واخيسته. ويې ويل: څومرررررره لوړ!

ګلوزرې وويل: تا خو به د «نو شاخ» نوم اورېدلی وي؟

ځيرک وويل: هو. په جغرافيه کې مې لوستي دي. نو شاخ د افغانستان تر ټولو لوړه څوکه ده، د هندوکش په غرونو کې او ۷۴۸۵ متره لوړه ده.

eilia.org



اوه! لکه چې همدا د نو شاخ څوکه ده؟

ګلوزرې وویل: خود.

ځیرک څو وارې هوا ته ټوپونه ووهل. ویې ویل: باور مې نه کېده چې زه بـه د نــو شــاخ څوکه ووینم.

ګلوزرې وخندل: ډېر نور شیان به هم ووینې. ما سره چې ګرځې، داسې مزې به کوې.

ځیرک په خندا وویل: تا دا کیسه اورېدلې ده؟

- کومه کیسه؟
- زه به یې در ته ووایم.
- سمه ده. خو راځه چې والوځو. په لاره کې به یې راته ووایې. ما ویـل تـر هغــې پورې چې تا چای نه وي څښلی، زه به هم خپل خوراک در نه نه غواړم خو ته یې چې پخپله راکوې نو دوا مې شه.

دواړه بیا په هوا شول.

ځیرک کیسه شروع کړه: وایي یو کنجوس له چا سره ملګری شو. هغه یې ټولــه ورځ وږی تږی په بازار کې وګرځاوه. مازدیګر و چې په لاره کې یې یو دانه نخود پیدا کړ. نخود یې له ځمکې راپورته کړ. ګردونه یې پو کړل. بیا یې په منځ کې نیم کړ. نیم یې خپلې خولې ته واچاوه او نیم یې ملګري ته ورکړ. ویې ویل: موږ سره چــې ګرځــې، داسې مزې به کوې.

ګلوزرې له خندا شنه شوه. ویې ویل: ښه نو داسې! زه در ته کنجوسه ښکاره شــوم کــه څنګه؟

ځیرک په خندا وویل: نه، نه. هسې ستا په خبرې پورې رایاده شوه.

تر یو څه مزله وروسته، داسې لوړو غرونو ته ورسېدل چې لا هم پــه واورو پوښــلي وو. ځیرک حیران شو چې په دې اوړي کې نو واورې له کومه شوې.

eilia.org



ګلوزرۍ وويل: مه حيرانېږه. دا د پامير غرونه دي، بدخشان. دغه ځای د دنيا بام بلل کېږي. دا په دې چې ډېر لوړ دی. دلته له يوه ژمي څخه تر بل ژمي پورې واره پاتې کېږي.

ګلوزرۍ د پامير د غرونو پر سر دوره وکړه او لږ لږ راښکته شوه. دومره راښکته شوه چې نژدې وه د ځيرک پښې له تيږو سره ولګېږي. د غرونو په سر په يوه ځای کې چې د غره په نيمايي کې و او واوره په کې نه وه، ګردې خيمې ښکاره شوې. يو سړی چې پوستينه يې اغوستی و او پر سر يې د وړيو لويه خولۍ وه، له يوې خيمې څخه راووت. لږ ها خوا ته په يوې ونې پورې يوه غوا تړلې وه. غوا هم په اوږدو وړيو کې داسې پټه وه لکه د هغه سړي پوستينه يې چې اغوستې وي. د غوا وړی دومره اوږدې وې چې غولانځې يې هم په کې پټې وې او سمې نه ښکارېدې.

ګلوزرۍ وويل: دا خلک قرغزان دي. دوی په همدې يخ کې دلته اوسېږي. ژبه يې قرغزي ده. ښه وړی شوی به يې. بس لږ مزل پاتې دی. لږ وروسته به شورچای وڅښې.

eilia.org





د پامير غرونه، بدخشان، د قرغزانو کېږدۍ

بيا د غرب خوا ته راتاو شوه. ښه وړاندې ولاړه او بيا د شمال خوا تــه وگرځېـده. د گڼــو غرونو په منځ کې په يوه دره کې ورو ورو راښکته شوه.

له هوا څخه داسې معلومېږي چې د غرونو په منځ کې به هېڅ شی نه وي او ټول غرونــه به په يو بل پورې نښتي وي خو د غرونو په منځ کــې درې وې او پــه درو کــې هــوارې ځمکې، پټي، کورونه او سيندونه.

eilia.org



ګلوزرې وار په وار سره ځمکې ته نژدې کېده. د يوه کور په انګړ کې يوې ښځې له تناره څخه کولچې راايستلې. ګلوزرې د همدې کور په انګړ کې کېناسته. ځيرک ته يې وويل: تا ته ښه اشتها غواړم. شورچاى به له کولچو سره تيار وي.

ښځې له تناره څخه يوه چايجوشه راوايسته. مخ يې د کور خوا ته کړ او نــاره يــې کــړه: شريف بېګه! راشه دا کولچې يوسه.

په دې وخت کې يې سترګې پر ځيرک ولګېدې. ويې ويل: اوهوووو! دا کوچنى مېلمــه لــه کوم لوري راغلى دى؟

ځيرک وويل: دى له لرې وطنو څخه راغلى دى. لکه شاهين له کابل څخه په هوا شوى او دلته راغلى دى.

ځيرک وړاندې لاړ، سلام يې وکړ. ويې ويل: ترورې! زه ځيرک يم. له کابل نه راغلى يم.

له شا څخه يې د يوه هلک غږ واورېد. نو سترى مه شې، د لوړو غرو شاهينه!

ځيرک شا ته وکتل. د ده په عمر يو سپين رنګى ښايسته هلک و.

ځيرک سخت وږى شوى و.

ټول کوټې ته ننوتل. د ټغر په شان له وړيو څخه اوبدل شوى دسترخوان هوار شــو. پــه تناره کې پخې شوې تودې کولچې ورباندې کېښودل شوې. د تازه او تودو تنوري کولچو وږم هوا ته پورته شو. اوه! عجب خوندور وږم يې و او په ځيرک خو لا زيات ښه پــه دې لګېده چې سخت وږى شوى و.

ښځې په پيالو کې شورچاى واچول. پيالې د وړو کاسو په شان وې خــو لاســتي يــې نــه درلودل. شورچاى ښه ټينګ او خوندور و. ځيرک خپله پياله راپورتــه کــړه. سره وه. خــو وارې يې پوکى ورکړ چې چاى لږ سوړ شي. بيا يې يو کوچنى غوړپ ورنه وکړ. د شــيدو او کوچو خوند يې کاوه خو مالګين و. يوه کولچه يې ماته کړه او يوه ټوټه يې خولې تــه کړه. ورپسې يې د شورچاى غوړپ وکړ.

eilia.org



امممم!

د شورچای اصلي خوند نو اوس ښکاره شو. له کولچې سره یې بل رقم ښه خوند کاوه.

د ځیرک پیاله په څو شېبو کې تشه شوه.

د کور مېرمن ورته موسکۍ شوه. پیاله یې بیا ورته ډکه کړه.

ځیرک پوښتنه وکړه: ترورې! دا شورچای څنګه جوړېږي؟

ښځې وویل: اول تورچای ښه اېشوو چې رنګ وباسي، بیا شیدې ورسره ګډوو. بیا میده شوي غوزان او کوچ هم په کې اچوو چې خوند یې ښه شي او د بورې په ځای مالګه په کې اچوو.

شریف بېګ وویل: زموږ خلک ټوله ورځ سخت کارونه کوي خو شورچای چې وڅښي بیا ژر نه ورږي کېږي. دا ډېر قوي شی دی.

ځیرک ورته وویل: زه او ته به سره ملګري شو. یو ځای به لوبې وکړو. یو ځای بــه درس ووایو.

شریف بېګ وویل:

تویت ازېد وزم ازود

تویت شاهین وزم چبود

بیا یې وخندل او ویې ویل: څنګه داسې حیران حیران راته ګورې؟ دا زموږ په ژبه، یعنــې په شغناني ژبه یو شعر دی چې وایي: ته د هغې خوا یې، زه د دې خوا یم/ ته شاهین یې، زه کورکوړۍ یم.

نو زما او ستا ملګرتیا نه کېږي. ته لکه شاهین له لرې وطنو څخه راغلی یې او بېرتــه بــه لاړ شې.

ځیرک په خندا وویل: اوه! ستاسو ژبه څومره خوږه ده. دا شعر دې هم ښکلی و خو موږ

eilia.org



بیا داسې وایو:

مینه په تلو راتلو زیاتېږي

کله راځه، کله به زه درځم مینه

ښه نو تا ویل چې ژبه مو شغناني ده نو دا ځای به هم شغنان وي او د شیوا جهیل به هم همدلته وي. یوه ورځ زما خور خپل کتاب په لوړ غږ لوسته، ما واورېدل چې په شغنان کې د شیوا په نوم یو لوی جهیل دی. هغه به چېرې وي؟

شریف بېگ وویل: هغه زموږ له کوره ډېر لرې دی.

ځیرک وویل: راځه چې ورشو، ویې گورو.

شریف کټ کټ وخندل: زه څه وایم او دمبوره مې څه وایي. زه وایم هغه ځای ډېر لرې دی، ته وایې راځه چې ویې گورو.

ځیرک د هغه لاس ونیو، ویې ویل: راځه!

په ځان پسې یې راوښکاوه. له کوټې ووتل.

ځیرک چې خپل بوټونه په پښو کول، ویې ویل: اوهو! دا ستا بوټونه څومره جالب دي. لرگین بوټونه مې نه وو لیدلي.

شریف بېگ موسکی شو او ویې ویل: خوښ دې شول؟ دا بوټونه زموږ خلک پخپله جوړوي. موږ کاشوغې، څمڅۍ او کاسې هم له لرگیو جوړوو.

دواړه د انگړ کونج ته ورسېدل.

ځیرک گلوزرې ته وویل: زه او ملگری مې غواړو چې شیوا جهیل ته ورشو.

په دې وخت کې یې ورياده شوه چې گلوزرې خو یوازې ده ته ښکاره کېږي او نور څوک یې نه شي لیدای.

eilia.org



شریف بېګ ده ته رډې سترګې نیولې وې.

ځیرک ورته د ګل‌وزرې کیسه وکړه او پوه یې کړ چې و نه وېرېږي.

ګل‌وزرې شریف بېګ ته هم ځان ښکاره کړ.

شریف بېګ څو شېبې همداسې حیران حیران کتل. بیا وړاندې ولاړ او د ګل‌وزرې پر وزر یې لاس تېر کړ.

ځیرک او شریف بېک دواړه د ګل‌وزرې پر څټ سپاره شول. ګل‌وزرې په هـوا شـوه څـو ویې ویل: ګوره ځیرکه! اوس چې دوه تنه شوئ، زما خوراک به راډېروئ ځکه چې زه بـه زیاته انرژي مصرف کړم.

ځیرک وویل: سمه ده. غم یې مه کوه. زه لکه هغه کنجوس سړی نه یم چې نیم دانه نخود به درکوم.

ټولو کټ کټ وخندل او بیا ځیرک کیسه شروع کړه:

وایي یوه چونګښه او یوه کوتره سره ملګرې شوې. څو چونګښه به چې له اوبو راووتـه، کوتره به نه وه او چې کوتره به د اوبو غاړې ته ورغله، چونګښه به په اوبو کـې وه. نـو لیده کاته به یې چنداني نه کېدل.

یوه ورځ چونګښې وویل: ګوره! زه به یو تار په خپلې پښې پورې وتړم. د تار بل سر بـه په وچه کې پروت وي. هر کله چې راغلې، تار کش کړه، زه به له اوبو څخه راوځم. دا بـه مو د ملګرتیا تار وي.

دوی همداسې وکړل. بله ورځ کوتره راغله. چونګښه نه وه. کوترې تار په مښوکه کې ونیو او څو وار یې راکش کړ خو د چونګښې درک معلوم نه شو. کوترې له ځان سره فکر وکړ چې راځه دا تار دې په پښې پورې وتړه، لړه والوځه چې چونګښـه لـه اوبـو راوباسـې. کوترې سر ټیټ نیولی و او په پښې پورې تار تاړه چې په همدې وخت کـې یـو شـاهین راغی. کوتره یې په منګولو کې ونیوه او په هوا شو. شاهین چې کوتره ښه پورتـه یـوړه،

eilia.org



چونگښه هم ورسره په هوا شوه.

له هغې خو یو کارغه راروان و. په هوا کې د چونګښې په لیدو حیران شو. پوښتنه یې وکړه: خیر خو به وي، ته په هوا کې څه کوې؟

چونګښې وویل: پوښتنه مه کوه. بس د یارانې په تار کې بند یم.

شریف بېک وویل: ښه نو. اوس ته چونګښه یې که زه؟

ګل‌وزرې، شریف بېک او ځیرک درې واړو وخندل.

ګل‌وزرې وویل: څومره جالبه! پوهېږې، داسې کیسې لکه شورچای مزه کوي او ستا غبږ هم لکه تنوري کولچې. خیر یوسې، پوره انرژي مې واخیسته. تر شیوا پورې به نه وږې کېږم.

دوی د جنوب خوا ته روان وو. چې ښه مزل یې وکړ، ځیرک وویل: اوهووو! څومره ډېرې اوبه!

د شنو اوبو ډېر لوی ډنډ و.

eilia.org





د شیوا جهیل، بدخشان

ګلوزرۍ وویل: همدا شیوا ده. موږ په ښه وخت کې راغلي یو چې کنګلونه وېلي شوي دي. دلته یوازې د اوړي په دریو میاشتو کې کنګل نه وي، نور نو د کال په نهو میاشتو کې دا اوبه یو مخ کنګل وي.

ګلوزرۍ پر اوبو کېناسته او لکه بېړۍ په اوبو کې روان شوه.

ځیرک او شریف ببک یوې خوا ته ځانونه کاږه کړل. لاسونه یې تر مړونده پورې په اوبو کې ننه ایستلي وو.

اوه! څومره یخې وې.

ځیرک ګلوزرۍ ته کړه: ته خو ډېر کمالونه لرې. لامبو دې هم ښه زده ده.

ګلوزرۍ وویل: دا خو ده. او په اوبو کې غوټې وهل مې هم زده دي. غوټه په کې ووهم؟ هاهاها

eilia.org



ځيرک چيغه کړه: نه، نه!

ګل‌وزرې په خندا وويل: مه ډارېږه، هسې مې ټوکه وکړه.

ځيرک وويل: هغه د اوښ او ګېدړې کيسه دې رایاده کړه. وايي اوښ او ګيدړه سره ملګري وو. يوه ورځ پاليز ته ولاړل چې خټکي وخوري. ګيدړې ژر ژر خټکي وخوړل او مَړه شوه خو اوښ لا نه و موړ شوی. ګيدړې وويل: زما خو عادت دی چې نس مې مـوړ شي، بيـا شپېلکۍ وهم.

اوښ وويل: پام چې دا کار ونه کړې. د پاليز څښتن به راويښ شي، دواړه به مو وډبوي.

ګيدړې وويل: زه خپل عادت نه شم بدلولی.

په همدې کې يې نارې پيل کړې او پخپله وتښتېده.

اوښ لا سم نه و جګ شوی چې د پاليز څښتن راورسېد او ښه يې وډباوه.

اوښ غريب په منډه وتښتېد. ښه لرې ولاړ. ګوري چې ګيدړه د سيند په غاړه ولاړه ده.

ګيدړې وويل: اوښ لالا! ښه شو چې راغلې. زه خو له اوبو نه شم پورې کېدای، نو ته بـه مې پورې کوې.

اوښ ګيدړه په شا سپره کړه. د سيند منځ ته چې ورسېد، ويې ويل: زما خو عادت دی چې د سيند منځ ته ورسېږم، يوه غوټه وهم.

ګيدړې چيغه کړه: پام! پام! زما خو لامبو نه ده زده، ډوبه به شم.

اوښ وويل: زه خو خپل عادت نه شم بدلولی. په ما يې څه چې ډوبېږې که نه ډوبېږې.

ګيدړه پوهه شوه چې له اوښ سره يې بايد ناځواني نه وای کړې. نو بخښنه يې وغوښته.

ګل‌وزرې او شريف ببک له خندا شنه شول.

ګل‌وزرې وويل: ياره ځيرکه نو! له خندا دې مړ کړم. هاهاهاها

eilia.org



وايم آفرين دې! په هرې خبرې پورې دې خامخا يوه كيسه زده وي.

جهيل دومره لوی و چې سر او پای يې نه معلومېدل.

پوهېږې چې څومره لوی و؟

۱۱ كيلومتره اوږد او ۸ كيلومتره سورور و. ته خو به خامخا په دې پوهېږې چې يو كيلومتر زر متره دی نو اوس فكر وكړه چې يوولس كيلومتره به څومره اوږد وي.

دوی د جهيل سيل وكړ او بيا بېرته په هوا شول.

ځيرک شريف بېک ته مخ واړاوه او ويې ويل: ملګريه! ژرنده كه د پلار ده، هم په وار ده. اوس نو ستا وار دی چې يوه كيسه راته ووايې.

شريف بېک لږ چورت وواهه او بيا يې وويل: سمه ده. د چوغكې كيسه به درته وكړم.

يوه چوغكه وه چې پر اغزيو باندې به كېناسته. يوه ورځ يې مشكنې د اغزيو په منځ كې ولوېدې او دې چې هر څه خواري وكړه، وا يې نه شوې اخيستی.

چوغكه اور ته ورغله. ورته ويې ويل: ته راشه په لمبو دې اغزي وسوځوه چې زه مې مشكنې واخلم.

اور ورته وويل: زه به ولې دا وچ لرګي نه سوځوم چې له تا سره به ځم او لانده اغزي به سوځوم.

چوغكه اوبو ته ولاړه چې راشه اور مړ كړه چې زما خبره نه مني. خو اوبو وويل: زه به ولې په ويالو كې نه بهېږم چې له تا سره به ځم او اور به مړ كوم.

چوغكه ولاړه غوا ته. ورته ويې ويل: له ما سره لاړه شه، اوبه وڅښه ځكه چې هغه زما خبره نه مني.

غوا ورته وويل: زه هېڅ تږې نه يم.

چوغكه لېوه ته ولاړه چې راشه دا غوا وخوره.

eilia.org



لېوه وویل: زه هېڅ وږی نه یم.

چوغکه ښکاري ته ورغله چې راشه لېوه وول‌ه.

هغه وویل: اوس مې ښکار ته زړه نه کېږي.

چوغکه موږک ته ورغله چې راشه د ښکاري د ټوپک بند وخوره.

موږک وویل: ما ته خوب راځي.

چوغکه پیشو ته ولاړه چې راشه موږک وخوره.

پیشو وویل: نس مې موړ دی.

چوغکه نجونو ته ورغله چې راشئ پیشو ووهروئ.

نجونو وویل: موږ خپلې انا ته وږی تاوو.

چوغکه باد ته ورغله چې راشه والوځه او د نجونو وږی په هوا کړه.

باد د چوغکې خبره ومنله. باد والوت او د نجونو وږی یې په هوا کړې. نجونو پـه وږیـو پسې منډې کړې. پیشو له دوی څخه ووېرېده او منډه یې کړه د موږک خـوا تـه. مـوږک ورنه وتښتېد او د ښکاري کور ته ولاړ. ښکاري ټوپک پورته کړ چې موږک یې بنـد و نـه خوري. ښکاري په لېوه پسې ووت. لېوه وتښتېد او د غوا خوا ته یې منډه کړه. غوا منـډې کړې، منډې کړې، تږې شوه. ولاړه چې اوبه وڅښي. اوبه ورنه د اور خوا ته ولاړې. اور د اغزیو خوا ته ولاړ. اغزیو اور واخیست. اغزي پاک وسوځېدل. چـوغکې خپلــې مشــکنې واخیستې او والوته.

ځیرک وویل: امممممم! دا کیسه خو بیخي نوې وه. ما نه وه اورېدلې.

گل‌وزرې وویل: او ښکلې هم وه. آفرین شریف بېکه!

ځیرک او گل‌وزرې شریف بېک تر کوره پورې ورساوه. ځیرک د شریف بېک له مور څخه د شورچای او کولچو په خاطر مننه وکړه. گل‌وزرې او ځیرک والوتل او شریف بېـک تـر

eilia.org



ډېره وخته پورې ورته کتل او لاس يې ور ته ښوراوه.

ګلوزرې د ښکلو شنو درو له پاسه چې د پنج سيند په خوا کې غځېدلې وې، الوت کـاوه. په لاره کې يې ځيرک ته د لاجوردو، لعلو، او اورلګيتو کانونه وښودل. ځيرک په جغرافيـه کې لوستي وو چې د بدخشان لاجورد د کيفيت په لحاظ په ټوله دنيا کې اول مقام لري.

له ډېر مزله وروسته دوی داسې ځای ته ورسېدل چې د پنج سيند له کوکچې سـيند سره يوځای کېده او د آمو سيند ورڅخه جوړېده. آمو نو بيخي ډېر لوی سيند و. ځيرک پخـوا داسې سيند نه و ليدلی. د کوکچې او پنج سيندونو تر منځ يوه ورانه کنډه کپـره غونـډۍ وه.

ګلوزرې پر غونډۍ کېناسته او ويې ويل: دا دی، آی خانم ته ورسېدو. دلته ډېر پخوا يـو ښار و، د يونان – باختري تمدن يو مرکز و. يونانيان د مقدوني سکندر په وخت کې يعنې دوه زره او درې سوه کاله مخکې افغانسـتان تـه راغلـل. د يونـان او افغانسـتان هـنر، معماري او تمدن سره ګډ شول او د يونان – باختري په نوم نوی تمدن يې جوړ کړ. دلتـه چې اوس کنډواله ده، هاغه مهال يو لوی ښار و. د ښار په منځ کې يوه ښکلې ماڼۍ وه. د دې له پاره چې د ماڼۍ دېوالونه له لندبل څخه وساتل شي، په تهـداب کـې يـې سـکاره اچولي وو او د دېوالونو کښته برخه يې په پخو خښتو رغولې وه، د پاسه يـې بيـا اومـې خښتې لګولې وې. دا د يوناني معمارۍ چلونه وو خو د دې ښار په جوړولو کې د افغاني معمارۍ له سبک څخه هم استفاده شوې وه. مثلاً په دېوالونو کې يې ځای ځای برجونـه وو او د کوټو بامونه يې هوار جوړ شوي وو، حال دا چې په يوناني معمارۍ کې بامونه د ګنبدو په بڼه جوړېږي. د دې ښار چاپېره لوی دېوال تاو شوی و چې ۱۵۰۰ متره اوږد و. په هاغه څنډه کې يې چې د کوکچې سيند خوا ته ده، يو ټينګ برج و، دې بلې خوا ته يـې درې نور برجونه وو.

ځيرک پوښتنه وکړه: برجونه يې د څه له پاره جوړ کړي وو؟ او بله دا چې په دومره لـرې ځای کې يې ولې ښار آباد کړی و، دا ځای خو بيخي سپېره دی.

ګلوزرې ځواب ورکړ: امممم! ته خو په رښتيا ځيرک يـې چـې دې شـيانو تـه دې پـام

eilia.org



کېږي. ګوره! هاغه مهال يعنې څه باندې دوه زره او دوه سوه کاله وړاندې دا سيمه آباده وه. خلکو له آمو سيند نه لويې وياالې ايستلې وې او چارچاپېره ځمکې يې اوبولې. بلــه دا چې هاغه مهال د هند، چين، ايران او مرکزي آسيا تاجرانو به په همدې لاره تګ راتګ کاوه او د يونان – باختري پاچاهانو به ورنه ماليه اخيستله. لرغونپوهان په دې باور دي چــې دې پاچاهانو به د لاجوردو تجارت هم کاوه. تا خو په بدخشان کــې د لاجــوردو کانونــه وليدل کنه. نو دا ځای هغو کانونو ته نژدې و او ان په هماغــه وخــت کــې د افغانســتان لاجورد په مصر کې ډېر مشهور و.

د ګل‌وزرې خبرې خلاصې شوې.

ځيرک يوه شېبه ورته وکتل، بيا يې وويل: او برجونه؟

ګل‌وزرې په خندا وويل: اوه! دا پوښتنه خو رانه هېره وه. آفرين! ستا حافظه ښه ده. ښــه نو! برجونه يې له دښمن څخه د ښار د ساتلو له پاره جوړ کړي وو. پاس د برج پر سر به عسکرو څار کاوه چې دښمن ورباندې بريد ونه کړي. لرغونپوهانو لــه دې ځــای څخــه ځينې مجسمې، سکې، لوښي، د ورزش وسايل، او نور آثار موندلي دي. ته پوهېږې، دلته د تياتر داسې لوی سالون و چې شپږ زره کسان به په کې ځايېدل او يو لــوی جمنــازيوم هم په کې و چې خلکو به په کې ورزش کاوه.

ځيرک وويل: څومره جالبه ده. ان دوه زره او دوه سوه کاله پخوا مو داسې شيان لرل؟

ګل‌وزرې وويل: دا خو لا څه کوې، داسې ځايونه به درباندې ووينم چې پنځــه زره کالــه پخوا جوړ شوي دي. داسې شيان به ووينې چې يونيم لک کاله عمر لري.

ځيرک لويه ساه واخيسته، ويې ويل: اوهووووووو! يو نيم لک کاله؟

ګل‌وزرې په موسکا سره وويل: بالکل.

بيا يې په خپل وزر سره د غونډۍ يوه ځای ته اشاره وکړه، ويې ويل: له هاغه ځايــه يــو ډبرليک هم پيدا شوی و. ته ډبرليک پېژنې؟

eilia.org



ځيرک لږ فکر وکړ او بيا يې وويل: ډېرليک؟ امممم، معنا دا چې چا به پر ډبرې ليک کړی وي؟

ګل‌وزرې خپله وزر د ځيرک پر سر ورتېره کړه، ويې ويل: آفـرين! پخـوا بـه انسـانانو د حيواناتو پر پوستکو او هډوکو او پر لرګيو ليکل کول. خو ځينې مهمې خبرې به يـې پـر ډبرو ليکلې چې ورانې نه شي او ډېر وخت عمر وکړي. هغه ډبرليک چې له دې ځايه پيدا شوی، پرې ليکل شوي وو: «په وړکتوب کې ښه تربيت، په ځوانۍ کې پر نفس حاکميـت، په پاخه عمر کې رښتينولي او سخاوت، په سپين ږيرتوب کې ښه مشورت؛ بيا نو د مړينې په وخت کې افسوس مه کوه.»

ځيرک وويل: څومره جالبه خبره!

څو شېبې يې د ډبر ليک د خبرو په اړه فکر وکړ، بيا يې وويل: نو بيا هغه ښار څه شو؟ دا ځای اوس ولې داسې کنډ و کپر دی؟

ګل‌وزرې ځواب ورکړ: شاوخوا دوه زره او يو سل او پنځوس کاله وړاندې د مرکزي آسيا ځينو خلکو پر دې ښار حمله وکړه او ښار يې وسوځاوه. بيا پنځلس کاله وروسته يې بل بريد وکړ او بيا يې هم ښار ته اور واچاوه. ښار وران ويجاړ شو او بيا چا جوړ نـه کـړ. وروسته نو باد او باران يې پر سر خاورې ختې واړولې او دغه غونډۍ ترې جوړه شوه.

ځيرک د غونډۍ په بېخ کې سوړو ته اشاره وکړه، ويې پوښتل: نو هغه سوړې په کې چـا ايستلې دي؟

ګل‌وزرې ځواب ورکړ: اته پنځوس کاله مخکې ظاهر شـاه چـې د افغانسـتان پاچـا و، د ښکار له پاره تخار ته راغلی و. د سيمې خلکو د ډبرې يوه ټوټه وروښوده چې حکاکي په کې شوې وه او په همدې آی خانم سيمه کـې يـې مونـدلې وه. ظـاهر شـاه هغـه ډبـره فرانسوي لرغونپوهانو ته واستوله. هغوی چې ډبره وکتله، ويې ويـل چـې دا خـو ډېـره لرغونې ده. بيا راغلل او دلته يې کيندنې وکړې. هغوی ډېر شيان دلته پيـدا کـړل او مـلي موزيم ته يې ولېږل. بيا وروسته جګړې پيل شوې او لرغونپوهان ولاړل. وروسته د سيمې

eilia.org



ځینو خلکو دا ځای په خپل سر وکینده چې قیمتي شیان په کې پیدا کړي او بیا یې خـرڅ کړي خو دوی نه پوهېږي چې دا د وطن د ټولو خلکو شتمني ده. دوی بـه د دې قیمتـي شیانو په خرڅولو سره یو څو روپۍ پیدا کړې وي خو که داسې شیان په موزیمونو کـې وساتل شي، ډېر خلک به یې کتلو ته ورځي او د کتلو له پاره به یې ټکـټ اخـلي. د ټکـټ پیسې به د ټول وطن د ټولو خلکو له پاره ولګول شي. بله دا چې دا خو د وطـن معنـوي شتمني ده.

ځیرک وویل: ګلوزرې! معنوي شتمني څه معنا؟

ګلوزرې ځواب ورکړ: ګوره! ځینې شیان دي چې بدل یې په پیسو ورکول کېږي یا یې بیه په پیسو معلومېږي. لکه تا چې د ګاونډي شیشه ماته کړه، پلار دې د شیشـې تـاوان پـه پیسو ورکړ او خبره خلاصه شوه. خو که وغواړې د یو چا پوهه په پیسو واخلې، دا کېدای شي؟

ځیرک وویل: نه. په پیسو خو نه کېږي. پوهه خو د خرڅولو شی نه دی.

ګلوزرې وویل: بالکل. ځینې شیان دي چې په پیسو نه اخیستل کېږي، هغې تـه معنـوي شیان وایي. ګوره! تا څومره ښې کیسې زده کړې دي. دا کیسـې سـتا د وطـن او سـتا د خلکو معنوي شتمني ده. دا کیسې په پیسو نه شې اخیسـتلی. همداسـې لرغـوني اثـار، تاریخي ځایونه، ژبه، دا ټول معنوي شتمنۍ دي. پوه شوې؟

ځیرک وویل: پوه شوم. خو تا وویل چې خلکو دا غونډۍ ځکه کېندلې ده چې لرغوني آثار پیدا کړي او بیا یې خرڅ کړي. معنا دا چې لرغوني آثار خرڅېږي نو دا خو معنوي شتمني نه شوه.

ګلوزرې وویل: آفرین! ستا خبره سمه ده خو هغه څوک چې دا شیان پـه پیسـو اخـلي، ورباندې فخر نه شي کولی. هغه لرغوني آثار چې ستا د وطن دي، که بل هېواد یې وا هم خلي نو خپل یې نه شي بللی. بله دا چې د معنوي شتمنیو بیه څوک نـه شي تعیینـولی. د معنوي شتمنیو ارزښت ډېر زیات وي.

eilia.org





د آی خانم لرغوني ښار پاتې شوني د سپړنې پر مهال

لمر ولوېد. ورو ورو تیاره خپره شوه. د آمو د سیند پورې غاړه روښانه وه. هلته په کورونو کې څراغونه بل وو او تېزه رڼا یې کوله خو په دې غاړه کې یې د کورونو له کړکیو څخه تته رڼا راوتله. ځیرک ته وریاد شول چې کله دوی د آمو سیند له پاسه الوتل، هاغه غاړه یې منظمه وه، ښایسته کورونه او پاخه سړکونه په کې وو. د سیند غاړې ته دېوالونه جوړ شوي وو خو په دې غاړه کې یې دېوال نه و. دا غاړه یې کړه وړه وه او ځمکې یې اوبو لاندې کړې وې. دی حیران و چې دا ولې خو ګل‌وزرې یې دلیل ورته ووایه. هغې وویل چې د آمو د سیند په پورې غاړه کې تاجکستان دی. هلته جنګ جګړې نشته. خلک یې خپل وطن نه ورانوي. هلته خلکو کار کړی دی، خپل وطن یې آباد کړی دی. هر کور ته یې برېښنا رسولې ده او د سیند ها غاړه یې په دېوالونو ټینګه کړې ده چې اوبه یې یو نه سي خو په دې غاړه کې زموږ خلکو کار نه دی کړی، نه برېښنا لري او نه ښه سړکونه او هر کال چې په سیند کې اوبه ډېرېږي، د دوی ځمکې ورسره وړي.

ځیرک ته شرم ودرېد. په دې وشرمېده چې وطن یې آباد نه دی خو ګل‌وزرې ورته وویل

eilia.org



چې خپه کېږه مه. که ته او نور ماشومان ښه درس ووایئ، د وطن د جوړولو پوهه به پیدا کړئ او بیا چې تاسې لویان شوئ، خپل وطن به جوړ کړئ.

ځیرک تر اوسه پورې په دې اړه فکر نه و کړی چې دی چې لوی شي، څه به کـوي. خـو اوس یې له ځان سره ویل چې باید داسې مسلک غوره کړي چې وطن پرې آباد کړای شي.

ته څه فکر کوې؟ ځیرک به څه پلان لري؟ هغه به کوم مسلک غوره کړي؟

دا به وروسته معلومه شي. خو اوس نو شپه وه او دی بیا د ګلوزرې تر بڼکو لاندې پـټ شو. دواړه په خواړه خوب ویده شول.

ځیرک انجینیر و. ده داسې دنګه ودانۍ جوړه کړې وه چې د بام له سره یې لاندې سـړک یوازې د یوه خط کش په اندازه نری ښکارېده او موټرې تر نوک هـم وړې معلومېـدې. د ودانۍ پر بام دوه ورزشکاران ولاړ وو او غوښتل یې چې له بامه راټوپ کړي. لانـدې پـر سړک ګڼ خلک د عسکري رسم ګذشت په شان په منظمـو قطـارونو روان وو. د دوی پـه منځ کې څو کسانو دوه څوکۍ پورته نیولې وې. هغه د بام پر سر ولاړ کسان باید داسـې ټوپ وکړي چې سیده پر همدې څوکۍ برابر شي او پرې کېني. د ځیرک زړه درببېده چـې که هغوی د خلکو پر سر ولوېږي، څومره کسان به ژوبل شي او که سیده پر څوکیو هـم راولوېږي نو په دومره تیزۍ به پرې ولګېږي چې ملاوې به یې ماتې شي.

دوو کسانو له بامه راټوپ کړل. په تېزۍ سره د ځمکې خوا ته راغلل. ډېر تېز راتلـل خـو همدا چې څوکیو ته رانژدې شول، داسې په کراره پرې ټيټ شول چې تـه وا کاغـذباد یـا پوکڼۍ ځمکې ته راکوزېږي. دوی چې پر څوکیو کېناستل، ټولو ورته چکچکې وکړې.

د شیوا په جهیل کې د لامبو وهلو مسابقه وه. د دنیا خورا تکړه لامبوزن کسان راغـلي وو چې سیالي سره وکړي. دا نو آسانه کار نه و. جهیل یوولس کیلومتره اوږد و. دوی باید په یوه وار د جهیل له یوه سره تر بل سره پورې لامبو وهلی وای.

ځیرک یو لوی جمنازیوم هم جوړ کړی و. دومره لوی چې یو لک کسان په کې ناست وو. دا جمنازیوم په آی خانم کې و. په جمنازیوم کې د اولمپیک لوبې وې. د تیکواندو مسابقې

eilia.org



وي، فاينل مسابقه وه او روح الله نيکپا په رينګ کې و. د مسابقې وروستۍ شېبې وې. د روح الله نېکپا نمرې لس وې او د حريف يې دوولس. ځيرک لاس تر زنې ناست و. په زړه کې يې ويل چې مسابقه مو وبايلله. په همدې وخت کې روح الله نېکپا چابک راتاو شو او حريف يې په سر کې په لغته وواهه. د ده نمرې ديارلس شوې او په همدې شېبه کې مسابقه خلاصه شوه. نېکپا د سرو زرو مډال وګاټه. ځيرک له خوشحالۍ ټوپونه وهل. سوکان يې په زوره په هوا کې ښورول او نارې يې کولې: نېک پا – زنده باد، نېک پا – زنده باد، نېک پا – زنده باد.

د ګل‌وزرې غږ يې واورېد: اوه! ځيرک جانه! ته څه کوې؟ وزر دې راخوږ کړه.

ځيرک راويښ شو. ده په خوب کې نارې وهلې او د ګل‌وزرې وزر يې څو وارې په سوکانو وهلې وه.

ګل‌وزرې ته يې وويل: بخښنه غواړم. عجيبه خوب مې ليده.

ګل‌وزرې وويل: ښه دې ليده. نېکپا مو د سرو زرو مډال وګاټه. څومره لوی جمنازيوم دې جوړ کړی و او هغه خورا دنګه ودانۍ دې هم ډېره ښايسته جوړه کړې وه.

د ځيرک خوله وازه پاتې وه. سترګې يې رډې راختلې وې. دی حيران و چې ګل‌وزرې څنګه د ده په خوب پوهه شوې ده.

ګل‌وزرې وويل: مه حيرانېږه. زه چې ستا فکر لوستلی شم نو خوبونه دې هم لوستلی شم. خوب به دې رښتيا شي. ځکه چې ته هوښيار او ځيرک يې. ته او ستا ملګري به دا وطن همداسې جوړوئ چې د اولمپيک مسابقې به په کې کېږي او تاسې به مډالونه په کې ګټئ خو دا هرڅه په کوښښ کېږي. زه پر تا باور لرم چې خپل وطن ته به ډېر څه وکړې ځکه چې ته کوښښ کوې.

ځيرک موسک شو. زړه يې خوشحاله و او د وياړ احساس يې کاوه.

ګل‌وزرې وويل: هله نو سپرېږه چې ناوخته کېږي. ډېر نور ځايونه لا پاتې دي چې درباندې وېې ګورم.

eilia.org



ځيرک د ګلوزرې شا ته ورټوپ کړ او شېبه وروسته دواړه په هوا کې وو. د تخار له سره تېر شول او کندوز ته ورسېدل. د کندوز د ښار جنوب خوا ته هوايي ډګر و. بيا داسې يوه لويه غونډۍ وه چې سر يې د دښتې په شان هوار و. ګلوزرې د غونډۍ خوا تــه ورټيټــه شوه.

اوه! څومره ګرمي وه. له ځمکې داسې تاو پورته کېده چې ته وا د تناره غاړې ته به ناست وو. ګلوزرې په مدار مدار راکښته شوه. د غونډۍ په شاوخوا کې کروندې وې. يــو رقــم بوټي په کې ښکارېدل چې تر جوارو لږ ټيټ وو او پر سرونو يې تکې سپينې غــوزې وې. ځيرک داسې بوټي پخوا نه وو ليدلي. ګلوزرې د يوه پټي پر پوله کېناسته. ځيرک راښکته شو. د يوه بوټي د سر سپينې غوزې ته يې لاس وروړ. ګوتې يې پــه کــې ښــخې شــوې. ځيرک په لوړ غږ وويل: اوهووو! دا خو مالوچ دي.

ګلوزرې ورته موسکه وه او سر يې د هو په معنا وخوځاوه.

ځوانه! مسافر غوندې راته ښکارې. راځه دمه دې جوړه کړه، لږ خټکی به هم وخورې.

ځيرک د آواز لوري ته وکتل. يو بزګر و چې له اغزو څخه يې ځان ته کوټنۍ جوړه کــړې وه. ځيرک ګلوزرې ته وکتل. هغې ورته په سترګو کې اشاره وکړه چې ورځه.

بزګر بدنۍ له ويالې څخه ډکه کړه او د کوټنۍ پر اغزنو دېوالونو يــې اوبــه وشــيندې. د کوټنۍ په منځ کې هوا داسې ښه يخه لګېده چې ته وا دا کندوز نــه دی، د پــامير غرونــه دي. بزګر د خټکيو په پالېز کې وګرځېد. يو خټکی يې له بوټي راپورته کړ. يــو دوه وارې يې په ورغوو کې کښته پورته کړ او بېرته يې په کــراره کېښــود. څــو دانــې خټکــي يــې همداسې کښته پورته کړل او په ګوته يې ورو ورو وډبول. په آخر کې يې يو خټکی خوښ کړ او له بوټي څخه يې راوشکاوه. د ويالې په رڼو اوبو کې يې غوټه کړ. بيا يې لــه اوږې څخه دسمال راواخيست، د کوټنۍ په منځ کې هوار کړ. خټکی يــې وربانــدې کېښــود. د واسکټ له جېبه يې چاقو راوايست.

ځيرک حيران شو چې بزګر په دې سره ګرمۍ کې ولې دومره پېړ واسکټ اغوستی دی.

eilia.org



بزګر چاقو خلاص کړ. د دسمال په پیڅکه یې پاک کړ. الله و اکبر یې وواېه او خټکی یې پرې کړ.

دا خټکی د توپ غوندې ګرد و. پوستکی یې نری او رنګ یې نارنجي. ځیرک پخوا داسې خټکی نه و لیدلی.

بزګر له خټکي نه یوه تراړه جلا کړه او ځیرک ته یې ورکړه.

اوه! څومره خوږ. څومره نرم!

ځیرک سبناری هم نه و کړی او سخت وږی و. د خټکي خوند هم ډېر ښه و او دی یې په خوراک داسې لګیا و چې هېڅ پوه نه شو چې دا ټول خټکی یې څنګه خوړلی دی.

بزګر ورته موسک و. ویې ویل: بل درته راوشکوم.

ځیرک وویل: نه. مننه. موړ شوم. خو په کابل کې مې دا رقم خټکی نه و لیدلی.

بزګر وویل: هو، هلته نه پیدا کېږي. دې ته قندک وایي. قند غوندې خوږ دی خو ډېر نازک دی، تر کابله نه رسېږي. په لاره کې شړېږي.

بزګر چې چاقو بېرته د واسکټ په جیب کې ایښوده، ځیرک وویل: کاکا! په دې ګرمۍ کې دې څنګه داسې پېړ واسکټ اغوستی دی؟

بزګر کټ کټ وخندل، ویې ویل: موږ یو متل لرو چې وایي د ګرمۍ چاره ګرمي ده. پوه شوې؟ موږ خو ټوله ورځ په ګرمۍ کې کار کوو. که دا واسکټ وانه غوندو، لمر به مو څټ وسوځوي. د دې واسکټ بل کمال دا دی چې یو وار مو په خولو کې لوند شو، بیا زر نه وچېږي او لکه دغه اغزې چې لانده شي بیا هوا یخوي، دا واسکټ مو هم بدن یخوي.

ځیرک ډېرې پوښتنې وکړې او پوه شو چې هلته تر لس رقمه زیات خټکي شته. د مالوچو په منځ کې دانې وي چې خلک ورنه غوړي راباسي. په دې هم پوه شو چې پخوا په کندوز کې د مالوچو لویه فابریکه وه او هلته به ماشینونو د مالوچو دانې جلا کولې او بیا به یې غوړي راایستل. دا کارخانه سپین زر نومېده خو په جنګونو کې د فابریکې ماشینونه لوټ

eilia.org



او خراب شول. ځیرک د کونځلو، شولو، جوارو، میو، او نورو شیانو فصلونه هم ولیدل او بیا له ګل‌وزرې سره د سمنګان خوا ته والوت.

د کندوز او سمنګانو تر منځ لاره کې داسې غونډۍ وې چې تکې شنې ښکارېدې.

ځیرک وویل: واه! څومره ښکلې غونډۍ دي، لکه شین بخمل.

ګل‌وزرې وویل: تا به د «بخملي صحرا» ناول نه وي لوستی؟

ځیرک ځواب ورکړ: نه.

ګل‌وزرې وویل: جالبه ده. ما ګومان کاوه چې لوستی به دې وي. دا سیمه چاردره نومېږي. د دې سیمې یو لوی لیکوال او شاعر استاد محمد صدیق پسرلی نومېده. هغه د بخملي صحرا په نوم یو ښکلی ناول لیکلی دی. هغه ویلي دي چې دا دښتې او غونډۍ لکه بخمل ښکاري.

ځیرک له ځانه سره وویل چې دا ناول به خامخا لولي. بیا یې په زړه کې ورتېر شول چې کاش دی هم لوی لیکوال شي او د خپل وطن ښکلې کیسې ولیکي.

ګل‌وزرې وویل: آفرین! ښه فکر کوې. ته به ښه لیکوال شې ځکه چې هر شي ته په ځیر ګورې، هر شي ته ښه پام کوې. بس نو د لیکلو تمرین وکړه، که خدای کول، تکړه لیکوال به درنه جوړ شي. خو زما خوراک به نه هېروې. هاهاها.

ځیرک وویل: امممم! که ټوکه درته ووایم څنګه به وي؟

ګل‌وزرې وویل: غوړې لا غوړ. ټوکه خو لا ډېر خوند کوي.

ځیرک وویل: سمه ده. وایي دوه ساده ملګري چېرته روان وو. همداسې تلل، تلل، تلل، چې یوه غونډۍ یې مخې ته ورغله.

یوه یې پوښتنه وکړه چې دا نو څه شی دی؟

بل یې وویل: دا خو ځمکه تڼاکه شوې ده.

eilia.org



ګل‌وزرې کټ کټ په خندا شوه. ویې ویل: ځمکه تناکه شوې ده. هاهاها. دا خو په رښتیا چې ساده و.

ځیرک وویل: خو ما په یوه مستند فلم کې لیدلي دي چې غرونه او غونډۍ څنګه جوړېږي.

ګل‌وزرې ورغبرګه کړه: ښه! نو څنګه جوړېږي؟

ځیرک ځواب ورکړ: ځمکه څو ټوټې لري چې پلېټونه بلل کېږي. دا پلېټونه خوځېږي او کله چې له یو بل سره ټکر شي، د ځمکې له لاندې څخه وېلې شوې ډبرې د ځمکې سر ته راځي او غرونه جوړوي.

ګل‌وزرې وویل: ډېر ښه. او غونډۍ؟

ځیرک ځواب ورکړ: بیا په زرګونو کلونو کې لمر، باران، واروه، او باد غرونه سولوي، تېرې یې په شګو بدلوي او بیا غونډۍ ورنه جوړېږي.

ګل‌وزرې وویل: آفرین! خو یوه بله خبره هم ده. تا په آی خانم کې خو هغه غونډۍ ولیده، هغه څنګه جوړه شوې وه؟

ځیرک وویل: هلته خو پخوا یو ښار و. بیا ښار وران شو. وروسته بیا باد او باران ورباندې خاورې ختې واړولې. امممم! پوه شوم، د غونډیو د جوړېدو بله لاره همدا ده.

په همدې خبرو کې دوی سمنګان ته ورسېدل. د ایبک ښار له پاسه تېر شول. یوې لوړې غونډۍ ته ورسېدل. عجیبه غونډۍ وه. په سر کې یې یوه لویه ګرده ډبره وه چې سر یې هوار و، بیخي لکه خولۍ غونډې ډبره منظمه توږل شوې وه. د تېرې چارچاپېره لوی ژور خندق و. د دې تیږې له پاسه یوه ډبرینه کوټه وه.

ګل‌وزرې پر غونډۍ کېناسته او ویې ویل: تختِ رستم ته ښه راغلې.

eilia.org





تخت رستم، سمنګان (عکس د ښاغلي نجيب الله مسافر)

ځيرک د رستم او سهراب کيسه اورېدلې وه. پلار به يې د ژمي په شپو کې د فردوسي شهنامه لوستله او دوی به ورته غوږ وو. رستم يو لوی پهلوان و او دومره تکړه و چې هېچا نه شو ځملولی.

د تخت رستم ليدو ته ډېر خلک راغلي وو. ځينې خارجي کسان هم په کې وو. تخت رستم ته ډېر کسان راټول وو. ځيرک هم ورغی. هلته يو چا خلکو ته معلومات ورکول. هغه د اطلاعاتو او فرهنګ د رياست مامور و. ده وويل:

رستم پهلوان چې دلته راغی، د ايبک د پاچا پر لور مين شو. د پاچا لور تهمينه نومېده. رستم په تهمينې پسې مرکه ولېږله. تهمينې وويل چې زه د واده له پاره درې شرطونه لرم. که دې شرطونه پوره کړل نو واده به درسره وکړم. يو شرط مې دا دی چې د دې لوېې پربښې له سره به داسې ټوپ کوې چې بل سر ته يې ورسېږې.

هغه سړي چې معلومات ورکول، هماغه لويې ډبرې ته اشاره وکړه چې تخت رستم بلل

eilia.org



کېږي. دا ډېره دومره لويه وه چې هېڅوک هم نه شي کولی له يوه سره يې بل سر ته ټوپ کړي او شاوخوا ته يې هم لوی خندق و چې درې متره خو به يې سور و. نو ځيرک له ځانه سره فکر وکړ چې رستم خو به دا شرط نه وي پوره کړی. د ځيرک فکر سم په دې و چې د دې ډبرې او خندق له يو سره تر بل سره پورې اتيا متره واټن و؛ نو اتيا متره ټوپ څوک وهلی شي؟

هغه مامور بيا وويل: تهمينې همدغه ډبره يادوله. د تهمينې بل شرط دا و چې رستم دې يوه لويه ونه له بېخه راوباسي او دريېم شرط يې دا و چې زردشتيان به له دې سيمې څخه شړي. رستم د غونډۍ سر ته راغی. له لرې يې رامنډې کړې او د خندق له دې سره يې ان هاغه بل سر ته يې ټوپ کړ. بيا پر رخش سپور شو. رخش د رستم آس و چې د رستم غونډې غښتلی او تکړه و. رستم آس وځغلاوه او ونې ته چې ورسېد، لاس يې د ونې له ستې نه راتاو کړ. په بل لاس يې د رخش غاړه ټينګه ونيوه. رخش مخې ته زور وکړ او ونه سلامته راووته. رستم دوهم شرط هم پوره کړ. پاتې شو، دريېم شرط. رستم غوښتل چې پر زردشتيانو حمله وکړي خو هغوی چې د ده زور وليد چې دومره لويه ونه يې له بېخه راوايسته، پخپله وتښتېدل. بيا نو رستم له تهمينې سره واده وکړ.

ځيرک او ټول خلک دې سړي ته حيران حيران کتل.

eilia.org





تخت رستم، سمنګان

سړي وويل: اوس نو راځئ چې د رستم او تهمينې د واده ځای دروښيم.

دی مخکې شو او نور ورپسې. له غونډۍ څخه ورو ورو راښکته شول. د دې غونډۍ شمال خوا ته يوه خاورينه غونډۍ وه. د غونډۍ په بېخ کې سمڅې او غارونه وو.

eilia.org



یوه غار ته ورننوتل. غار یوه اوږد دهلېز ته وتلی و. د دهلېز په بر سر کې غرب خــوا تــه یوه لویه ګرده کوټه وه. دا کوټه د غونډۍ په منځ کې جوړه شوې وه. دېوالونه یــې لکــه تباشیر وو خو رنګ یې چېرته سپین، چېرته خړ او ځینو ځایونو کې تک تور لکه د اور په لوګیو چې تور شوي وي. په دېوالونو کې یې څو ځایه د محراب په شان ځایونــه کینــدل شوي وو او په چت کې یې د لمر ګلي غونډې ګلونه کښل شوي وو. چت یې د جوماتونو د ګنبدې غونډې ګرد او ډېر لوړ و، دومره لوړ چې که لس کســان هــم د یــو بــل پــر اوږو درېدلي وای، نه به ور رسېدل. د کوټې په دېوالونو کې څو ځایه سوري وو چې د لمر رڼــا ورڅخه راتله.

هغه مامور وویل چې په دې کوټه کې د رستم او تهمینې نکاح وشوه.

بیا له دې کوټې څخه نري دهلېز ته ووتل. دهلېز ډېر اوږد و، شل یا دېرش متره بــه اوږد و او ځای ځای په کې د باندې خوا ته سوري ایستل شوي وو.

مامور وویل: دلته بازار و او د دهلېز په هاغه سر کې حمام و.

د دهلېز په شرقي خوا کې یو وړه کوټه وه. مامور وویل چې رستم او تهمینې به دلته کالي بدلول. له دې کوټې څخه بیا بلې ته لاره تللې وه چې په غولي کې یې یو وړوکی حــوض و. مامور وویل چې دې حوض ته به له لښتي څخه اوبه راتلې او رستم او تهمینې به دلته په دې حوض کې لامبل.

eilia.org





د تخت رسیم سیمه، دننه په غونډۍ د بودایانو لرغونی معبد

eilia.org





د تخت رستم سیمه، دننه په غونډۍ کې اوږد دهلیز

هلته څو نورې څمڅې هم وې چې د کوټو غوندې جوړې شـوې وې او پـر دېوالونـو او چتونو یې شیشکونه یا طاقونه او ګلونه کیندل شوي وو.

ځیرک شا و خوا یو ساعت هلته تېر کړ. د دې هرڅه په لیدلو حیران شوی و خو لا حیران په دې و چې د رستم او سهراب په هغه کیسه کې چې ده اورېدلې وه، داسې خبرې نه وې

eilia.org



راغلې. ځيرک بېرته د غونډۍ سر ته وخوت. په ګلوزرۍ پسې يې دې خوا ها خــوا وکتــل خو درک يې نه و. چارچاپېره وګرځېد خو ګلوزرۍ نه وه. ځيرک وارخطا شو چې هســې نه ګلوزرۍ دلته پرې ايښې وي او پخپله تللې وي خو يو کرار غږ يې تر غوږو شــو: مــه وارخطا کېږه. زه د راهبانو په کوټه کې يم. د تيږې سر ته راوخېژه. په ډبرينه کوټــه کــې يم.

ځيرک حيران شو چې د تيږې سر ته څنګ ته لاړ شي ځکه چې چارچاپېره يــې لــوی ژور خندق و او دی له دې خندق څخه ټوپ نه شو وهلی. په يوه څنډه کې د خندق تل تــه لاره کښته شوې وه. دی ورغی. خندق دومره ژور و چې له تل څخه يې د تيږې سر لکه څلور پوړيزه ودانۍ ښکارېده. له هاغه ځايه په هغه لويه ګرده ډبره کې د زيني غونډۍ د پښــو ځايونه کيندل شوي وو چې سړی پرې پورته ختلی شو. ځيرک په احتياط او پــه کــراره د ډبرې سر ته وخوت. بيا هغې ډبرينې کوټې ته ولاړ چې د دې لويې ډبرې پــر سر جــوړه شوې وه. دا نو داسې کوټه نه وه چې چا دې تيږې سر پر سر ايښې وي او دېوالونه يــې ورنه جوړ کړي وي، بلکې دا ټوله کوټه يو لويه ډبره وه چې منځ يې کيندل شوی او لکــه هغې کوټې چې د غونډۍ په منځ کې توږل شوې وې، دا هم له لاندې تراشل شوې وه.

دی چې کوټې ته ورننوت، ويې ليدل چې ګلوزرۍ پلتۍ وهلې ده او وزرې يې د لاســونو غونډې پر زنګنو ايښې دي، سترګې يې پټې کړې دي او تر ژبې لاندې څه وايي.

ځيرک لويه ساه واخيسته، کېناست او ويې ويل: اوه! ستړی شوم. دا ډبره څومره لوړه ده. ګلوزرۍ! ته څه کوې؟

ګلوزرۍ سترګې پرانيستې. موسکۍ شوه او ويې ويل: رياضت کوم. تــه پــوهېږې چــې رياضت څه شی دی؟ راځه چې خبرې له پيله درته وکړم. دا ځــای د بوديــانو معبــد دی. دلته به بودايي راهبانو عبادت کاوه، لکه زه چــې ناســته وم، هغــوی بــه هــم همداســې کېناستل، پلتۍ به يې وهلې او لاسونه به يې پر زنګنو ايښودل. دوی به ژور فکرونه کــول او د دې معبد شاوخوا ته هغه خندق د دې له پاره کېندل شوی و چې څوک دې معبد تــه رانه شي او مزاحمت ورته ونه کړي.

eilia.org



ځيرک وويل: نو هغه نورې کوټې چې د غونډۍ په منځ کې وې؟

ګل‌وزرې وويل: ګوره! بودايانو غوره ګڼله چې خپل معبدونه د داسې غرونو او غونډيو په ډډو يا منځ کې جوړ کړي چې توږل يې آسانه وي. ستا د غونډۍ خاورې ته ورپام شو؟

ځيرک وويل: هو، منځ يې لکه تباشير داسې و.

ګل‌وزرې وويل: آفرين! دا غونډۍ د ګچ او چونې له تيږو څخه جوړه ده او ته خو پوهېږې چې ګچ او چونه نرم وي نو بوديانو په کې لويې سمڅې کيندلې وې. هاغه کوټې چې تا وليدې، د بوديانو معبدونه وو.

ځيرک وويل: جالبه ده، رښتيا هم په دېوالونو کې يې د جومات د محراب په شان ځايونه کيندل شوي وو.

ګل‌وزرې وويل: همداسې ده. ښه نو، ته څه فکر کوې چې دا معبدونه به څه مهال جوړ شوي وي؟

ځيرک وويل: نه پوهېږم خو ډېر وخت به پرې تېر شوی وي ځکه چې سمڅې را ته ډېرې زړې ښکاره شوې.

ګل‌وزرې وويل: کېدای شي يو زر او اته سوه کاله پخوا جوړ شوي وي. بله خبره دا ده چې بوديانو ته دا فکر له تاريخ نه مخکې غارونو په ليدو پيدا شوی و چې بايد په ځينو ځايونو کې خپل معبدونو د غرونو په دېوالونو کې د سمڅو په شان جوړ کړي. ته خو به پوهېږې چې له تاريخ نه مخکې خلکو به په غارونو کې ژوند کاوه.

ځيرک پوښتنه وکړه: له تاريخ نه مخکې؟

ګل‌وزرې ځواب ورکړ: هو. له تاريخ نه مخکې هغې زمانې ته وايي چې انسانانو ليک نه و اختراع کړی او د هاغه زمانې په اړه موږ ته هېڅ ليکلی سند نه دی پاتې. ښه شوه چې راياده شوه. دلته په سمنګان کې يوه سيمه ده چې هزار سم يې بولې يعنې زر سمڅې، ځلوېښت زره کله پخوا خلک هلته په غارونو کې اوسېدل.

eilia.org



د ځيرک سترګې ارتې شوې، ويې ويل: څلوېښت زره کاله؟

ګلوزرې وويل: بالکل. موږ سره چې ګرځې، داسې مزې به کوې.

دواړو کټ کټ وخندل.

ځيرک وويل: يوه بله خبره. هغه مامور چې خلکو ته يې معلومات ورکول، دا خبره يې بيخي ونه کړه چې دلته د بودايانو معبدونه وو. هغه يوازې د رستم او تهمينې د مينې او واده کيسه وکړه.

ګلوزرې وويل: دا روايتونه به خلکو د خوند له پاره جوړ کړي وي. کيسې او حکايتونه خواږه دي خو حقيقت هم خوږ دی. بس نو بايد په دې وپوهېږې چې د هر چا خبرې به پټو سترګو نه منې. خواږه روايتونه او کيسې خپل خوند لري خو له علمي معلوماتو سره به يې نه ګډوو. څنګه، همداسې نه ده؟

ځيرک د هو په معنا سر وخوځاوه.

ګلوزرې له کوټنۍ څخه راووته او ځيرک ته يې اشاره وکړه چې پر څټ يې سپور شي.

ګلوزرې د تخت رستم پر سر منډې کړې او په هوا شوه.

ځيرک پوښتنه وکړه: اوس به چېرته ځو؟

ګلوزرې وويل: بلخ ته. ته په بلخ کې څوک پېژنې؟

ځيرک وويل: هو. مولانا جلال الدين بلخی. پلار به مې د ژمي په شپو کې د هغه يو کتاب راته لوسته. مثنوي نومېده. يوه کيسه يې را په زړه ده. وايي په يوه سيمه کې چا فيل نه و ليدلی. يو چا فيل راوستی و خو په يوه تياره کوټه کې يې درولی و. بيا يې خلکو ته ويلي وو چې راشئ فيل وګورئ. خلک چې کوټې ته ورغلل نو هلته خو تياره وه او په سترګو يې څه نه شو ليدلی. چا د فيل پر پښې لاس تېر کړی و، چا يې خرطوم لمس کړی و، چا ته يې لکۍ په لاس ورغلې وه او چا ته يې غوږ. نو دا خلک چې د باندې راووتل، يوه به يې ويل چې فيل لکه ستن، لکه مټې يا پايه غوندې دی. دا خبره به هغو کسانو کول چې د فيل

eilia.org



پښه يې لمس کړې وه. چا چې د فيل خرطوم باندې لاس تېر کړی و، هغه به ويل چې نــه، فيل د نل يا ناوې په شان دی. هغه چې د فيل غوږ يې لمس کړی و، هغه به ويل چــې نــه بابا، فيل خو لکه ببوزي يا پکې دی او هغه بل چې د فيل لکۍ يې لاس ته ورغلې وه، ويل به يې چې تاسې يو هم سمه خبره نه کوئ، فيل د متروکې يا قمچينې غوندې دی.

ګلوزرې له خندا شنه شوه. ويې ويل: څومره جالبه. ښه نو تا له دې کيسې څــه مطلــب واخيست؟

ځيرک وويل: هماغه چې تا وويل. د هر چا خبره به په پټو سترګو نه منو.

ګلوزرې وويل: آفرين! خبره دې سمه ده. خو يوه بله خبره هم ده. نو دا خلک خو ملامت نه وو. هر چا به فيل هغسې پېژانده چې ورته ښکاره شوی و. خو خلک څنګــه پــوه شي چې فيل په رښتيا څرنګه شی دی؟

ځيرک وويل: امممممم، فيل دې رڼا ته راوباسي چې ټول بدن يې سم ښکاره شي. بيــا بــه ټول خلک وپوهېږي چې فيل نه ببوزی دی، نه پايه ده، نه متروکه.

ګلوزرې وويل: بالکل، وايم د نښې منځ دې وويشت. علم او پوهه د رڼا غونــدې ده. کــه غواړې چې حقيقت وپېژنې، بايد دوه کاره وکړې، يو دا چې پوهه دې زياته کــړې او پــه پوهه په مطالعه زياتېږي. بله دا چې بايد فکر وکړې، پلټنه وکړې، تجربې وکړې.

په دې خبرو کې دوی د تاشقرغان تنګي ته ورسېدل. تنګه نرۍ لاره د دوو غرونو په منځ کې. د سړک دواړو خواوو ته غرونه داسې نېغ ولاړ وو لکه د ډېرې دنګــې مــانۍ ســيده دېوالونه چې وي. د غرونو رنګ زېړبخونی نسواري و.

ځيرک ډارېده چې د ګلوزرې وزرې له غرونو سره ونه لګېږي. خو تنګی دومره هم تنــګ نه و.

له تنګي نه چې تېر شول، ګلوزرې د سړک غاړې ته کښته شوه. هلته خلکو په ټوکريو کې تازه انځر راوړي وو. ځيرک ته يې يوه ټوکرۍ انځر واخيسته. په سيند کې پاکې رڼې اوبه بهېدې. ځيرک په کې انځر پرې مينځل.

eilia.org



اوه! عجب خوندور انځر يې وو.

دواړه بېرته والوتل. ځيرک وويل: د مولانا جلال الدين بلخي د کتاب يوه بلـه کيسـه مې رایاده شوه. وايي څلور ملګري وو، يو يې عرب و، بل يـې د روم، بـل يـې د ترکيـې و او څلورم يې افغان. دوی ډېر مزل کړی و او وږدي شوي وو. چا ورته يو درهم ورکړ. افغـان ورته وويل چې راځئ په دې پيسو لږ انګور واخلو او ويې خـورو. عـرب وويـل: زه خـو انګور نه خورم، عنب به واخلو. رومي وويل: زه نه انګور غواړم، نه عنب. ما ته به ستافيل اخلئ. ترک وويل: زه يې نه منم. زما زړه ازم ته کېږي. هېڅ د بل خبره نه منله. بس نو د دوی تر منځ لانجه جوړه شوه. يو بل يې په سوکانو او څپېړو وهل.

ګل‌وزرې وويل: نو بيا؟

ځيرک په خندا وويل: خو ټولو هماغه يو شی غوښت خو په خبره سره نه پوهېدل. انګـور ته په عربۍ کې عنب وايي او په رومي ژبه کې يې ستافيل بولي، ترکان ورته ازم وايي.

ګل‌وزرې هم په خندا شوه. ويې ويل: واه! دا مولانا خو ډېر لوی انسـان و. څـومره ښـې خبرې يې کړې دي. ښه نو، ستا په فکر د دې کيسې مطلب څه دی؟

ځيرک ځواب ورکړ: همدا چې بايد د يو بل په خبره ځان پوه کړو.

ګل‌وزرې وويل: وايم سل آفرين دې. خو بله خبره. که دغو څلورو ملګرو پـه ربښـتيا هـم څلور مختلف شيان وغواړي نو بيا به دا لانجه څنګه شي؟ مثلاً يو به يې وايي چې انګور به واخلو، بل به وايي چې مڼې واخلو، درېيم کس به انار وغواړي او څلورم يې خټکی.

ځيرک څو شېبې فکر وکړ.

دا نو سخته پوښتنه ده. څلور کسان او څلور نظرونه. دا به نو څنګه سره جوړوئ؟

ته هم فکر وکړه. که ته د ځيرک پر ځای وای، ځواب به دې څه و؟

ښه نو. وبه ګورو چې ځيرک له ډېر فکر کولو وروسته څه وويل.

eilia.org



ځيرک وويل: دوی بايد هر يو خپل دليل ووايي چې ولې غواړي هغه شی واخلي او ولې بل شی نه غواړي. ټول کسان دې خپل دليلونه ووايي. د هر چا دليل چې سم و، د هماغه کس خبره دې ومنل شي.

ګلوزرې وويل: امممم. ښه خبره ده. خو ګوره! که څلورواړه کسان يو ځای بحث وکړي، کېدای شي زر نتيجې ته ونه رسېږي. ښه به دا وي چې دا څلور کسان په دوو ډلو ووېشو. دوه دوه کسان دې په خپلو کې بحث وکړي. دوه کسان به زر سره سلا شي. بيا به د څلورو پر ځای، دوه مختلفې غوښتنې وي. که څنګه؟

ځيرک ځواب ورکړ: خوښه مې ده. خو يو بل رقم هم کېږي. دا خو څلور واړه ښې مېوې دي، هره مېوه خوندوره او ګټوره ده. نو هر څوک به همدا دليل وايي چې زه دا مېوه ځکه غواړم چې خوندوره او ګټوره ده. نو که داسې وشي، د کاغذ څلور ټوټې دې واخلېږ پر يوه ټوټه يې انګور وليکي، پر بله يې مڼې، پر بله انار او پر بله خټکی. بيا دې کاغذونه قاط کړي چې ليکل يې ښکاره نه شي. سره ګډ يې کړي او يو کس دې سترګې پټې کړي، يو کاغذ دې پورته کړي. هره مېوه چې پرې ليکل شوې وه، هماغه دې واخلي.

ښه نو، دا پوښتنه کېدای ډېر ځوابونه ولري. تا څه فکر وکړ؟ ته به دا ستونزه څنګه حل کړې؟

ته خپل ځواب په کتابچه کې وليکه او اوس راځه چې بېرته د ځيرک او ګلوزرې حال واخلو.

دوی يوه ځای ته ورسېدل چې ډېر زيارتونه په کې وو او چارچاپېره يې د يوه زاړه دېوال نښې ښکارېدې. ګلوزرې وويل چې دا بلخ دی. ام البلاد، يعنې د ښارونو مور. دلته د افغانستان يو ډېر لرغونی ښار و. کله چې آريايیان د آمو له سينده پورې ووتل او دې خوا ته راغلل، لومړنی ښار يې چې ودان کړ، همدا بلخ و. بلخ يما پاچا چې جمشيد هم نومېده، ودان کړی و. بلخ ته بخدي، بلهيکا، باکتريا، او باختر هم ويل شوی دی.

eilia.org





په بلخ ولسوالۍ کې د یوه لرغوني ښار دېوالونه (عکس د ښاغلي نجیب الله مسافر)

دوی بیا هغه مدرسه ولیده چې د مولانا جلال الدین بلخي پلار به په کې تدریس کاوه.

د بلخ بازار ته نژدې د یوې ویالې په غاړه کې دوو نجونو د توت تر ونې لاندې لوبې کولې. دوی پر ځمکه کربښې ایستلې وې او د توت په څانګې پورې یې ټال اچولی و. یوې نجلۍ چیندرۍ کوله. بله یې په ټال کې ناسته وه او ټالۍ یې وهلې. په ټال کې ناستې نجلۍ په لوړ غږ وویل:

ټال، ټال ، ټالۍ وهم

بلې نجلۍ چې چیندرۍ یې کوله، وویل:

ټوپ، ټوپ چیندرۍ وهم

بیا دواړه وویل:

دا د چوترې غاړه ده

دلته پلتۍ وهم

تکې سرې پېنې زما

eilia.org



ځم پرې ګل میخۍ وهم

شنګ ، شنګ ،شرنګی مې خوښ

پر سره کمیس پاولۍ وهم

ټال ټال ټالۍ وهم

شپیلۍ وهم شپیلۍ وهم

ډکه د مستو کټو

زه پکې ځمځۍ وهم

څښمه ترې خوږې مستې

هیلۍ غوندې غړۍ وهم

ټال، ټال ، ټالۍ وهم

ټوپ، ټوپ چیندرۍ وهم

ځیرک نڅدې ورغی. ویې ویل: وا وا! څومره ښکلی شعر و او تاسو څومره ښه ووایه.

هغې نجلۍ چې چیندرۍ یې کوله، وویل: مننه. زما نوم بلهیکا ده او دا رابعه نومېږي.

دې سره یې په ټال کې ناستې نجلۍ ته اشاره وکړه.

ځیرک هم ځان ورته معرفي کړ او ویې ویل چې له کابله د بلخ لیدو ته راغلی دی.

بلهیکا وویل: زموږ کتابتون دې لیدلی دی؟

ځیرک ځواب ورکړ: کتابتون؟ نه. تاسې کتابتون لرئ.

رابعه ټال ودراوه. ځمکې ته یې راټوپ کړه، ویې ویل: خود. زموږ خلکو دلته یو کتابتون جوړ کړی دی. هغه شعر چې ما او بلهیکا وایه، موږ د کتابتون په یو کتاب کې لوستی دی. دلته هر چا ته کتاب امانت ورکوي.

بلهیکا وویل: د ماشومانو له پاره هم ښه ښه کتابونه په کې دي.

ځیرک ورسره ولاړ چې کتابتون وګوري.

په یوه اوږده کوټه کې له دېوالونو سره د کتابونو المارۍ لګېدلې وې. ډېر کتابونه په کې وو. د ماشومانو له پاره د کیسو او شعرونو کتابونه جلا ایښي وو. رابعې هغه کتاب وروښود چې د ټال ټال ټالۍ وهم شعر په کې و. ځیرک د کتاب یو څو شعرونه ولوستل.

eilia.org



ټول شعرونه يې همداسې ښکلي وو او شاعر يې ومان نيازی نومېده.

بلهيکا وويل: ته ومان نيازی پېژنې؟ هغه زما د پلار ملگری دی.

رابعې وويل: زما پلار هم ورسره پېژني. هغه د غنمو له ډنډر څخه تصـويرونه جـوړوي. زموږ په کور کې يې يو رسم شته. دومره ښکلې هوسۍ يې ايستلې ده چې خوښه بـه دې شي.

ځيرک وويل: جالبه ده. دا مې نه وو اورېدلي چې د غنمو له ډنډر څخه تصوير جوړېږي. دا ستاسو نومونه هم راته عجيبه غوندې ښکاري.

بلهيکا او رابعې وخندل.

بلهيکا وويل: زما نوم د بلخ پخوانی نوم دی. پلار مې وايـي چـې ان دوه نـيم زره کالـه مخکې د دې ځای نوم بلهيکا و.

رابعې وويل: ته رابعه بلخي پېژنې؟

ځيرک ځواب ورکړ: نه. هغه څوک ده؟

رابعې وويل: راځه چې قبر يې دروښيم. هغه شاعره وه. ډېر پخوا وخـت کـې اوسـېدله. ورور يې د دې ځای حاکم و.

درې واړه ولاړل او په يوه باغ کې يې د رابعه بلخي قبر وکوت.

رابعې وويل: پلار مې وايي چې ته به هم شاعره شې. ما چـې د ومـان نيـازي شـعرونه ولوستل، بيا مې پخپله هم يو شعر جوړ کړ. درته ويې وايم؟

ځيرک وويل: ويې وايه. زما شعرونه خوښېږي.

شنه زمونږه مځکه ده
ښکلې مې نانځکه ده
مور مې غوا لوشلې ده
سخۍ مو ترينه ورکه ده

ځيرک په خندا کې وويل: ښه نو، بيا مو سخۍ پيدا شوه که نه؟

درې واړو وخندل.

رابعې ځواب ورکړ: په رښتيا خو نه ده ورکه. هسې مې په شعر کې داسې ويلي دي.

eilia.org



ځيرک وويل: آفرين! ته خو سمه شاعره يې.

ځيرک له هغوی سره خدای پاماني وکړه او له ګلوزرې سره ولاړ چې د بلخ نور ځايونه وګوري.

دوی يوه جومات ته ولاړل چې اوه سوه کاله مخکې جوړ شوی و. لوړه ګنبده يې وه چې فيروزه‌يي کاشۍ په کې لګېدلې وې خو په ځينو ځايونو کې يې کاشۍ نه وې. داسې ښکارېده چې کاشۍ به يې لوېدلې وي. دېوالونه يې هم ځای ځای وران شوي وو. ګلوزرې وويل چې په جنګونو کې پر دې جومات راکټ لګېدلی و ځکه خو يې ځينې ځايونه ړنګ شوي دي.

eilia.org





په بلخ ولسوالۍ کې د خواجه نصر پارسا جومات (عکس د ښاغلي نجیب الله مسافر)

eilia.org



گلوزرې پوښتنه وکړه: ته خو پوهېږې چې په نوروز کې ډېـر خلـک مـزار شریـف تـه راځي؟

ځیرک ځواب ورکړ: هو. دا مې اورېدلي دي. په ټلویزیون کې مې جنډه بالا هم لیدلې ده.

گلوزرې وویل: خوښه دې نه ده چې د نوروز جشن دربانديې ووینم؟

ځیرک وویل: نوروز خو تېر شوی دی. نوروز څو میاشتې مخکې و.

گلوزرې وویل: ته راشه پر څټ مې سپور شه. بیا به یې وگورې.

دوی والوتل. له ځمکې چې ښه پورته ولاړل، ځیرک وویل: اوهو! دا په هوا کې کړۍ کړۍ دایرې څه دي؟

گلوزرې وویل: ځان ټینگ کړه.

گلوزرې چټکه شوه. کړیو ته ورنژدې شوه. اوله کړۍ د زمري په بڼـه وه. زمـري خپلـه لکۍ په خوله کې نیولې وه او د دایرې شکل یې جوړ کړی و. له دې چې تېر شـول، بلـه کړۍ راغله. د چنگاش دایره وه. د یوه خورا لوی چنگاښ دوې پښې سره ورغلې وې او په منځ کې یې دایره جوړه شوې وه. له دې هم پورې وتل. بیا د غبرگولو دایره وه، ورپسې د غوایي او بیا د وري دایره.

له دې ټولو دایرو چې تېر شول، د مزار شریف ښار ته ورسېدل.

څومره ډېر خلک!

بیخي ډېر خلک د کورونو او مارکېټونو بامونو ته ختلي وو. د ښار په منځ کې یـو لـوی جومات او ډېرې گنبدې ښکارېدې چې آبي کاشۍ پرې لگېدلې وې. داسې آبي لکه د شیوا جهیل د اوبو رنگ. دا د حضرت علي مزار و چې خلک یې روضه شریف بولي. ځیرک پـه ټلویزیون کې لیدلی و نو ویې پېژانده. د زیارت څلورو خواوو ته شـنه چمنونـه او ټـول سړکونه له خلکو ډک وو. دوی چې د زیارت له سره تېرېدل، جنډه پورته شوه او خلکـو د الله اکبر، الله اکبر نارې وهلې.

eilia.org





مزار شریف، د حضرت علي زیارت (عکس د ښاغلي نجیب الله مسافر)

ځیرک حیران و چې دا نو څه کیسه ده. دوی چې لــه کابلــه راغلــل، اوړی و. د مکتبونــو رخصتۍ وې خو دلته نوروز دی.

ګلوزرې وویل: چورت مه وهه. هغه کړۍ چې ورنه تېر شوو، میاشتې وې. زه کولی شم تېر وخت ته ورستنه شم او همداسې راتلونکي وخت ته هم تلی شم. هماغسې چې ته پــه خوب کې راتلونکې زمانې ته تللی وې او تکړه انجینیر شوی وې. څه پــوه شــوې؟ مــوږ سره چې ګرځې، داسې مزې به کوې.

ځیرک او ګلوزرې وخندل. ځیرک حیران و چې دا نو څنګه کېدای شي چې څوک دې تېرو وختونو ته وروګرځي یا داسې وخت ته سفر وکړي چې لا راغلی نه دی.

ګلوزرې د روضې جنوب خوا ته والوته. د غره په لمنو کې ډېر خلک مېلې ته راوتــلي وو. په یوه نسبتاً هوار میدان کې د بزکشۍ مسابقه وه. پهلوانان پر دنګو غښتلو آسونو سپاره وو او هر چا هڅه کوله چې سخی د میدان له دایرې څخه راپورته کړي او تر هاغه بېرغــه پورې یې یوسي چې د میدان په بل سر کې ولاړ و. د میدان شاوخوا ته ډېر خلــک ناســت

eilia.org



وو. سخت شور ماشور و. هر چا خپل د خوښې لوبډله په نارو او چکچکو تشویقوله.

ځیرک وړی و.

خو په ښه وخت کې وړی شوی و.

تا خو به سمنک خوړلي وي؟

اکثره خلک چې مېلې ته راغلي وو، سمنک یې ورسره راوړي وو. ځیرک د یوې کورنۍ مېلمه شو. خوندور خواږه سمنک یې وخوړل. ځیرک پوښتنه وکړه چې سمنک څنګه جوړېږي.

هغې مېرمنې چې ځیرک ته یې سمنک ورکړي وو، وویل: د ژمي په آخرو شپو کې غنم په یوه پتنوس کې اچوو او په یوه ګرم ځای کې یې ساتو، هره ورځ لږ لږ اوبه وربانديې شیندو. غنم شنه کېږي. بیا د نوروز په شپه یې شنې پاڼې په بیاتي غوڅوو. د غنمو دانې د کوفتې له ماشینه تېروو. وروسته یې له صافۍ تېروو چې د غنمو پوستکي ایسته شي. بیا اوبه او اوړه ورسره ګډوو. بیا یې په لوی دېګ کې اچوو او له ماخستنه تر سهاره پورې یې پر نغري پردو. ښځې او نجونې په نوبت سره په دېګ کې ځمڅۍ وهي چې ښېخ یې ونه سوځي. دا نو ښه مېله هم وي. ښځې دایره وهي او ورسره دا سندره وايي چې:

سمنک در جوش ما کفچه زنیم

دیگران در خواب ما دفچه زنیم

ګلوزرې ځیرک ته ورو دکه ورکړه، ویې ویل: څنګه په سمنک داسې شخوند وهې او زما خوراک دې هېر کړی دی.

ځیرک موسکی شو، ویې ویل: رښتیا وایې. ما چې هغه د زمري او چنګاښ دایرې ولیدې، هر څه رانه هېر شول.

څو شېبې وروسته یې وویل: هو رښتیا، له سمنګان څخه چې بلخ ته تلو، دوې کیسې مې درته وویلې. یوه یې د هماغه الوت وګڼه، بله یې په دې سفر کې حساب کړه.

ګلوزرې په خندا وویل: امممم! تا خو سم حساب راپسې نیولی دی. هاهاهاها. بل سفر ته تیار شه.

ځیرک له مېرمنې مننه وکړه او د ګلوزرې پر څټ سپور شو.

eilia.org



ګلوزرې چې څنګه والوته، ويې ويل: وږې يمه. هله نو خوراک مې راکړه.

ځيرک وويل: مالګه دې په کې وي که نه؟

ګلوزرې وويل: که د سمنک غوندې خواږه وي خو مالګه نه غواړي.

ځيرک وويل: سمه ده. کيسه داسې ده چې يو پاچا و، درې يې لوڼې وې. يوه ورځ پاچا له لوڼو څخه پوښتنه وکړه: زه دربانديې ګران يم؟

ټولو لوڼو يې وويل: خود راباندې ګران يې.

پاچا پوښتنه وکړه: څومره درباندې ګران يم؟

مشرې لور يې وويل: د الماس غوندې راباندې ګران يې.

منځوۍ لور يې وويل: د ياقوت په شان راباندې ګران يې.

کشرې لور يې وويل: لکه مالګه راباندې ګران يې.

پاچا کشرې لور ته غوسه شو چې مالګه نو څه شی دی؟ تر مالګې ارزانه او بې ارزښته شی هم شته؟

لور يې له کوره وشړله.

نجلۍ ولاړه، ولاړه، ولاړه، يوې بلې پاچاهۍ ته ورسېده. دا نو ډېره ښايسته وه. سترګې يې د آسمان په رنګ نيلي وې، ويښتان يې د سرو زرو په شان زرين وو او پخپله تکه سپينه.

د بلې پاچاهۍ شاهزاده په ښکار پسې راوتی و. د غره په لمن کې يې يوه غرڅه وليده. له آسه کښته شو. ورو ورو روان شو. غرڅې ته ورنژدې شو. غشی يې په لينده کې کېښود. نښه يې برابره کړه. لا يې غشی نه و خوشی کړی چې نجلۍ غرڅه په يوه وړه تيږه وويشته. غرڅې منډې کړې او د شاهزاده غشی خطا ولاړ.

شاهزاده سخت په غوسه شو. د نجلۍ خوا ته يې منډې کړې خو څنګه چې ورورسېد او د نجلۍ سترګو ته يې وکتل، پرې مين شو. نجلۍ هم داسې ښايسته ځوان کله نه و ليدلی.

eilia.org



هغه هم پرې مينه شوه.

شاهزاده نجلۍ د خپل پلار ماڼۍ ته بوتله او واده يې ورسره وکړ.

کلونه تېر شول. نجلۍ په پلار او خويندو پسې ډېره خپه شوې وه. يوه ورځ يې مېړه تــه وويل چې هغوی مېلمانه کړي. نجلۍ وويل چې پخلی به زه پخپله کوم.

پلار او خويندې يې راغلې.

نجلۍ نو هر رقم خواړه پاخه کړي وو او پاچا هم سخت وږی و ځکه چې ډېــر مــزل يــې کړی. خو د هر شي څکه چې به يې وکړه، تندی به يې تريو شو. په آخر کې يې وويــل: دا شيان کوم نالايقه آشپز پاخه کړي دي. هېڅ خوند په کې نشته.

لور يې کوټې ته راننوته، ويې ويل: پلاره! ما چې درته وويل لکه مالگه راباندې گران يې، ته غوسه شوې. اوس د مالگې په قدر پوه شوې. هرڅه چې بې مــالگې وي، بــې خونــده وي.

پاچا په خپل کار پښېمانه شو او لور يې پر تندي ښکل کړه.

گلوزرې وويل: ډېره ښکلې کيسه. خو دا ووايه چې دا دومره کيسې دې څنگه زده کــړې دي؟

ځيرک وويل: انا به مې هره شپه راته کيسې ويلې. يوه نيمه کيسه مې له پــلاره زده کــړې ده او ځينې مې په کتابونو کې لوستې دي. اوهو! دې ته وگوره. د بوډۍ ټال. واه، څومره ښايسته رنگونه لري، بنفش، سور، نارنجي، زېړ، آبي، زرغون.

گلوزرې وويل: امممممم. ځکه خو يې ځينې خلک زېړه زرغونه بولي.

گلوزرې د بوډۍ ټال خوا ته والوته. پرې کېناسته. په ټاليو يې پيل وکړ. هغې او ځيــرک دواړو په لوړ غږ نارې کولې:

ټال ټال ټالۍ وهم

eilia.org



شپېلۍ وهم شپېلۍ وهم

ټال ټال ټالۍ وهم

شپېلۍ وهم شپېلۍ وهم

دا نو داسې ټال نه و لکه موږ او تاسو چې په کې ټالۍ وهلې دي. د دې هره ټالۍ له یوه غره څخه تر بل غره پورې وه. ښې ډېرې ټالۍ یې ووهلې او بیا ګل‌وزرې ځیرک تر لاسه ونیوه او کله چې ټال د غرب خوا ته روان و، ټوپ یې ورنه وکړ. دواړه په هوا کې چټک روان وو او بیا د یوې ورانې غونډۍ پر سر ودرېدل. د غونډۍ په بېخ کې غارونه وو لکه د آی خانم په غونډۍ کې چې وو.

ګل‌وزرې وویل: دا طلا تپه ده، د جوزجان ولایت. هاغه سړک وینې؟ دا سړک له شبرغان څخه آقچې ته غځېدلی دی. پنځوس کاله مخکې چې دغه سړک جوړېده، له دې غونډېو څخه یې ورته خاورې وړلې. رښتیا تر هغه وړاندې لرغونپوهانو له دې ځایه داسې لوښي موندلي وو چې څلور زره کاله پخواني وو. نو بیا چې د دې غونډۍ خاورې یې د سړک جوړولو ته وړلې، لرغونپانو حکومت ته وویل چې دا لرغونې سیمه ده او باید غرض پرې و نه کړي. نژدې و چې د سړک جوړونې بلډوزر هغه قبر وران کړي چې ډېرې طلاوې په کې پرتې وې. خو ښه شوه چې کار یې بند کړ. بیا لرغونپوهان راغلل او کیندنې یې وکړې. په همدې کې دلته یو قبر پیدا شو چې له سرو زرو ډک وو. ورپسې یې پنځه نور قبرونه هم راوسپړل. پوهېږې چې څومره سره زر یې پیدا کړل؟

ځیرک وویل: نه. نه پوهېږم. ډېر به وو.

ګل‌وزرې وویل: ډېر نه، بیخي ډېر. د سرو زرو یوویشت زره ټوټې. غاړکۍ، امېلونه، کمربندونه، بنګړي او ډېر نور طلایي شیان. لرغونپوهانو لا اووم قبر نه و لوڅ کړی چې جنګونه پیل شول. دوی خپل کار بس کړ. موندل شوې طلاوې یې د افغانستان ملي موزیم ته وسپارلې او پخپله ولاړل. بیا په جنګونو کې خلکو نور قبرونه لوټ کړل او موندل شوي شیان یې خرڅ کړل.

eilia.org







له طلاتپي څخه موندل شوي طلاوي

eilia.org



ځيرک وويل: نو دا طلاوې چا په قبرونو کې ايښې وې؟

ګل‌وزرې ځواب ورکړ: دا طلاوې د دوه زره کاله پخوا وې. هاغه مهال دلته د کوشانيانو او اشکانيانو حکومتونه وو. دا د هغې زمانې سلطنتي قبرونه وو. هغوی به له مړو سره د هغوی ګاڼې هم ښخولې. په دې طلاوو باندې عجيبې کانې وشوې. کله چې جنګونه ډېر سخت شول، ډاکټر نجيب جمهور رييس و. هغه دا طلاوې لـه مـوزيم څخـه يـوړې او د افغانستان بانک په تکاوۍ کې يې په يوه لوی اوسپنيز صندوق کې بندې کړې. د صندوق کيلي داسې جوړه شوې وه چې اوه ټوټې کېدې او که يوه ټوټه يې هم کمه وای، چـا نـه شوای خلاصولی. ده د کيلي هره ټوټه يو يو اعتباري کس ته ورکړه. وروسته بيا دا کسان نورو هېوادونو ته ولاړل. د کابل د چور په وخت کـې ډېـرو کسـانو کوښـښ وکـړ چـې صندوق مات کړي او طلاوې يې وباسي خو بريالي نه شول. بيا شپاړلس کاله مخکې چې نوی حکومت جوړ شو، هغه کسان چې د کيلي ټوټې ورسره وې، راغلـل او صـندوق يـې خلاص کړ. ته پوهېږې چې د دنيا خلک دې لرغونو آثارو ته څـومره د قـدر پـه سـترګه ګوري؟ د دې طلايي ګنج ساری په ټوله دنيا کې نشته. اوس دغه آثار د نړۍ په مختلفـو هېوادونو کې نندارې ته ايښودل شوي دي. دا د افغانستان خورا ډېر مهـم لرغـوني آثـار دي.

ځيرک هم خوشحاله و چې دومره مهم او قيمتي آثار لوټ شوي نه دي او هم په دې خپه و چې ولې زموږ خلک د خپلو لرغونو آثارو په قدر نه پوهېږي.

دی په همدې چورت کې و چې يو غږ يې واورېد: سلام عليکم. قنداق سن.

شا ته يې وکتل. يو سړی چې برګه چپنه يې په تن او سره خولۍ چې په تور تار ګلونه په کې ګنډل شوي وو، پر سر يې وه. ورسره د ځيرک په عمر يوه نجلۍ هم غونـډۍ تـه پـه ختو وه.

ځيرک هم سلام وکړ.

سړي وويل: ته هم لکه چې د بهشتې بېګم غوندې غواړې هرڅه په خپلو سترګو ووينې؟

eilia.org



نجلۍ وويل: بهشته بېګم زما نوم دی. ما په کتاب کې د طلا تپې په اړه یو مطلب لوستی و. بیا مې پلار ته وویل چې ما طلا تپې ته بوځه.

ځیرک هم ځان ورته معرفي کړ او ویې ویل چې غواړي د وطن لرغوني او ښایسته ځایونه وګوري. بهشتې بېګم ایله دومره معلومات درلودل چې په طلا تپه کې د لرغونو زمانو د طلاوو خزانه پیدا شوې وه. ځیرک هغه خبرې ورته وکړې چې له ګلوزرې نه یې اورېدلې وې.

بهشتې بېګم او پلار یې د ده خبرو ته په ځیر غوږ نیولی و.

دوی د خپل کور کلي او کورنیو په اړه هم خبرې وکړې. دوی د غونډۍ له سره ورو ورو کښته شول. د غونډۍ په بېخ کې غارونو او کندو ته تم شول او په ځیر یې ورته وکتل.

بیا د بهشتې بېګم پلار وویل: ته خو مسافر یې نو شپه به زموږ مېلمه شې.

ځیرک ګلوزرې ته وکتل. هغې ورته په سترګو اشاره وکړه چې ویې منه.

هلته لاندې د بهشتې بېګم دوی موټر ولاړ و.

ځیرک ورسره روان شو او درې واړه موټر ته وختل.

د بهشتې بېګم دوی کور په شبرغان کې و. ځیرک پوهېده چې شبرغان د جوزجان ولایت مرکز دی او زیاتره اوسېدونکي یې اوزبیکان دي.

کور ته چې ورسېدل، پلار بهشتې بېګم ته وویل: لورې! د قوشخانې ور خلاص کړه.

ځیرک پوه شو چې قوشخانه، د مېلمنو کوټې ته وایي.

اوږده کوټه وه. پر غولي یې ښایسته غالۍ هوارې وې. ځیرک چې پر غالۍ پښه کېښوده، غالۍ ورته متفاوته ښکاره شوه، نرۍ خو ډېره نرمه. د توشکو او بالښتونو پوښونه هم د غالیو وو. پر دېوال یوه هینداره ځړېدلې وه چې چارچاپېره یې د غالۍ ګلداره چوکاټ و.

ځیرک چې کېناست، د غالۍ څنډه یې پورته کړه. پر مخ او شا یې لاس تېر کړ. ویې ویل:

eilia.org



څومره پسته او سپکه ده.

بهشتۍ بېگم وويل: دا مَور غالۍ ده، له ورېښمو یې جوړوو ځکه داسې نرمه ده.

ځيرک پوښتنه وکړه: پخپله یې جوړوئ؟

بهشتۍ بېگم ځواب ورکړ: خود. چای به وڅښې چې دمه دې جوړه شي، بيا به دې کارګاه ته بوځم.

پلار یې وويل: آفرين لورکۍ. هله نو اول چای راوړه.

د غالۍ اوبدلو کارګاه له لرګيو جوړ شوی لوی چوکاټ و. ډېر کلک تارونه په عمودي ډول په کې تېر شوي وو. د بهشتۍ بېګم مور ورته ناسته وه د مختلفو رنګونو وړۍ یې څنګ ته پرتې وې. هغې به کله يو رنګ او کله بل رنګ وړۍ د عمودي تارونو په منځ کې تېرولې او په يوه اوسپنيز ږمنځ به یې ټکولې چې ټينګې شي.

دا اول وار و چې ځيرک د غالۍ اوبدلو کارګاه ليدله.

د شپې ډوډۍ قابلي پلاو و. وريجې، مميز، او غوښې سره ګډې پخې شوې وې. وريجې نو داسې پستې وې لکه سپنج خو ډېرې غوړې هم وې. ځيرک چې ګوله خولې ته نږدې کړه، يو خوندور ورېږم یې احساس کړ چې له وريجو پورته کېده.

بهشتۍ بېګم وويل: مور وريجې د کونځلو په تېلو کې پخوو.

تر ډوډۍ وروسته ځيرک بهشتۍ بيګم او پلار ته یې د هغو ځايونو کيسې وکړې چې په دې څو ورځو کې یې ليدلي وو. پنجشېر، د نوشاخ څوکه، د پامير غرونه، د شيوا جهيل، آی خانم، کندوز، تخت رستم، بلخ ....

بهشتۍ بېګم به د هر څه په اړه پوښتنې کولې او ځيرک به ورته ځوابونه ويل. د دوی مجلس دومره خوږ و چې د وخت په تېرېدو بيخي پوه نه شول.

بهشتۍ بېګم وويل: کاش ما هم داسې ځايونه ليدلي وای.

eilia.org



د ځيرک غوږو ته د ګلوزرۍ غږ راغی: ورته ووايه چې له پلاره دې اجازه واخلي او راسره ولاړه شي.

ځيرک چې دا خبره ورته وکړه، د بهشتې بېګم پلار پوښتنه وکړه: رښتيا ته پخپله دلته لــه چا سره راغلی يې؟

ځيرک ته د ګلوزرۍ آواز وويل: سپينه خبره ورته وکړه.

ځيرک چې د ګلوزرۍ کيسه وکړه چې څنګه له هګۍ څخه راووته او څنګه يې دی تر دې ځايه راوړی دی، بهشتې بېګم وويل: نو هغه اوس چېرې ده؟

له انګړه آواز راغی چې زه دلته يم.

درې واړه انګړ ته ورووتل. د بهشتې بيګم خوله له حيرانۍ وازه پاتې وه. پــلار يــې هــم حيران حيران ورته کتل.

د بهشتې بېګم پلار وويل: تاسې کوټې ته ورننوځئ، زه له ګلوزرۍ سره يو څــو خــبرې لرم.

ځيرک او بهشته بېګم څو دقيقې په کوټه کې يوازې ناست وو.

بيا د بهشتې بېګم پلار راغی. ځيرک او بهشتې ورته وکتل. بهشتې په زړه کې ويل: کــاش ما ته اجازه راکړي.

پلار يې موسکی شو او ويې ويل: ګلوزرۍ وويل چې د رخصتۍ په پای کې به دې بېرته راولي. نو اوس خپلې کوټې ته ورشه، ويده شه چې سبا به له خيره په سفر ځې.
بهشته بېګم ولاړه خو تر ډېره وخته ويښه وه. د سبا د سفر چورتونه يې وهل. په زړه کې يې تېرېدل چې د ګلوزرۍ پر شا کېناستل او هوا ته پورته کېدل به څومره خوندور وي. خو خوب نو تر هر شي زورور وي. په آخر کې يې سترګې سره ورغلې او ويده شوه.
سهار ځيرک او بهشته بېګم د ګلوزرۍ پر شا سپاره شول. ګلوزرۍ والوته. بهشته بېګم نو داسې زړوره وه چې هېڅ ونه وېرېده.

eilia.org





ګل‌وزرې چې ښه په هوا شوه، ويې ويل: دا وار سفر مو لږ اوږد دی او زه وږې يمه.

بهشتې بېګم وويل: وی. زما خو بيخي هېره شوه چې تا ته ډوډۍ درکړم.

eilia.org



ګلوزرې وويل: زما خوراک ځيرک ته معلوم دی.

کله چې بهشته بېګم پوهه شوه چې د ګلوزرې خوراک کيسې دي نو ويې ويل: دا خو آسانه خبره ده. زه به درته د اوزبيکي ژبې يوه کيسه ووايم.

و نه و يو سپين ږيری و. هغه درې زامن لرل. يوه ورځ دې سپين ږيري خپلو زامنو ته وويل: ګرانو زامنو! تاسو درې واړو ته يوه اندازه پيسې درکوم. تاسې په درېو لارو لاړ شئ او په دې پيسو آبادي وکړئ. کله چې مو آبادي خلاصه شوه، بېرته راشئ.

درې واړو زامنو د سهار لمونځونه وکړل، چای يې وڅښل او ووتل. هر يو يې په بېله لاره ولاړ.

مشر زوی يې ولاړ، ولاړ، ولاړ او يوې دښتې ته ورسېد. په دښته کې يوه څلور لارې وه. ده په ډېرې خوارۍ هلته يوه ماڼۍ جوړه کړه. له هرې خوا به چې کاروانونه راغلل، د ماڼۍ له يوې خوا به ورننوتل او له بلې خوا به يې وتل .

دوهم زوی له سيمې ووت. ډېره لاره يې ووهله. له غرونو او دښتو واوښت، په سيندونو پورې شو او له ځنګلونو تېر شو. په آخر کې داسې ځای ته ورسېد چې ښه ښايسته هوا او خوږې اوبه يې وې، باغونه او چمنونه په کې وو. ده هلته يوه ماڼۍ جوړه کړه. دلته به هم چې کاروانونه له هرې خوا راتلل، په دې ماڼۍ کې به تېرېدل.

درېيم زوی تله، تله، تله يوه ښار ته ورسېد. هلته هر څوک په خپل کار و بار پسې روان وو. يو سړی راغی او له دې ځوان نه يې پوښتنه وکړه چې ته څوک يې؟ له کومه ځايه راغلی يې؟ چېرې ځې؟

ده وويل: زه ستاسو نابللی مېلمه يم. له بل ښاره راغلی يم. په دې ښار کې مسافر يم .

سړی وويل: نو نن شپه به زما مېلمه شې.

ځوان يې کور ته بوت. ښه مېلمستيا يې ورکړه او د شپې تر ناوختـه پـورې يـې ورسره کيسې وکړې.

eilia.org



ځوان هم د خپل ښار او پلار کیسه ورته وکړه او ويې ویل چې ولې يې دومره اوږده لاره وهلې ده. دوی تر ډېره وخته پورې کیسې وکړې او ښه سره ملګري شول. هغه ځوان بیا دی خپلو نورو ملګرو ته معرفي کړ. دوی ډېرې شپې ورځې سره تېرې کړې او د یو بل په خوی بوی ښه پوه شول نو ملګرتیا يې ټینګه شوه.

ډېره موده وروسته، درې واړه ورونه بېرته کور ته راغلل.

پلار يې ورته وویل: اوس به نو زه درسره لاړ شم او د هر یوه آبادي به وګورم.

د مشر زوی ماڼۍ يې ولیده چې پـه وچ ډاګ کـې ولاړه وه او يـوازې کاروانونـه ځنـې تېرېدل. د دوهم زوی ماڼۍ يې ولیده چې په شنه سمسوره سیمه کې يې جـوړه کـړې وه خو په دې ماڼۍ کې هم هېڅ څوک نه وو.

بیا نو له کشر زوی سره بل ښار ته ولاړل.

دوی چې څنګه هغه بل ښار ته ورسـېدل، لــه هــرې خــوا څخــه د درېـیم زوی ملګــري راورسېدل. ټولو د هغوی هرکلی وکړ. هر چا ورته مېلمستیا وکړه. پلار او زامن يـې لــس پنځلس شپې هلته تېرې کړې. ډېر قدر او عزت يې وشو. ښې کیسې او ښــې خــبرې يــې واورېدې.

دوی چې بېرته خپل کور ته ولاړل، درې واړه زامن دې ته منتظر وو چې پــلار بــه د چــا آبادي خوښوي.

مشرانو ورونو په زړه کې ویل چې دا کشری ورور خو مو هېڅ آبــادي نــه وه کــړې نــو ګټونکی به موږ یو.

خو پلار يې وویل: اصلي آبادي د ملګرتیا جوړول دي، د دوســتانو پیــدا کــول دي، نــه د ماڼیو جوړول.

ګلوزرې وویل: ډېر ښه. نو زه چې ګورم ته او ځیرک هم په آبادۍ کې تکړه يــئ. تاســې دواړه ښه پوهېږئ چې څنګه دوستي او ملګرتیا جوړه کړئ. ښه نــو اوس ځانونــه ټینــګ

eilia.org



کړئ.

په هوا کې یو تونل ښکاره شو. تونل ډېرې کړۍ درلودې، لکه د بنګړیو درځنونه چې ځنګ په ځنګ کتار وي. د تونل کړۍ هم د بنګړیو غوندې په مختلفو رنګونو وو. سپینې، تورې، سرې، شنې، زېړې ...

دوی چې په تونل کې ورانديې تلل، له مختلفو رنګونو مختلف آوازونه راتلل. کله د خندا او خوشحالۍ شور او ځوږ، د ډول درزا او د اتڼونو دربا او کله د تورو شرنګا او د ویر او ژړا آوازونه؛ کله د ودانولو غږ او کله د ورانولو؛ یو ځای کې د برم او ویاړ غږونه او بل ځای کې د شرم او خجالت؛ چېرته د ښېرازۍ او آبادو فصلونو آواز او چېرته د وچکالۍ او قحطۍ.

دوی ډېر مزل وکړ او بیا د لوړو غرونو په منځ کې یوې درې ته کښته شول. ګلوزرې ځیرک او بهشتې بېګم ته وویل: تاسې د دې ځای ننداره وکړئ، زه به وروسته درپسې راشم.

په دره کې د رڼو اوبو سیند بهېده. یو بل وړوکی سیند چې له تنګې درې راغلی و، په همدې ځای کې له دې بل سیند سره یوځای کېده. یو هوار خو خام سړک له شرق څخه غرب ته غځېدلی و. له لرې د آسونو د پښو دربا راغله. ځیرک او بهشتې بېګم د غږ لوري ته وکتل. یو لوی لښکر راروان و. د آسونو د ځغاستې په وجه دوړې هوا ته پورته شوې وې.

درزه درزه درزه.

له لرې څخه د ډول غږونه پورته شول. ورسره د سورنې آواز هم ملګری شو. بیا له لرې څخه یو چا نارې کړې: اې د خدای بندګانو! سلطان غیاث الدین محمد بن سام او فاتح لښکر یې راورسېدل.

د خلکو شور او ځوږ په هوا کې خور شوه.

بیا ډول وډنګېده.

eilia.org



جارچي وويل: اې خلکو! زموږ سلطان، د الله په فضل سره غزني فتح کړ.

پر آسونو د سپرو جنګياليو لښکر وار په وار سره رانژدې کېده.

د غونډيو پر سر له دوه پوړيزو کورنو او کلاګانو څخه ډلې ډلې خلک راووتل. د خلکو جامې بل رقم وې. اوږده کميسونه چې ګردې لمنې يې وې او د ښځو د جامو غونډې په ملا کې پرکونه لرل. کميسونه په سپين رنګ خو پرتوګونه په نورو رنګونو. ټول ږيرور او پګړۍ والا. په پښو کې يې له لرګيو څخه جوړې کڼاوې او په ملاوو پورې يې ساتوې او تورې.

خلک د سيند پر غاړه لوی جومات ته نژدې راټول شول او لښکر هم راورسېد. د لښکر په سر کې دوه هډور سړي روان وو او ورپسې درې نور دنګ او مټور ځوانان چې دوه بيرغونه يې په لاسونو پورته نيولي وو. د دوی پر ټټرو د اوسپنې زغرې ښکارېدې او د ځينو پر سرونو د زغرو خولونه وو.

خلکو نارې کولې: الله اکبر، الله اکبر.

دوه په عمر پاخه کسان وروړاندې شول او د هغو دوو کسانو د آسونو قيضې يې ونيولې چې تر ټول لښکر وړاندې روان وو. هغوی له آس څخه راکوز شول. له څو تنو سپين ږيرو سره يې په غېږه سترې مه شي وکړه.

ټولو خلکو نارې کړې: خدای مو راوله! سترې مه شئ سلطان غياث الدينه او زړور معزالدينه!

ورپسې نور لښکريان هم له آسونو څخه راکوز شول. د چا په لاس کې توره، د چا په لاس کې سانګه يا نيزه او له چا سره غشي او ليندۍ.

يوازې هغه دوه تنه چې بيرغونه يې په لاسو کې وو، هماغسې پر آسونو ناست وو.

سلطان غياث الدين د سيند غاړې ته ورغی. پر يوې تېږې کېناست. خول او زغره يې وايستل او څنګ ته يې کېښودل. له څرمنو جوړې اوږدې موزې يې له پښو وايستې.

eilia.org



لستوڼي يې رابډ وهل. اودس يې وکړ. په څادر يې مخ لاس وچ کړل. بيا د جومات خوا ته ولاړ. جومات له پخو خښتو جوړ و. انګړ يې په هوارو تيږو پوښلی و.

سلطان غياث الدين د جومات په برنډه کې دوه رکعته نفل لمونځ وکړ.

سپاهيان د سيند په غاړه کې کېناستل. په ټوکو او خنداو سره يې مخونه پرې مينځل. د لارې ګردونه يې له مخونو لرې شول.

بهشتې بېګم وويل: ځيرکه! دا نور څه رقم کالي دي؟ څومره پېر دي.

ځيرک او بهشته بېګم د يوه سپاهي خوا ته ورغلل. د هغه په څنګ کې يو رقم کالي پراته وو چې لستوڼي يې نه وو او د ګرېوان په ځای کې يې يوازې يو ګرد سوری په کې ښکارېده. ځيرک کالي ته لاس يووړ چې راپورته يې کړي خو ډېر دروند و نو بېرته يې کېښود.

سپاهي ورته وخندل، ويې ويل: زلميه! ته به هم زموږ غوندې پهلوان شې او همداسې زغره به اغوندې.

ځيرک وويل: زغره خو د اوسپنې وي خو دا له بل شي نه جوړه شوې ده.

سپاهي وويل: امممم. بالکل. د اوسپنې زغره په ډېرو پيسو جوړېږي. دا موږ پخپله د غوا له څرمنې جوړوو. د غوا د څرمنې پر دواړو مخونو باندې ښه پرېمانه پَخته ږدو، بيا يې پر مخ باندې ټوکر ګنډو. پوهېږې! دا چې واغوندو هېڅ غشی ورنه نه شي تېرېدای. غزنی مو د همدې زغرو په برکت ونيو. دوی چې څومره د غشو وار راباندې وکړ، موږ ټول سپاهيان د دېوال غوندې د يو بل په څنګ کې ولاړ وو او غشيو راباندې کار نه کاوه.

له جومات څخه يو دروند غږ راغی:

بسم الله الرحمن الرحيم. نصر من الله و فتح قريب.

ځيرک او بهشته بېګم ژر ژر د جومات خوا ته ورغلل.

eilia.org



ډېر خلک د جومات په غولي کې راټول وو. ښځې او نجونې د شا و خوا غونډيو د کلاګانو بامونو ته ختلې وې او د سلطان ننداره يې کوله.

سلطان د جومات په برنډه کې ولاړ و. هغه په لوړ غږ وويل:

عزيزانو!

د الله تعالی په فضل او مرحمت او ستاسو د دعاګانو په برکت مو غليم مات کړ.

ټولو خلکو د الله اکبر نارې وکړې.

سلطان بيا د هغه بل هډور پهلوان پر اوږه لاس کېښود چې د لښکر په سر کې له ده سره جوخت روان و. سلطان په موسکو شونډو هغه ته وکتل او ويې ويـل: زمـا مېړنــی ورور معزالدين خان دې د الله تعالی په حفظ کې وي، د ده سپاهيانو توره وکـړه او غزنــی يــې فتح کړ. د همدې فتحې په خاطر به دلته د دې جومات په څنډه کې يــو مينــار جــوړوو. داسې مينار چې مثال به يې په ټوله دنيا کې نه وي. نه به يې په جګوالي کې ســيال پيــدا شي، نه يې په ښکلا کې. دا مينار به زموږ د فتحې نښه وي. بله غزا به مو په هندوســتان کې وي. که خدای کول، اسلام به د هندوستان هغو ځايونو ته رسوو چې لا تر اوسه هــم خلک په کې د بتانو عبادت کوي.

د الله اکبر نارې بيا پورته شوې.

پر سبا يې سلطان په نويو جامو کې راغی. اوږده توره چينه چې زري چرمې په کې ګنډل شوې وې، ګرده اوږده خولۍ چې يو غټ فيروزه‌يي غمی په کې ټومبل شوی و. خورا ډېر خلک د جومات شاوخوا ته راټول وو. د جومات له دېوال سره نژدې ډېرې پخــې خښــتې، خاوره او ګچ کوټه شوي وو.

مولوی د قرآن شريف يوه سوره تلاوت کړه او بيا يې دعا وکړه.

يوه په عمر پاخه سړي پر ځمکه کرښې وايستې. له کرښو څخه يو لوی اته ګــوټيز شــکل جوړ شو. د دې شکل ټول ګوټونه سره يو شان وو. خلکو په کار پيل وکړ. چا په هغو ژيو

eilia.org



چې د وزې له پوستکي جوړ وو، له سيند څخه اوبه چلولې، چا خاوره او ګچ خيشتول، يو دوه تنه د اته ګوټيز شکل په منځ کې ولاړ وو. چا ورته خښتې ورکولې، چا په خټينو تاليو کې لندې خټې او ګچ ورته رسول او هغوی خښتې د يو بل په څنګ کې منظمې لګولې.

يو دنګ مينار جوړ شو. دومره دنګ چې ځيرک او بهشتې بېګم هېڅ کله دومره دنګ مينار نه و ليدلی. مينار په بېخ کې اته ګوټيز و خو بيا وروسته ګرد شوی و او څو پوړونه يې لرل. مينار چې څومره پورته کېده هماغومره به نری کېده. د مينار پر دېوالونو له پخو خښتو څخه ښکلي هندسي شکلونه کښل شوي وو. په پاسنۍ برخه کې يې د شهادت کلمه او د قرآن کريم څو آيتونه په خښتو سره ليکل شوي وو او بيا په نيلي رنګ رنګول شوي وو.

دا هر څه ځيرک او بهشتې بېګم ته داسې ښکارېدل لکه په ټلويزيون کې چې د فلم صحنې ژر ژر تېرې شي. دوی د څو مياشتو کار په څو شېبو کې وليد.

مينار چې جوړ شو، ټولو خلکو له لاندې ورته کتل او لاسونه يې د سرونو شا ته نيولي وو چې لونګۍ يې ونه لوېږي. سلطان بيا راغی او معمارانو ته يې له څرمنو نه جوړه يوه يوه کڅوړه ورکړه. کڅوړې له سرو زرو ډکې وې. پر کارګرانو يې هم د سرو زرو سيکې ووېشلې.

ځيرک يو وارې په لوړ غږ وويل: اوهو! دا خو مينار جام دی. ما په ټلويزيون کې ليدلی و. دا مينار په غور کې دی. بهشتې! ته پوهېږې چې دا څومره لوړ دی؟ ٦٥ متره لوړ دی.

شاوخوا ته ولاړو کسانو ځيرک او بهشتې بېګم ته په رډو سترګو وکتل.

يوه يې وويل: وا هلکه! دا ټلبيزون يې لا څه شی دی؟ متر يې لا څه بلا ده؟

ځيرک کټ کټ وخندل، ويې ويل: ټلبيزون نه، ټلويزيون. تاسې يې نه پېژنئ؟ په ټلويزيون کې خبرونه وايي، فلمونه په کې ښيي، کارټوني فلمونه او ښکلې خپرونې.

هغه سړي وويل: دا څه ګډې وډې وايې؟ اوهو! دا د تاسو جامې خوم بل ور دي.

eilia.org



بل سړي وويل: رښتيا وايې. ژبه يې بدله ده. پېريان خو به نه وي؟ کسم ده چې پېريـان دي.

يو دم نارې شوې: وا خلکو! پېريان دي. پيريان دي.

خلک ورو ورو شا ته لاړل. چا توبې ايستلې، چا بسم الله الرحمن الرحيم ويل، چا پر خوله لاس ايښی و او ځو کسانو خو منډې واخيستې.

سلطان په لوړ غږ وويل: دا څه شور مو جوړ کړی دی؟ څه خبره ده؟

هغه د ځيرک او بهشتې بېگم خوا ته روان و. خلک لږ په شا شول او سلطان تــه يــې لاره ورکړه.

د ځيرک او بهشتې بېگم رنگ الوتی و. زړونو يې ټکان کاوه. سترگې يې رډې راختلې وې.

سلطان يې مخې ته ودرېد.

د ځيرک په څنگ کې ولاړ سړي وويل: زموږ سلطانه! ورته وگوره! کالي يــې بــل ور دي. خبرې يې زموږ غوندې نه دي. د پېريانو اولاد به وي.

سلطان پوښتنه وکړه: زلميه! څوک يې؟

ځيرک په لړزانده غږ وويل: زه ځيرک يم. له کابل نه راغلی يم.

سلطان وويل: ځيرک؟ دا نو څه رقم نوم دی؟

هغه بل سړي وويل: صاحبه! د پېريانو ژبه کوي، وايي ما دا مينار په ټلبيزون کې ليـدلی، ټلبيزون و که څه بلا وه.

ځيرک وويل: ټلويزيون.

سلطان پوښتنه وکړه: په کابل کې مو حاکم څوک و؟

ځيرک وويل: حاکم؟ هلته خو جمهور رييس دی، حاکم نشته. خلکو په انتخاباتو کې خپل

eilia.org



جمهور رییس وټاکه.

د سلطان سترګې تنګې شوې، ویې ویل: جمهور رییس یې لا څه شی دی؟

په همدې کې ګلوزرې د ځیرک په څنګ کې کېناسته او ویې ویل: ژر کوئ! هله راسپاره شئ!

ځیرک او بهشتي بېګم د ګلوزرې پر څټ ورټوپ کړل او ګلوزرې د سترګو په رپ کې په هوا شوه.

څو دقیقې وروسته ګلوزرې په هوا کې دوره وکړه. کله چې دوی ښېرته د هماغه ځای له پاسه تېرېدل، یوازې مینار ښکارېده، نه هغه خلک وو، نه هغه جومات، نه د غونډیو پر سر کلاګانې، نه هغه لښکر د سپاهیانو. مینار هماغسې ښکارېده چې ځیرک په ټلویزیون کې لیدلی و. یو سیند له شرق څخه غرب ته بهېده او بل له شمال څخه راغلی و او د مینار په څنګ کې سره یوځای شوي وو. یو د هریرود سیند او بل د جام سیند.

eilia.org






په غور ولايت کې منار جام

ځيرک او بهشته بېگم حيران وو چې دا څه کيسه ده.

گلوزرې وويل: مه حيرانېږئ! ما نه سوه کاله پخوا وخت ته بيولي وئ. هاغه وخت ته چې د جام مينار په کې جوړېده او سلطان غياث الدين غوري پاچا و. د هغه پاچاهي د ايران له نيشاپوره د هندوستان تر بنارسه پورې وه. دا سيمه يې د اوړي پايتخت و او ژمنی پايتخت يې زمينداور و، په هلمند کې.

eilia.org



ځيرک وويل: اوه! په ما کې خو دې ساه وچه کړه.

بهشتې بېگم وويل: څومره جالبه خلک وو. په مورې يې د پېريانو گومان کړی و.

ټولو کټ کټ وخندل.

گلوزرې وويل: پوهېږئ، دا مينار د مهندسۍ شهکار بلل کېږي. د غوريانو په وخت کې همداسې يو بل مينار په ډيلي کې هم جوړ شوی دی. قطب الدين ايبک چې د غوريانو له خوا د ډيلي حاکم ټاکل شوی و، هلته يې يو ښکلی دنگ مينار جوړ کړی و چې اوس هم شته او خلک يې قطب مينار بولي. وه پېريانو! هلئ، شاباس زما خوراک راکړئ. د څو سوه کالو سفر مې کړی دی، وږې شوې يمه.

بهشتې بېگم وويل: دا چې ته تېرو وختونو ته سفر کولی شې، دا ستا عادت وبولو که ستا هنر؟

گلوزرې وويل: امممم، ستا خوښه چې هر څه يې بولې خو خوراک به مې نه قضا کوې.

بهشتې بېگم وويل: نو غوږ شه چې زه د نظامي گنجوي د کتاب يوه کيسه درته ووايم.

وايي يو پاچا و. يوه کنيزه يې ډېره ورباندې گرانه وه. پاچا به چې هر چېرته تله، کنيزه به يې هم بيوله. يوه ورځ پاچا ښکار ته ولاړ. يو کبلی يې وليد. پاچا نو په ښکار کې ډېر تکړه و. کنيزې ته يې وويل: ته راته ووايه چې دا کبلی څه رقم درته وولم.

د کنيزې زړه نه کېده چې کبلی وويشتل شي. نو فکر يې وکړ چې داسې څه بايد ووايي چې پاچا يې ونه کړای شي او کبلی وتښتي.

کنيزې وويل: داسې يې ووله چې لاس يې په تندي پورې وگنډل شي.

پاچا يوه تيږه راپورته کړه. کبلی يې پر تندي وويشت. کبلي لاس تندي ته يووړ چې د درد ځای وسولوي. په همدې وخت کې پاچا لينده ورته برابره کړه او د غشي ـ وار يې ورباندې وکړ. غشی د کبلي له لاس څخه تېر شو او په تندي پورې يې ښخ شو نو د کبلي لاس په تندي پورې وگنډل شو.

eilia.org



پاچا ودرېد او په فخر سره يې وويل: څنګه و؟

د کنيزې زړه پر کبلي خوږ شوی و، نو ويې ويل: ته خو هره ورځ ښکار کوې نو دا دې عادت شوی دی.

پاچا ته سخته غوسه ورغله. ويې ويل: ته څنګه زما هنر عادت بولې؟

دې سره يې کنيزه وشړله.

پاچا او ساتونکي يې لاړل او کنيزه په صحرا کې پاتې شوه.

کنيزه تله، تله، تله، څو پورې چې د يوه سپين ږيري بزګر کلا ته ورسېده. بزګر نو يوازې سر اوسېده، نه يې ښځه وه او نه اولاد.

کنيزې ورته وويل: ما ته په خپل کور کې ځای راکړه. زه به درته ډوډۍ پخوم، کالي به دې مينځم او د کور نور کارونه به کوم.

بزګر نو له خدايه څه غوښتل. کنيزه يې کور ته بوتله.

په همدې وخت کې د بزګر غوا نوې لنګه شوې وه. يو ګلالی سخی يې زېږولی و. په کلا کې يو ډېر لوړ برج و. کنيزې به هره ورځ سخی پر اوږو کړ او د برج سر ته به يې وخېژاوه. ورځې او مياشتې تېرېدې. يو وخت له سخي نه غټ سخوندر جوړ شو خو کنيزې به بيا هم پر اوږو د برج سر ته خېژاوه.

يوه ورځ کنيزه د برج په سر ولاړه وه چې کتل يې پاچا له لرې څخه را روان دی. کنيزه ژر راکښته شوه او بزګر ته يې وويل چې پاچا ته دې ووايي چې غرمه همدلته وکړي.

پاچا د دوی مېلمه شو. ډوډۍ چې وخوړل شوه، کنيزې بزګر ته وويل: پاچا ته ووايه چې زما هنر دې وګوري.

کنيزې چې مخ يې پټ کړی و، غټ سخوندر يې پر اوږو کړ او د لوړ برج سر ته يې وخېژاوه.

eilia.org



بیا یې پر پاچا غږ وکړ: پاچا صاحب! څنګه و زما هنر؟

پاچا وخندل او ویې ویل: ته نو همداسې عادت شوې یې. هره ورځ به دې خوسی خېژولی وي.

کنیزې مخ لوڅ کړ او ویې ویل: که کنیزه د پاچا هنر عادت وبولي، شړل کېږي خو که پاچا پخپله د نورو هنر ته عادت وایي، بیا هېڅ خبره نه ده.

پاچا په خپل کار پښېمانه شو او کنیزه یې بېرته خپلې ماڼۍ ته بوتله.

ځیرک چکچې وکړې او ګل‌وزرې وویل: آفرین! څومره ښه کیسه وه. بس نو زما هنر ته به هنر وایې ګنې زه به هم هماغه کار وکړم چې پاچا کړی و.

ځیرک په خندا وویل: پاچا خو کنیزه په صحرا کې پرې ایښې وه خو که ته داسې وکړې نو زه او بهشته بېګم به له آسمانه ځمکې ته ولوېږو.

ټولو وخندل.

بهشتې بېګم وویل: ځیرکه! لاندې وګوره! د سلما بند.

دوی له غور څخه تر دې ځایه پورې د هري رود لــه پاســه مــزل کــړی و او پــه چشــت ولسوالۍ کې د سلما بند ته رسېدلي وو. د بند شا ته ډېرې اوبــه راټــولې وې او د بنــد د دېوال پر سر د افغانستان بیرغ رپېده. له بند څخه د برېښنا دنګې ستنې د هرات ښار تــه غځېدلې وې.

ګل‌وزرې د هریرود سیند له پاسه الوت کاوه. ښه وړاندې ولاړه او بیا د ســیند پــر غــاړه کېناسته. په دې ځای کې پر سیند باندې یو اوږد پل ښکارېده. پل له پخو خښــتو داســې جوړ شوی و چې ۲۲ ورخه په کې و. د هر ورخ دوو خواوو ته د خښتو پلن دېوالونه او د دېوالونو پر سر طاقونه وو.

eilia.org





په هرات کې د هريرود سيند له پاسه، پل مالان (عکس د ښاغلي نجيب الله مسافر)

د پله له خوا څخه د دايرې غږ پورته شو. پله ته نږدې څو تنه ځوانان د سيند پر غاړه ناست وو. يوه يې دايره وهله او بل يې دا سندره شروع کړه:

سرِ پلِ مالان دختری دیدم

قشنگ و زیبا، او را پسندیدم

قدش بلند بود

راست میگی؟

موهایش چنگ بود

راست میگی؟

ځيرک او بهشته بېگم ورغلل او د هغوی په څنګ کې کېناستل. سندره خلاصه شوه. ټولو چکچې وکړې.

eilia.org



بهشتۍ بېګم وويل: پل مالان همدا دی؟

هغه ځوان چې سندره يې ويله، وويل: پخپله همدا دی.

ځيرک پوښتنه وکړه: دا پل چا جوړ کړی دی؟

يوه ځوان وويل: دا برزو جوړ کړی دی. برزو د فريدون پلار و او فريدون هغه څوک چې دا سندره يې زهرې ته ويلې وه.

ځيرک او بهشتۍ بېګم ته تلوسه پيدا شوه چې ټوله کيسه واوري.

هغه ځوان چې د دوی سترګو ته وکتل، پوه شو چې کيسه يې خوښه شوې ده نو ويې ويل: په ډېرو پخوا وختونو کې دلته خلک زردشتيان وو. د سيند په پورې غاړه کې د هغوی معبد و. خلک به چې معبد ته تلل، د سيند له اوبو څخه تېرېدل ورته ډېر سخت وو. برزو د دې معبد يو زاهد و. هغه اولاد نه درلود نو خدای ته خواست وکړ چې که ما ته دې اولاد راکړ نو زه به د دې سيند له پاسه يو پل وتړم. خدای ورته يو زوی ورکړ چې نوم يې فريدون شو. بيا نو برزو خپله ژمنه پوره کړه او دا پل يې جوړ کړ. فريدون چې زلمی شو، يوه ورځ يې زهره وليده چې له پلار سره معبد ته روانه ده او پر پله تېرېږي. فريدون پر زهرې مين شو او دغه سندره يې ورته جوړه کړه چې:

سر پل مالان دختری دیدم
قشنگ و زیبا او را پسندیدم

د ځيرک او بهشتۍ بېګم پر شونډو موسکا وه او کيسې خوند ورکړی و.

هغه ځوان چې دا سندره يې ويله، وويل: د دې پله په اړه يوه بله کيسه هم شته. وايي چې په پخوا وختونو کې دلته دوې خويندې اوسېدې چې يوه يې بي‌بي حوره او بله يې بي‌بي نوره نومېده. دوی ډېرې چرګې درلودې او کله چې دغه پل جوړېده، هغوی به د چرګو هګۍ ماتولې او په مصالح کې يې اچولې چې پل ښه ټينګ جوړ شي.

ځيرک او بهشتۍ د سيند په رڼو اوبو کې مخ لاس پرې مينځل.

eilia.org



ځوانانو وربانديې غږ وکړ: راځئ چې ډوډۍ تياره ده.

دوى غولر تروش پوخ کړی و. دا نو د هراتيانو خاص خوراک دی.

ډوډۍ چې وخوړل شوه، ځيرک وويل: سر مې ګنګس شو.

بهشتې بېګم وويل: زما هم.

ځوانانو وخندل، ويې ويل: غولر تروش دغسې دی. دا خو ډېر قوي خواړه دي نو سر ورسره ګنګسېږي.

ګل‌وزرې بهشتې بېګم او ځيرک ته اشاره وکړه چې راځئ.

دوى له هراتي ځوانانو څخه مننه وکړه او له ګل‌وزرې سره والوتل.

ځيرک پوښتنه وکړه: د پل مالان دغه کيسې رښتيا دي؟

ګل‌وزرې وويل: رښتيا دروغ خو يې خدای ته معلومه ده خو دا اوسنۍ بڼه يې چې ده، نه سوه کاله پخوا د سلجوقي سلطان سنجر په زمانه کې جوړه شوې ده. خو تر هغې مخکې دلته يو بل پل و چې د اسلام له راتګه پخوا جوړ شوی و. ګورئ! د آريايي تمدن تر ټولو پخوانی کتاب اويستا دی او په هغه کتاب کې راغلې ده چې هري يا اوسنی هرات د آريانا يو ولايت و نو دلته به خامخا داسې ودانۍ وې چې تر دوه – دوه نيم زره کاله پخوا جوړې شوې وې.

دا وار نو الوت لنډ و او څنګه چې د ګل‌وزرې خبرې خلاصې شوې د يوه لوی خورا ښايسته جومات مخې ته کېناسته. دغه لوی جومات چې پر شپاړس جريبه ځمکه جوړ شوی دی، ۳٦۰ ګنبدې او ۴۴۴ فيل پايې لري.

ګل‌وزرې وويل: زه به لږ دمه وکړم. تاسو د هرات چکر ووهئ. زه به په يوه بل ځای کې درته منتظره شم.

خلک د ماسپښين د جماعت لمونځ تمام کړی و او له جومات څخه راووتل. ځيرک او بهشته

eilia.org



بېگم د يوه لوی دېگ څنګ ته ولاړ وو چې پر بهرنۍ خوا يې د قرآن شريف آيتونه ليکل شوي وو. ديګ نو دومره لوی و چې د دوی تر قده پورته و او منځ يې ورته نه ښکارېده. له جومات څخه خلک جوپې جوپې راوتل.

څومره ډېر خلک وو!

سل نه، دوه سوه نه، پنځه سوه نه، زر نه، زرګونه کسان وو.

بهشتې بېګم وويل: ځيرکه! دا جومات به نو څومره لوی وي چې دومره ډېر کسان په کې ځای شوي وو؟

يوه سپين ږيري د دوی خبرې واورېدې، په موسکه خوله يې وويل: بچو! دا خو لا کم دي. د اختر لمانځه ته چې راشئ، بيا به يې وګورئ. يو لک کسان په دې جومات کې ځايېږي.

د ځيرک سترګې ارتې شوې، ويې ويل: يو لک کسان؟

سپين ږيري وويل: بالکل. ورشئ، د ننه يې وګورئ، بيا به يې ومنئ.

د جومات دېوالونه، ګنبدې، ستنې ټول په فيروزه‌يي رنګو ښايسته کاشيو پوښل شوي وو. پر کاشيو ډېر ښکلي او ظريف شکلونه کښل شوي وو او جالبه دا چې ټولې په يوه اندازه او په يوه بڼه وې. لکه يو عکس چې زرګونه قطعې چاپ شي او ټول کټ مټ سره يو شان وي.

خلک له جومات څخه وتلي وو. جومات خالي و. بهشتې بېګم او ځيرک د جومات د لوړو ګنبدو، ښکلو دېوالونو او دهلېزونو ننداره کوله.

بهشتې بېګم وويل: ځيرکه! ته پوهېږې چې دا جومات چا کړی دی؟

ځيرک د نه په معنا سر وخوځاوه.

له شا څخه يو ښځينه غږ راغی: زما ګرانو! زه به يې درته ووايم.

eilia.org



بهشتۍ بېګم او ځيرک د غرۍ لوري ته مخ واړاوه.

يوه مشره ښځه وه. اوږده فيروزه‌يي رنګه چپنه يې د ګونځور کميس له پاسه اغوستې وه. د چپنې په لمن، ملا او غاړه کې په زرتارو ښايسته ګلونه ګنډل شوي وو. د ښځې مخ ګونځې و خو هېڅ بده ورسره نه ښکارېده. سترګې يې ورېې وې خو له نرۍ پوزې سره يې ښې ښکارېدې. پر تندي يې د سپينو زرو ماتيکه او پر غاړه يې د سپينو زرو غاړکۍ وه چې د فيروزې غمي پرې ټومبل شوي وو.

سپين سرې ښځې وويل: ځينې خلک ګومان کوي چې دا جومات ما جوړ کړی دی خو خبره داسې نه ده. راځئ چې زه يې اصلي جوړوونکی درته وښيم.

بهشتۍ بېګم او ځيرک يو بل ته سره وکتل او په سپين سرې مېرمنې پسې روان شول. د جومات په غربي څنډه کې يو دهلېز ته ولاړل. د دهلېز په بر سر کې مېرمن ودرېده. پر دېوال لګېدلې کتيبې ته يې اشاره وکړه، ويې ويل: دا وګورئ!

کتيبه په ښکلو ګلانو او شکلونو ښايسته شوې وه، برجسته ليک وربانـدې شـوی و خـو ځيرک او بهشتۍ سم نه شو لوستلی. خط يې بل رقم و. دواړو ډېر وخت ورتـه پـه ځيـر کتل.

بهشتۍ بېګم وويل: ما يې يوه کلمه ولوسته «السلطان».

ځيرک وويل: آفرين! راځه چې همداسې ورته ځير شو. نورې کلمې به يې هم ولولو.

زړې مېرمنې پر يوې کلمې ګوته کېښوده، ويې ويل: دا ولولئ.

دوی سترګې تنګې کړې، څو شېبې يې کږې وږې کرښې وکتلې. ځيرک وويل: غـ ، غيـ

بهشتۍ بېګم يې پاتې برخه ولوسته: غيـ ياث

بيا دواړو په يوه غږ وويل: غياث الدنيا.

زړې مېرمنې وويل: آفرين! اوس پوه شوئ چې جومات چا جوړ کړی دی؟

eilia.org



بهشتۍ بېگم او ځيرک يو بل ته سره وکتل، ويې ويل: نه.

مېرمنې په موسکا وويل: سمه ده. تاسو ته د دې خط لوستل گران دي. دا په کوفي خط ليکل شوی دی. کوفي هغه خط دی چې قرآن کريم به په اول سر کې ورباندې ليکل کېده خو اوس څوک په دې خط ليکل نه کوي. گورئ! گلوزرې ما ته وويل چې تاسې يې سلطان غياث الدين غوري ته وروستلي وئ. همداسې نه ده؟

دواړو په يوه غږ وويل: هو. موږ هغه وليد.

مېرمنې وويل: بس نو، دا جومات هماغه سلطان غياث الدين غوري جوړ کړی و. د غوريانو له دورې وروسته دلته زموږ حکومت و. د دې جومات دغه کاشيکاري زموږ په حکومت کې شوې ده ځکه خو خلک گومان کوي چې جومات موږ جوړ کړی دی.

ځيرک پوښتنه وکړه: ستاسو حکومت؟

مېرمنې وويل: اوه! زما خوږو! ما هېره کړه چې ځان درته معرفي کړم. زه گوهرشاد بېگم د تيموريانو ملکه، د شاه رخ ميرزا مېرمن او د امير تيمور نږور يم. اوه سوه کاله مخکې هرات زموږ پايتخت و.

د بهشتۍ بېگم خوله وازه پاتې وه او سترگې يې په گوهرشاد بېگم پورې داسې ښخې وې چې ته وا دا به کومه مجسمه وي.

ځيرک چې د بهشتۍ بېگم دې حيرانتيا ته وکتل، په خندا يې وويل: مه حيرانېږه! دا هم د گلوزرې کمال دی. کله موږ تېرو وختونو ته ورولي او کله د تېرو وختونو خلک موږ ته راولي.

eilia.org





د هرات جامع جومات (عکس د ښاغلي نجیب الله مسافر)

eilia.org



ګوهر شاد بېګم کټ کټ وخندل، ويې ويل: بالکل همداسې ده. ښه نو زما خوږو! راځئ چې زه هغه ځايونه دروښيم چې زما په سرپرستۍ جوړ شوي وو. ربښتيا بله خبره، خلک وايي چې په همدغه ځای کې چې اوس د هرات جامع جومات دی، پخوا د آرياييانو معبد و. هغه معبد له لرګيو جوړ شوی و او بيا څه کم څوارلس سوه کاله مخکې چې د دې سيمې خلک مسلمانان شول، هغه زردشتي معبد يې په مسجد واړاوه. بيا پر هغه لرګين جومات تندر ولوېد او ويې سوځاوه او وروسته خلکو له خښتو نه جومات جوړ کړ. وروسته سلطان غياث الدين غوري د هغه پر ځای دغه لوی جومات له پخو خښتو ودان کړ.

ګوهرشاد بېګم په يوه لاس د ځيرک او په بل لاس د بهشتې بېګم لاس ونيو او روانه شوه. خو هغه پر ځمکه نه تله، په هوا کې يې قدمونه اخيستل. ځيرک او بهشته بېګم هم ورسره په هوا کې روان وو. په هوا کې تګ نو بل رقم خوند کوي. بدن دې داسې سپک ښکاري لکه بڼکه. چې هر ګام اخلې شل متره وړاندې ځې.

يوې لويې کلا ته ورسېدل. د پخو خښتو کلا چې پلستر نه و ورکړل شوی. دنګ دېوالونه، ډېرې خونې چې ځينې يې د يوې ټيټې غونډۍ پر سر او ځينې يې د غونډۍ په لمن کې جوړې شوې وې. د هرې خونې بام د پخو خښتو وړه ګنبده چې د رڼا له پاره په کې دريڅې وې.

ګوهر شاد بېګم وويل: دې ته خلک د هرات ارګ وايي او بل نوم يې د اختيارالدين کلا ده. اختيارالدين يو کرت جنرال و. څه باندې اته سوه کاله وړاندې مغولو هرات ونيو او ټول ښار يې داسې وران کړ چې يو شی هم په کې روغ پاتې نه شو. بيا د سيمې خلکو هر څه له سره جوړ کړل. دوی کرت بلل کېدل. هغوی د اوبو نهرونه او وياله بېرته جوړې کړې. ځمکو ته يې اوبه سمې کړې. ودانۍ يې ورغولې او دغه کلا او د ښار د ساتنې له پاره دېوالونه يې جوړ کړل.

زموږ په حکومت کې د دې کلا ځينې ځايونه خراب شوي وو. بيا زما مېړه، شاه رخ ميرزا چې پاچا و، دا کلا يې ترميم کړه. د هغه پلار امير تميور هم د هرات ښار د نيولو په وخت

eilia.org



کې هر څه خراب کړي وو نو شاه رخ میرزا ما ته وویل چې موږ باید هرات داسې ښایسته جوړ کړو چې په دنیا کې یې ساری نه وي. هغه د ودانولو چارې ما ته راوسپارلې. مـوږ ډېر تکړه معماران، مهندسان، کاشي جوړوونکي، خطاطان او نقاشان راټـول کـړل. ښـه معاشونه مو ورته مقرر کړل او هرات مو داسې ښکلی جوړ کړ چـې خلکـو بـه ورتـه د ښارونو مرغلره ویل. تاسو خو به د استاد کمال الدین بهـزاد او امیـر عـلي شـیر نـوایي نومونه اورېدلي وي؟

بهشتې بېگم وویل: هو. امیر علي شیر نوایي د اوزبیکي ادبیاتو پلار بلل کېږي.

گوهر شاد بېگم وویل: همداسې ده. هغه ډېر تکړه شاعر او لیکوال و او کمال الدین بهزاد بې جوړې نقاش او خطاط و. دوی زموږ په دربار کې وو او موږ فخر کوو چـې داسـې لوی هنرمندان مو لرل. هله نو، تاسې په کلا کې وگرځئ او بیا راته ووایئ چې څه مو پـه کې خوښ شول. سمه ده؟

بهشتې بېگم او ځیرک وویل: سمه ده.

دواړه روان شول.



د هرات ارگ یا د اختیارالدین کلا

eilia.org





د هرات ارګ یا د اختیارالدین کلا (عکس د ښاغلي نجیب الله مسافر)

د کلا په بر سر کې دوه پوړېزې خونې وې. له پخو خښتو څخه زینې ورختلې وې. د کلا انګړ په تیږو پوښل شوی و. د کلا په لاندې برخه کې ان څلور پوړه کوټې وې. د څلورم پوړ پر سر بیا برجونه وو. په اول پوړ کې یې موزیم و. اوږده دهلېزونه چې دواړو خواوو ته یې وړې خونې وې او په منځ کې یې بیا څو لوی لوی سالونونه، د ټولو خونو چتونه ګنبدې وې.

د موزیم تر کتلو وروسته ګوهرشاد بېګم پوښتنه وکړه: ښه نو، اوس را ته ووایئ چې څه شی مو ډېر خوښ شو؟

بهشتي بېګلم وویل: هرڅه یې په زړه پورې وو. په موزیم کې له ډبرې، اوسپنې، برونزو، او لرګیو څخه جوړ شوي لوښي، کودې، منګې، کاسې، جامونه، تورې، ټوپک، زغرې، خول، د سانګې سرونه او نور ښایسته شیان اېښودل شوي وو. خو زما هغه معلومات ډېر خوښ شول چې د هر اثر په باره کې لیکل شوي وو او د هرې غرفې په دېوال کې لګول شوي وو.

eilia.org



ګوهر شاد بېګم وویل: آفرین هوښیارې نجلۍ! څوک چې دغه معلومات ولولي، د اېښودل شویو آثارو په قدر لا زیات پوهېږي. ښه نو، ځیرک جانه! ستا په کې څه خوښ شول؟

ځیرک وویل: زما خو زموږ د نیکونو هنر خوښ شو. له قمیتي کاڼو څخه یې څومره ښکلې ګاڼې جوړې کړې وې. د نقاشۍ تابلوګانې او د خطاطۍ ښکلي آثار. خو تر ټولو زیاته مې هغه د قبر لوحه خوښه شوه چې له تورې تیږې جوړه شوې وه. د صندوق غوندې تراشل شوې او ښکلي ګلونه او پاڼې په کې کیندل شوي وو. په مختلفو خطونو پرې لیکل شوي وو. جالبه دا ده چې هاغه وخت خو دومره وسایل نه وو لکه اوس چې شته نو پر ډبرې دغه شکلونه او ګلونه یې څنګه داسې کیندلي دي چې دومره ښایسته راغلي او ډېر منظم هم دي؟

ګوهر شاد بېګم موسکۍ شوه، ویې ویل: آفرین! ښه شي ته دې پام شوی دی. ما مخکې وویل چې موږ ډېر تکړه معماران او هنرمندان خپل دربار ته راوستي وو. دا د استاد کمال الدین بهزاد او استاد شمس الدین حکاک کار دی. زموږ د دورې یو پاچا سلطان حسین بایقرا دغه ډبره د خپل قبر له پاره جوړه کړې وه خو دی لا ژوندی و چې زوی یې ځوانیمرګ شو نو دا ډبره یې د هغه پر قبر ولګوله. پوهېږئ! د دې ډبرې په جوړولو اوه کاله خواري شوې ده.

بهشتې بېګم ځیرک ته وکتل. دواړو وویل: اوه کاله؟

ګوهر شاد بېګم ځواب ورکړ: هو. هر ښه هنري اثر ډېره خواري غواړي، دقت غواړي او وخت غواړي.

ځیرک وویل: امممممم! اوس پوه شوم چې هنري آثار او لرغوني آثار ولې دومره قدر لري.

eilia.org






د سلطان حسین بایقرا د قبر له پاره جوړه شوې تیږه

درې واړه بیا په هوا کې روان شول. د ښار شمال خوا ته ولاړل او په داسې ځای کې کښته شول چې څو دنګ منارونه په کې ولاړ وو.

ګوهر شاد وویل: دا سیمه خیابان نومېږي. د لوی شاعر مولانا عبدالرحمن جامي کور همدلته و. ما دلته یو جومات او یوه مدرسه جوړه کړې وه چې څو منارونه یې لرل خو اوس یوازې همدغه پنځه منارونه یې پاتې دي.

ځیرک او بهشتي بېګم منارونو ته کتل. هر منار پنځوس متره لوړ و او په آبي رنګه ګلدارو کاشیو ښایسته شوی و خو د لاندې برخې کاشۍ یې لوېدلې وې. لږ ها خوا ته د زیارت غوندې مربع شکله کوټه وه چې پر سر یې لوړه شنه ګنبده وه. ګنبده په شنو کاشیو پوښلې وه.

eilia.org





د هرات مصلی او منارونه

ګوهر شاد بېګم وويل: دا ځای مې د ځان او شاه رخ ميرزا له پاره جوړ کړی و چې دواړه په کې ښخ شوو. موږ پر يو بل ډېر ګران وو نو ما غوښتل چې قبرونه مو هم سره څنګ په څنګ وي.

په همدې خبرو کې دوی د زيارت د ننه ورغلل. داسې ښکارېده چې پخوا به د دې زيارت ګنبده او دېوالونه د جامع جومات په شان ښايسته جوړ شوي وو ځکه چې ځای ځای په کې د آسماني او لاجوردي رنګ ښکلې کاشۍ ښکارېدې خو د لاندې برخې کاشۍ يې لوېدلې وې. پر دېوالونو په کوفي خط د قرآن کريم آيتونه ليکل شوي وو.

هلته څلور قبرونه وو. ګوهر شاد بېګم يوه قبر ته اشاره وکړه، ويې ويل: دا مې د زوی قبر دی، ميرزا غياث الدين بايسنقر. هغه ښه خطاط و، اوه ډوله خط يې زده و. هغه شعرونه هم ليکل او يو هنرستان يې جوړ کړی و چې څلور سوه خطاطان، کاتبان، صحافان او نقاشان په کې راټول وو. دغه بل قبر مې د لمسي دی او هغه بل مې د بل

eilia.org



زوی. گوهر شاد بېگم پر يوه قبر ودرېده او ويې ويل: دا زما او د شاه رخ ميرزا قبر دی.

بهشتې بېگم پوښتنه وکړه: دواړه په يوه قبر کې؟

گوهر شاد سوړ اسويلی وکيښ، ويې ويل: شاه رخ تر ما مخکې وفات شو. هغه مو دلته ښخ کړ. بيا څو کاله وروسته زوی مې راغی، د هغه هډونه يې وايستل او په سمرقند کې يې د امير تيمور په څنگ کې ښخ کړل. زه چې مړه شوم، زه يې د هغه په قبر کې ښخه کړم.

له دې خبرې سره گوهر شاد بېگم ورو ورو لکه واوره ويلې شوه او د خپل قبر په خاورو کې داسې ورننوته لکه اوبه چې پر شگلنه ځمکه توی کړې او اوبه په شگو کې جذب شي.

د ځيرک او بهشتې بېگم سترگې له اوښکو ډکې شوې خو په همدې وخت کې د گلوزرې غږ راغی: د هرات سفر همدومره و. راځئ له خيره چې بلې خوا ته ځو.

هلک او نجلۍ له زيارته دباندې راووتل. گلوزرې ته ورپه شا شول، درې واړه په هوا شول.



په هرات کې د گوهرشاد بېگم مقبره

eilia.org



ځيرک چې له ګلوزرۍ سره له کابل څخه هرې خوا ته الوتی و، غرونــه پــه کــې ډېــر او هوراه ځمکه کمه وه خو اوس يې چې لاندې کتل، هوارې دښتې ډېرې وې.

ګلوزرۍ د جنوب خوا ته الوت کاوه. مخامخ سخت باد لګېده. بهشتۍ بېګم او ځيرک پــه ګلوزرۍ پورې ځانونه کلک نښلولي وو چې ونه‌لوېږي.

بهشتۍ بېګم وويل: دا باد هر وخت وي؟

ګلوزرۍ ځواب ورکړ: نه، هر وخت نه وي. په کال کې درې مياشتې وي. اوس يې موسم دی. پوهېږې! پخوا دلته ډېرې بادي ژرندې وې. خلکو داسې ژرندې جوړولې چې په بــاد به چلېدې. وروسته بيا اروپايانو له دوی څخه د بادي ژرندو جوړول زده کــړل او تاســې خو به پوهېږئ چې اوس داسې دستګاوې جوړې شوې دي چــې لــه بــاد څخــه برېښــنا جوړوي. دا ټول د هماغه بادي ژرندو برکت دی چې ستاسو نيکونو جوړ کړي وو. ښه نو، باد مخامخ دی، زما الوت سختوي او زما ډېره انرژي به ولګېږي.

ځيرک وويل: پوه شوم. يعنې خوراک دې بايد ډېر کړو.

درې واړو وخندل.

بهشتۍ بېګم وويل: غم يې مه کوه. يوه کيسه به زه ووايم، بله ځيرک.

ګلوزرۍ په خندا وويل: هله نو، بسم الله کړه.

بهشتۍ بېګم کيسه شروع کړه: په يوه دښته کې يو غويی يوازې سر اوسېده. لکه دا لاندې دښته چې وينئ، دغسې وچه او سپېره وه. ربښتيا غويي يوه ملګرې درلوده. اوســپنه يــې ملګرې وه. غويي په سختۍ سره شپې ورځې تېرولې. د ځوځانو په خوړلو يــې شــونډې وينې کېدې. اوبه به هم په آسانه نه پيدا کېدې. ده په ښکرو سره د ځمکې يو ځای لږ ژور کړی و او کله به چې باران ورېده، اوبه به په کې ډنډ شوې. خو غويي به اوبه هم لــږ لــږ څښلې چې خلاصې نه شي.

يوه ورځ يې چورت ډېر خراب و. په ډنډ کې اوبه نه وې پاتې او ځوځ هم په ســختۍ سره

eilia.org



پيدا کېدې. نو غويي اوسپنې ته وويل: زه نور نو په دې وطن کې نه پاتې کېږم. غواړم داسې ځای ته ورشم چې اوبه او واښه په کې پرېمانه وي، پستې شوتلې وې، د جوارو ډنډر وي، تازه واښه وي.

اوسپنې ورته وويل: پوهېږم چې دلته دې ژوند ډېر سخت دی. خو ولې همدا ځای شين نه کړو؟

غويي په ملنډو وويل: دا ځای؟ تا کله ليدلي دي چې دښته دې شنه شوې وي؟

اوسپنې وويل: ليدلي خو مې نه دي خو کولی يې شو.

غويي پوښتنه وکړه: څنګه؟

اوسپنې له ځانه د تراکتور د پلونو په شان تېره تېره څوکې وايستې. ويې ويل: ګوره! ما په لکۍ پورې وتړه. پر دې ځمکه وګرځه چې واېې‌ړوو. بيا به ورته تخم پيدا کړو.

د غويي زړه نه کېده خو اوسپنه ورته ډېره ټينګه شوه.

غويی مجبور شو چې د ملګرې خبره ومني. اوسپنه يې په لکۍ پورې وتړله. پر ځمکه ګرځېده، ګرځېده، ګرځېده. مازديګر چې شو، ډېره زياته ځمکه يې اړولې وه.

غويي ويل: ښه نو، اوس به تخم له کومه کړو؟

اوسپنې وويل: زه يو بل ملګری لرم، هغه به راسره مرسته وکړي.

اوسپنې آسمان ته وکتل او ويې ويل: باده! چېرې يې؟ راځه چې زما په کار يې.

باد راغی. پوښتنه يې وکړه: خير خو به وي؟

اوسپنې وويل: ته خو هر چېرې تلی شې. مونږ ته د ښو واښو او بوټو تخمونه درسره راوړه. مونږ غواړو دا دښته شنه کړو.

باد والوت او ساعت لا نه و تېر شوی چې بېرته راغی او د شوتلو، جوارو، او نورو بوټو او ونو زړي يې ورسره راوړل او پر اړول شوې ځمکې يې وشيندل.

eilia.org



غويي وويل: اوس به يې اوبوې په څه شي؟

باد وويل: باران لالا دې خدای راته لري. زه به ورغږ کړم.

باد باران ته نارې کړې. ورته يې وويل: راځه د خير په دې کار کې خو ته هم مرسته وکړه کنه.

باران وويل: باده وروره! څه درته وکړم، وايه کنه.

باد وويل: هره ورځ لږ لږ وربېږه چې دا ځمکه شنه شي.

باران په وربېدو شو. هره ورځ به لږ لږ وربېده.

بوټي راشنه شول.

لمر هم د دوی مرستې ته راغی. لمر به خپله رڼا پر بوټو شيندله او بوټو به ځان ته ورنه خواړه جوړول.

څو مياشتې چې تېرې شوې په هغه دښته کې هر رقم ونې او بوټي شنه شوي وو او غويي بيا هېڅکله ونه ويل چې زه دا وطن پرېږدم.

ګلوزرې وويل: واه بهشتې واه! څومره ښکلې کيسه! اوس نو دا راته ووايه چې دا کيسه دې په څه پورې درياده شوه؟

بهشتې بېګم وويل: يو خو په دې چې تا د بادي ژرندو خبره وکړه نو رايادده مې شوه چې باد، باران، لمر او هرڅه ګټه رارسولی شي. بله دا چې نن سبا ځينې خلک نورو ملکونو ته مهاجر کېږي او وايي چې زموږ وطن ښه نه دی. نو که انسان خواري وکړي، خپل وطن هم ښه کولی شي.

ګلوزرې وويل: وايم سل آفرين دې! ښه نو ځيرکه آشنا! تا څنګه ځان غلی نيولی دی؟

ځيرک وويل: د بهشتې بېګم د کيسې په اړه مې فکر کاوه. څومره ښه مطلب يې بيان کړ. هغه دی بند. وګورئ! هلته نوی بند جوړېږي.

eilia.org



ګلوزرې وويل: دا د فراه ولايت بخش آباد دی. هماغسې چې د بهشتې په کيسه کې دښته آباده شوه، د افغانستان حکومت هم د اوبو بندونه جوړوي چې ډېرې اوبه په کې زېرمه شي او بيا ډېرې ځمکې پرې خړوبې کړي. که خدای کول، د فراه دغه شاړې دښتې به شنې شي.

څو شېبې وروسته د يوې زړې کلا پاتې شونو ته ورسېدل. د کلا د دېوالونو ځينې برخې، څو کوهيان چې په تيږو ډک شوي وو.

ګلوزرې وويل: دا هم کافرکلا يا د کک کلا. کک يو پياوړی پهلوان و چې فردوسي په شاهنامه کې ياد کړی دی.




په فراه کې کافرکلا يا د کک کهزاد کلا

ځيرک وويل: ښه، ښه! همدا د کک کلا ده؟ ما د ده کيسه اورېدلې ده. پلار مې د کک او زرينې په نوم يو کتاب راوړی و. ډېره ښکلې کيسه يې وه. دلته په فراه کې ډېر پخوا د

eilia.org



اوبو يو بند و. د پارتيانو پادشاه غوښتل چې بند ونړوي. هغه لوی لښکر برابر کړ او په زغرو پوښلي فيلان يې راوستل. پر دې فيلانو به غشو او سانګو کار نه کاوه. دلته د ساکي پښتنو مشره زرينه نومېدله. هغې د پښتنو اوه ټبرونه سره راټول کړل چې د پارتيانو د لښکر مقابله وکړي خو د فيلانو چاره سخته وه. همدا وه چې چا ورته وويل کک پهلوان د فيلانو چاره کولی شي. هغه داسې ګورز لري چې فيل له زغرو سره چپه کولی شي. کک نو په همدې کلا کې له خلکو لرې او ګوښې اوسېده ځکه چې دی او د پارتيانو د پاچا لور سره مينان وو. بيا هغې ورسره جفا وکړه او د ده زړه يې مات کړ. کک ته په زړه کې له خلکو او له ټولو ښځو کرکه پيدا شوې وه. هغه ګومان کاوه چې ټولې ښځې به د پارتيانو د پاچا د لور غوندې بې وفا وي. بيا نو د پښتنو مشره د کک مور ته ورغله. ويې ويل چې زه غواړم کک پهلوان وګورم. د کک مور وويل چې هغه له ښځو کرکه لري او له ما پرته هېڅ ښځه خپلې کلا ته نه ورپرېږدي. بيا زرينه په يوه لوی خم کې پټه شوه. د کک کسانو دا خم کلا ته يوړه. هلته زرينه له خم څخه راووته. کک ته يې وويل چې دا د وطن جنګ دی. که د پارتيانو پاچا زموږ د اوبو بند ونړوي، کلي به مو تر اوبو لاندې شي. ټولې اوبه به مو ولاړې شي او بيا به د څښلو اوبه هم نه لرو. نو بايد په وطن ننګ وکړې. زرينه پر کک ښه ولګېده. پرې مين شو خو بيا يې هم په زړه کې تېرېدل چې ښځې ټولې بې وفا دي.

جنګ شروع شو. ټول حيران وو چې اوس به څه وکړي ځکه چې کک نه و راغلی. د دښمن پاچا پر فيل سپور و او د زرينې مخې ته راغی. نژدې وه چې زرينه د فيل تر پښو لاندې کړي چې په همدې وخت کې کک راورسېد. د ګورز په يوه وار سره يې فيل وغورځاوه. کک ټول فيلان له منځه يووړل او جګړه افغانانو وګټله. د اوبو بند خوندي پاتې شو او وطن وژغورل شو.

بهشتې بېګم وويل: څومره ښه. دا کتاب چا ليکلی دی؟

ځيرک ځواب ورکړ: دا کتاب عبدالغفور لېوال ليکلی دی. هغه دا کيسه په شعر کې ليکلې ده او څو نورې منظومې يې هم ليکلې دي. ګل‌وزرې! هغه بند په کوم ځای کې دی؟

eilia.org



ګل‌وزرې وويل: هغه بند بيا څو پېړۍ وروسته امير تيمور وران کړ. د شاه رخ ميرزا پلار يادوم.

بهشتې بېګم وويل: څومره د افسوس خبره ده. کاش امير تيمور هم د ګوهرشاد بېګم او شاه رخ ميرزا غوندې آبادۍ کړې وای، نه ورانی.

په همدې خبرو کې دوی له فراه څخه تېر شول او نيمروز ته ورسېدل.

تا خو به په نقشه کې نيمروز ليدلی وي. نيمروز د افغانستان په جنوب غرب کې دی چې غرب ته يې ايران او جنوب ته يې بلوچستان پروت دی.

د نيمروز ډېره برخه هوارې شګلنې دښتې دي. ګل‌وزرې شګلنې دښتې ته ورټيټه شوه. پښې يې هوارې او اوږدې شوې لکه د سکي لرګينې دړې. پر شګو راکښته شوه. داسې تېزه پرې ښويېدله لکه پر کنګل چې يخمالک ووهې. ځيرک او بهشتې لاسونه څنګونو ته غځولي وو او هووووووو نارې يې کولې.

ګل‌وزرې وويل: که مو خوښه وي لږ به دمه وکړو.

ځيرک او بهشتې يو ځوان وليد چې بلوچ و. هغه د کيسو کتابونه، کتابچې، قلمونه او د مکتب بکسونه راوړي وو. په کليو کې ګرځېده او پر ماشومانو يې دا شيان وېشل.

بهشتې پوښتنه وکړه چې دا شيان دې له کومه راوړي دي؟

هغه ځوان وويل چې زه له کابل نه راغلی يم. ملګرو مو پيسې راټولې کړې چې د نيمروز ماشومانو ته دا شيان واخلو. موږ غواړو چې دوی درس او مکتب ته تشويق کړو. ما ورته د کيسو ښه ښه کتابونه راوړي دي. دوی چې خوندورې کيسې ولولې، له کتاب لوستلو او تعليم سره به مينه پيدا کړي.

ځيرک او بهشته هم ورسره ملګري شول. دوی هم له هغه ځوان سره په ډېرو کليو وګرځېدل. د هر کلي په جومات کې به ماشومان راټول شول. بيا به ځيرک او بهشتې ورته د کيسو کتابونه ښه په خوند خوند لوستل او ماشومانو به په مينه ورته غوږ نيول. کيسې

eilia.org



به چې خلاصې شوې، ماشومانو ته به یې کتابونه، کتابچې، رنگ رنگ قلمونه او بکسونه ورکړل.

گل‌وزرې، بهشتې او ځیرک له نیمروز څخه د شرق خوا ته والوتل یعنې د هلمند په لوري. گل‌وزرې په هوا کې ښه پورته لاړه بیا یې ځیرک او بهشتې ته وویل: زما یوه یوه بڼه وشکوئ. بڼکه په لاسونو ټینگ ونیسئ او د ځمکې خوا ته ورټوپ کړئ.

واه!

د الوتلو خوند بېل و او د دې بېل. ځیرک او بهشتې په یوه لاس د بڼکې یو سر او په بل لاس د بڼکې بل سر نیولی و. دوی په هوا کې گرځېدل لکه په پاراگلایډر کې چې ناست وي. پاراگلایډر خو به پېژنې؟ هغه پراشوټ چې څوکۍ لري او څوکۍ په کلکو تارونو له پراشوټ سره نښتې وي. دا یوه لوبه ده. خلک د پاراگلایډر چوکۍ په ځان پورې تړي او له لوړ ځای څخه ځان راخوشې کوي.

د گل‌وزرې بڼکې عجب کمال درلود. که دې په ښي لاس د بڼکې سر راکښته کړ، ښي لاس ته به تاوېدې او که په چپ لاس دې د بڼکې بل سر راکښته کړ، چپې خوا ته. که دې د بڼکې مخه د آسمان خوا ته کږه کړه، پورته به تلې او که دې د ځمکې خوا ته کږه کړه، ورو ورو به د ځمکې خوا ته راتلې.

ځیرک او بهشتې ډېر ژر د بڼکې کنټرول زده کړ. دوی د هلمند سیند له پاسه په هوا کې روان وو. اول له غرب څخه د شرق خوا ته او وروسته بیا له جنوب څخه شمال خوا ته. همداسې برې خوا ته تلل، تلل، تلل چې زمینداور ته ورسېدل.

ستا په یاد دي چې زمینداور د کوم پاچا ژمنی پایتخت و؟

آفرین! همداسې ده. د سلطان غیاث الدین غوري د اوړي پایتخت د جام مینار په خوا کې و او ژمنی پایتخت یې زمینداور ځکه چې د هلمند هوا گرمه ده.

ځیرک او بهشته په هوا کې د شمال خوا ته روان وو. خلک یې ولیدل چې د هلمند سیند له یوې غاړې تر بلې غاړې پورې په اوسپنیزو بېړیو کې پورې کېږي. سیند ډېر لوی و. دوی

eilia.org



د بڼکو مخه د سیند خوا ته کړه کړه. ورو ورو سیند ته ورنژدې شول. دومره نــژدې چــې پښې یې پر اوبو ولګېدې او د دوو بېړیو تر منځ د اوبو پر سر تېر شول. د سیند د غــاړو له نژدې کورونو څخه هلمندي ماشومانو رامنډې کړې او د سیند غاړې ته راغلل. هر یــو به بل ته په لاس سره ځیرک او بهشته ښودل چې دوی ته وګوره څنګه د اوبو پر سر مزل کوي. په بېړیو کې سپرو خلکو هم ورته حیران حیران کتل.



د هلمند سیند

eilia.org



د سيند دواړوو خواوو ته شنې کروندې او د انارو او بادام باغونه وو. ځيرک او بهشته همداسې پورته مخ روان وو چې د کجکي بند ته ورسېدل. د بند جنوب خوا ته خو يوازې سيند او د بند دېوال ښکارېدل. دوی د ښکو مخه د آسمان خوا ته کړه کړه او وار په وار سره په هوا کې پورته لاړل. د بند د دېوال له سره تېر شول. د شمال خوا ته د غرونو په منځ کې دومره ډېرې اوبه راټولې وې چې ځيرک ته يې د شيوا جهيل ورپه ياد کړ.

د شيوا جهيل په کوم ځای کې و؟

هله نو ځواب راکړه!

بالکل. د بدخشان په شغنان کې و.

ځيرک او بهشته بېرته راتاو شول. د جنوب او شرق خوا ته روان شول.

له لرې يې ګل‌وزرې وليده چې د يوې غونډۍ پر سر د ورانې کلا په منځ کې ناسته ده او په وزر سره دوی ته د ورتلو اشاره کوي. دوی هم د ښکو مخه د ځمکې خوا ته کړه کړه او وار په وار سره ځمکې ته رانژدې شول. په يوه ځای کې پر ځمکه کښته شول چې مخې ته يې له پخو خښتو جوړه شوې لويه او لوړه دروازه وه. دومره لوړه چې که پنځه اوښان سره سر په سر ودروې، تر دروازې لاندې تېرېدای شي او دومره ارته چې پنځه شپږ موټره څنګ په کې ځايېږي. دا نو داسې دروازه وه چې دوو خواوو ته يې له پخو خښتو جوړې شوې غټې پايې او پر سر يې طاق يا شيشک و. د دروازې پر هر مخ د ستورې په شان ښايسته ګلونه، لوزي او د محراب غوندې شکلونه جوړ شوي وو خو دا هم د هرات د ميناورونو په شان يو څه ورانه شوې وه.

بهشتې وويل: ځيرک جانه! ما دا دروازه ډېره ليدلې ده خو نه مې يادېږي چې چېرې.

ځيرک وويل: په ټلويزيون کې به دې ليدلی وي.

- نه، نه. په ټلويزيون کې نه.
- نو په کومه مجله کې.
- نه، په مجله کې مې هم نه ده ليدلې. امممممم. په پيسو کې! رايادہ مې شوه.

eilia.org



ستا په جېب کې پيسې شته؟

ځيرک جېب ته لاس کړ. ويې ويل: دغه يو سلګون خو راسره شته.

د سلګون پر مخ د همدې دروازې عکس و.

ځيرک وويل: آفرين! ښه شي ته پام شو. اوس زما هم رایاده شوه چې پر پنځه سويز نوټ د هرات د جامع جومات عکس وي.



هلمند، د بست کلا دروازه

eilia.org



بهشتۍ وویل: زما هم رایاده شوه. هلته چې د جومات مخې ته ولاړ وو، په زړه کې مې ګرځېدل چې دا جومات خو ما ته آشنا غوندې ښکاري خو نه پوهېدم چې ولې. زه چې کور ته لاړه شم، بیا به ټولو نوټونو ته په ځیر وګورم.

په همدې وخت کې د یو چا غږ راغی چې په لوړ آواز یې ویل:

که دوې دي، لویه خدایه! کلا بِس دروازې دوې دي
پر یوه مې پټې وځي، پر دا بله د مور سوې نارې دي

ځیرک دوی د آواز لوري ته وکتل. یو بوډا په سپینو جامو او توره پګړۍ کې امسا په لاس مخ ته او یو ځوان له یوې ښځې، یوې نجلۍ او یوه هلک سره ورپسې د بست دروازې خوا ته روان وو. د ځوان او هلک پر تن زېړبخون کالي وو چې ښکلې خامکي غاړې یې وې. ښځې او نجلۍ بیا سره افغاني ګنډ کمیسونه اغوستي وو.

دا کورنۍ له کجکي څخه په مېله راغلې وه. هلک د ځیرک همزولی و او میوند نومېده، نجلۍ بیا تر بهشتۍ لږه مشره وه، نوم یې ګلالۍ وه. د دوی پلار نومېده او د تاریخ استاد و. ځیرک او بهشتۍ له دوی سره د بست کلا پر پاتې شونو وګرځېدل. بیا نو پامیر له موټر څخه کالي راکښته کړل. ځیرک او میوند ورسره مرسته وکړه او خیمه یې ودروله.

بیا نو پامیر د ګازو ډبه په یوه ژور ځای کې کېښوده او ویې لګوله. دېګ یې وربانده کېښود. ویې ویل: ځیرک جانه! روش دې خوړلی؟

ځیرک وویل: روش؟ نه. نه مې دی خوړلی.

میوند وویل: مورې یې هر وخت په مېلو کې پخوو. ډېر خوند کوي او آغاجان خو مې نو په پخلي کې ډېر تکړه دی. بهشته له ګلالۍ او مور سره یې د سلاتې او شلومبو په جوړولو کې مرسته وکړه. بیا دواړه نجونې له خیمې راووتې. وړې ګردې تیږې یې راټولې کړې او د میرګاټي لوبه یې شروع کړه.

پامیر په دېګ کې کچالان او د پسه غوښې ټوټې کتار کتار د یو بل پر سر کېښودې. کچالان یې ګرد او هواره پرې کړي وو.

eilia.org



ځيرک پوښتنه وکړه: غوړي په کې نه اچوې؟

ميوند وويل: نه، نه. روش همداسې پخېږي. نه اوبه غواړي، نه غوړي.

ځيرک وويل: پامير کاکا! ما د پامير غرونه ليدلي دي. ډېر لوړ دي، هوا يې خورا يخه ده. هلته قرغزان اوسېږي.

پامير وويل: آفرين! نو دې ته به دې هم تلوسه وي چې د کلا بست کيسه واورې. همداسې نه ده؟

د ځيرک خوله موسکه شوه، ويې ويل: بالکل.

پامير وويل: دا کلا د زردشت په وخت کې بسوار جوړه کړې ده. بسوار د زرير زوی و او زرير د گشتاسپ زوی په هاغه وخت کې پاچا و. دلته يوازې دا کلا نه وه، بلکې يو ښار و. په دې ځای کې د ارغنداو سيند د هلمند له سيند سره گډېږي.

ځيرک وويل: جالبه ده. د آی خانم ښار هم په همداسې ځای کې جوړ شوی و چې کوکچه له آمو سيند سره يو ځای کېږي.

ميوند ځيرک ته وکتل، ويې ويل: تا خو ډېر ځايونه ليدلي دي.

ځيرک موسک شو.

پامير وويل: آفرين! پوهېږې ولې؟

ځيرک لږ فکر وکړ او بيا يې ځواب ورکړ: هلته خو دوې خبرې وې. يوه دا چې د آی خانم دواړو خواوو ته سيندونه وو نو دغو سيندونو به ښار د دښمن له حملې څخه ساته. بله دا چې په هاغه وخت کې له سيندونو څخه يې ويالې رايستلې وې چې شاوخوا ځمکې اوبه کړې او د ښار شاوخوا ښه سمسوره وي.

پامير وويل: شاباس! سم پوه شوی يې. پخواني تمدنونه ټول د سيند په غاړو کې رامنځته شوي دي ځکه چې بې اوبو خو ژوند نه کېږي. نو داسې ځايونه به يې ځکه د ښارونو

eilia.org



جوړولو ته خوښ کړي وي چې که په يوه سيند کې اوبه کمې شي، بل سيند ورته نــژدې وي چې اوبه ځنې راوړي. په دې سيمه کې ښه عالمان او شاعران تېر شوي دي. د سلطان محمود غزنوي په زمانه کې يعنې څه باندې زر کاله مخکې، دلته يو لوی ليکوال او شاعر اوسېده چې ابوالفتح بستي نومېده. هغه په عربي ژبه ليکنې کولې او شعرونه يې ليکــل. هاغه زيارت وينې؟

پامير په ګوته يوه زيارت ته اشاره وکړه چې څو سوه متره لرې و.

ځيرک او ميوند په يوه غږ وويل: هو.

پامير د دېګ سرپوښ لرې کړ. د غوښې يوه ټوټه يې په نوک ټينګه کړه. سرپوښ يې بېرته کېښود، ويې ويل: دا د امام خطابي زيارت دی. هغه هم د بست و او د حديث دوه کتابونه يې ليکلي وو. بله دا چې د بست نوم خــو د عربــو پــه کتــابونو کــې راغلــی دی مګــر د هندوستان په يوه کتاب کې چې ۳۵۰۰ کاله پخوا ليکل شــوی دی، د «بســت منــه» کلمــه راغلې ده او پوهان وايي چې معنا يې بست مېنه يعنې د بست ښار دی.

پامير د ګازو اور کم کړ او ويې ويل: درځې! خيمې ته به ځو.

د ميوند بابا چې يوه اوږده هندوانه يې پرې کړې وه او په ټوټې کولو يې لګيــا و، وويــل: راځئ چې د هلمند خوږه هندوانه وخورو.

هندوانه يې چې وخوړه، ځيرک وويل: بابا! تاسې چې راتلئ د کلابس شعر دې وايه، هغه څنګه و؟

بابا موسکی شو. سپين غاښونه يې ښکاره شول. پاکه سپينه ږيره يــې وښــورېده. ويــې ويل:

که دوې دي، لويه خدايه! کلا بِس دروازې دوې دي
پر يوه مې پټې وځي، پر دا بله د مور سوې نارې دي

ځيرک جانه! دا د پټې خان او رابيا د نکل ناره ده. په پخوا زمانو کې دلته يو پاچا و چــې

eilia.org



نوم يې اسلم خان برېښى و. نه ده اولاد درلود، نه يې وزير. يوه ورځ يو ملنګ راغی چې خير راوړئ. د پاچا مايني ورېل: دا څه رقم ملنګان دي چې زموږ اولاد نه کېږي او دوی هېڅ دم و دعا نه کوي. ملنګ خپله لکړه وروليږله. ويې ويل: په دې لکړه د مڼو پر ونې وار وکړئ. څومره مڼې چې توی شوې، ما ته يې راوړئ چې درته دم يې کړم. د لکړې له وار سره شپېته دانې مڼې ولوېدې. مينځې (کنيزې) مڼې ورورې او ملنګ ورته دم کړې. ويې ويل: د هر چا چې اولاد نشته، يوه مڼه دې واخلي، نيمه دې يې پخپله وخوري، نيمه يې مېړه ته ورکړي. همداسې يې وکړل. نه مياشتې، نه ورځې، نه ګړۍ وروسته د پاچا، وزير او اته پنځوس نورو زامن پيدا شول. پاچا پر خپل زوی فتح خان يا پتې خان نوم کېښود. د وزير مايني غبرګولي وزېږول، يوه نجلۍ او يو هلک. د هلک نوم پردل خان او د نجلۍ نوم رابيا شوه. د پاچا د مينځې زوی کرم خان شو چې بيا خلکو کرمی باله. پاچا امر وکړ چې دغه شپېته واړه هلکان دې يو ځای سبق ووايي او يو ځای دې لوبې وکړي. دوی نو لکه شپېته ورونه وو. رابيا يې هم پتې خان ته نکاح کړه. هلکان ورو ورو غټان شول، زلمي شول. يوه ورځ د ګودر خوا ته ولاړل. پېغلو او مېرمنو منګي له اوبو ډک کړي او پر سرونو ايښي وو چې کورونو ته يې يوسي. پتې خان ملګرو ته وويل: راځئ چې دا منګي په ډبرو وولو چې اوبه څنګه ترې بهېږي. ټولو ډبرې واخيستې او منګي يې وويشتل. ښځو پاچا ته شکايت وکړ. پاچا وويل چې زما دغه يو زوی دی نو زه يې نه شم خپه کولی. تاسې د منګيو پر ځای ژي درواخلئ چې په ډبرو مات نه شي. بله ورځ مېرمنو ژي له اوبو ډک کړي وو. پتې خان بيا ملګرو ته وويل: راځئ دا ژي ورته په غشو وولو چې اوبه څنګه ورنه دارې کوي. هر چا د غشي وار وکړ او ژي يې سوري سوري کړل. مېرمنو بيا پاچا ته شکايت وکړ. دا وار پاچا فکر وکړ چې بايد پتې خان پوه کړي نو پتې خان چې ورته سلام وکړ، هغه يې ځواب ونه وايه. ده چې غوښتل د پلار په څنګ کې پر تخت کېني، پلار ورته ځای ورنه کړ. پتې خان خپه شو. ملګري يې راټول کړل چې دا ځای به پرېږدو. ټول پر آسونو سپاره شول. پلار پتې خان ته وويل چې مه ځه. هغه وويل:

ما سلام درواچاوه، را بيا دې نه که

چې پر تخت در وختم، ځای دې را نه که

eilia.org



پاچا وویل چې پر هغه کار پښېمانه يم خو زوی يې ونه منل. مور يې راغله. د دروازې په خوله کې ودرېده چې د پتې خان لاره ونيسي. د کلا بس دوې دروازې وې او پتې خان پر هغه بله دروازه ووت. نو مور يې دا ناره وکړه:

که دوې دي، لويه خدايه! کلا بِس دروازې دوې دي
پر يوه مې پتې وځي، پر دا بله د مور سوې نارې دي

پتې خان او ملگري يې رابيا هم ورسره بوتله او لاړل هندوستان ته. يوه کلي ته چې ورسېدل، پتې خان وويل آسونه مو پړيو ته ورخوشي کړئ. خلکو آسونه له پړيو راټول کړل او بېرته يې برېڅو ته راوړل. پتې خان وويل د دې کلي خلک په اتفاق دي نو دلته نه شو پاتې کېدای. بل کلي ته ولاړل. هلته يې آسونه خوشي کړل. هر کليوال به آسونه له خپل پټي څخه د بل چا پټي ته شړل. پتې خان وويل چې دوی بې‌اتفاقه دي نو همدلته به واړوو. دوی يوه کلا په زور ونيوه او هلته دېره شول. د هندوستان پاچا مغول و. بله ورځ د پاچا درې کسان د ځمکو په ماليې پسې راغلل. کرمي دوه ورووژل او د بل ژبه يې پرې کړه. هغه پاچا ته ورغی خو حال يې نه شو ويلی ځکه چې ژبه يې نه وه. پاچا درې نور کسان ورولېږل. کرمي د هغوی دوه ووژل خو دريم يې وتښتيد او پاچا ته يې حال ورکړ. پاچا حوصله وکړه. بله ورځ د پاچا د خزانې کاروان تېرېده. کرمی ورغی او د کاروان ساتونکي يې ووژل، خزانه يې کلا ته يوړه. پاچا خپل عسکر راټول کړل. جنگ شروع شو. هره ورځ به جنگ و. پتې خان او ملگري يې ښه تکړه جنگيالي وو خو د مغولو عسکر ډېر وو. جنگونه سخت شول. ډېرې ورځې وروسته پردل خان ټپي شو او د شپې په کلا کې مړ شو. همداسې به هره ورځ يو يو برېښ وژل کېده او په آخر کې يوازې کرمی او پتې خان پاتې شول. بله ورځ کرمی مړ شو او پتې خان يوازې پاتې شو. په دې وخت کې نو وطن ور په ياد شو، دا ناره يې وکړه:

که پاخه دي، لويه خدايه! کندهار انار پاخه دي

اسلم خان بابا دې خوري، په ما تراخه دي

او په همدې ورځ نو پتې خان هم ټپي شو او په شپه کې مړ شو. مغول پاچا شمس الدين

eilia.org



کلا ته ولاړ او چې د پتې خان د مړي سر ته ودرېد، د هغه ښکلې ځواني او غټې غټې برېتونه یې چې ولیدل، ویې ویل: پتې خانه ته خو د مرګي لایق نه وې، ته د ډېلي د پاچاهۍ لایق وې. بیا یې هغه سیمه رابیا ته وروبخښله.

ځیرک او بهشتې اسویلی وکېښ. بهشتې وویل: اوه! څومره غمجنه کیسه وه.

پامیر وویل: زه به دېګ وګورم.

له خیمې ووت. څو شېبې وروسته یې غږ وکړ: هلکانو! دېګ پوخ دی.

ځیرک او میوند ورووتل. له پامیر سره یې دېګ ونیو او د خیمې مخې ته یې راووړ.

واه! د روش نو عجیبه خوند و. غوښه داسې پسته شوې وه لکه مالوچ.

ځیرک او بهشتې ډوډۍ خلاصه کړې وه چې په غوږو کې یې د ګلوزرې تت غږ راغی: راځئ چې ځو.

ځیرک او بهشته له خیمې راووتل.

ګلوزرې ورته د غونډۍ پر سر ناسته وه.

ګلوزرې وویل: دا ځل مو سفر بیخي لنډ دی خو داسې ځای ته چې پنځه زره کاله پخوانی دی. هله نو! زما بڼکې درواخلئ او راپسې والوځئ.

ځیرک او بهشتې هغه بڼکې چې د بست دروازې سره یې پرې اېښې وې، بېرته واخیستې. د غونډۍ پر سر یې منډې کړې او د غونډۍ ژۍ ته چې ورسېدل، د بڼکو مخه یې د آسمان خوا ته کړه کړه. په هوا شول. ګلوزرې مخکې او دوی ورپسې. سفر رښتیا هم لنډ و.

ته خو به پوهېږې چې د هلمند په څنګ کې شرق خوا ته کوم ولایت دی؟

همداسې ده. کندهار.

دوی په کندهار کې د یوې غونډۍ په څنګ کې ځمکې ته راکښته شول. هلته یو مشر- سړی له لنډې ماشین کړې ډېرې او سپین مخ سره، ولاړ وو او شل – پنځه ویشتو

eilia.org



ځوانانو او پېغلو ته يې معلومات ورکول. د دې سړي د سر ويښتان رژېدلي وو، يوازې يې د ټېکونو پر سر او د سر په څټ کې لږ لږ ويښتان پاتې وو.

هغه خپلو شاگردانو ته ويل: منډيگک د افغانستان د پنځه زره کلن تاريخ ثبوت دی. له ميلاد څخه ۳۵۰۰ تر ۳۰۰۰ کاله پخوا يعنې له نن څخه پنځه – پنځه نيم زره کاله مخکې، دلته يو تمدن ايجاد شوی و. ډېر خلک دلته په يوه سيمه کې اوسېدل، کورونه او معبدونه يې جوړ کړي وو، کر کيله يې کوله او هنر يې ايجاد کړی و. د دوی هنر پر کولالي لوښو د پيچک گل او ښکلو هندسي شکلونو له انځورونو معلومېږي. دوی له خټو څخه د انسان څېرې يا مجسمې جوړې کړې وې. په دې مجسمو کې يوه د اناهيتا مجسمه وه. اناهيتا د پخوانيو آرياييانو الهه وه. دوی باور درلود چې اناهيتا بارانونه اوروي او ځمکه شېرازه کوي. هاغه ځای ته وگورئ!

هغه په ښي لاس سره د غونډۍ په څنډه کې د يوې داسې خونې پاتې شونو ته اشاره وکړه چې تر نورو خونو لويه وه او په منځ کې يې څو متې يا ستنې وې.

ځيرک له يوه ځوان څخه چې د ده په څنگ کې ولاړ و، ورو پوښتنه وکړه: دا سړی څوک دی؟

هغه د ځيرک غوږ ته خوله ورنږدې کړه، په ټيټ غږ يې وويل: دی زموږ د لرغونپوهنې استاد دی؛ پوهاند رسول باوري.

استاد باوري وويل: دغه خونه وگورئ چې تر نورو لويه ده او د سالون بڼه لري. داسې ښکاري چې دا به د هاغه وخت د واکمنانو دفتر و او د اداري چارو له پاره جوړه شوې وه. بله دا چې که ورته ځير شئ، د دې خونې تهدابونه وگورئ چې په ځينو ځايونو کې راوتلي او په ځينو ځايونو کې ننوتلي برخې لري. معنا دا چې دوی د ودانۍ ښکلا ته هم پام کاوه.

يوې شاگردې پوښتنه وکړه: استاده! له دې ځايه د کومو دورو آثار موندل شوي دي؟

استاد ځواب ورکړ: په دې ځای کې څوارلس کلتوري طبقې پېژندل شوې دي چې د

eilia.org



مختلفو دورو دي. د نوي ډبرپېر، د مس ـ ډبر پېر او نورو دورو آثار دلته کشف شوي دي، لکه له مسو څخه جوړې شوې گاڼې، کولالي لوښي، د اوبدلو وسایل، د کر کیلې وسایل، د غلو دانو کندوان، او ډبرینې مجسمې.

څیرک پوښتنه وکړه: استاده! منډیگک بیا څنگه وران شو؟ د آی خانم غونډې چا وسوځاوه که څنگه؟

استاد شا و خوا ته وکتل، ویې ویل: دا پوښتنه چا وکړه؟

ټولو سرونه شا ته تاو کړل او د څیرک خوا ته یې وکتل.

څیرک په آخر سر کې ولاړ و او استاد ته نه ښکارېده.

محصلانو لاره وکړه او څیرک لږ وړاندې راغی. ویې ویل: استاده! ما پوښتنه وکړه.

استاد په موسکا وویل: اوهو! دا زلمکی محصل له کومه شو. راشه گرانه، وړاندې راشه!

څیرک د استاد مخې ته ودرېد.

استاد یې پر سر لاس ورتېر کړ، ویې ویل: آفرین زلمیه! نوم دې څه دی؟

څیرک خپل نوم ورته ووایه.

استاد د محصلانو خوا ته وکتل او ویې ویل: نام خدای، د خپل نوم په شان په رښتیا هم څیرک دی. ډېره ښه پوښتنه یې وکړه. د دې پوښتنې ځواب به تاسو ته هم په زړه پورې وي نو غوږ شئ. د منډیگک د تمدني سیمې د ختمېدا په اړه دوې خبرې کېږي. یوه دا چې پر دې سیمې نورو خلکو حمله کړې ده او سوځولې یې ده. بله خبره دا کېږي چې د هلمند سیند خو یخچالي سیند دی. معنا دا چې د غرونو پر سر واورې او کنگل وېلې کېږي او اوبه یې په سیند کې دوامداره او په تېزۍ سره بهېږي ځکه چې د سیند بر سر ډېر لوړ وي او بل سر یې ډېر کښته. نو داسې سیندونه خپل بستر یا خپل تل ورو ورو وړي او تل یې ژورېږي. کېدای شي داسې وخت به راغلی وي چې د سیند تل ډېر ژور شوی وي او بیا به خلکو نه شول کولای چې اوبه تړې واخلي او خپلو پټیو ته اوبه

eilia.org



راوخېژوي نو دوی به پخپله دا سیمه پرې ایښې وي او بل چېرته به تللي وي.

استاد د ځیرک او بهشتې لاسونه په خپلو لاسو کې ونیول. دوی مخکې او محصلان یې ورپسې روان وو. د منډیگک غونډۍ مختلف ځایونه یې وکتل. محصلانو، بهشتې او ځیرک به پوښتنې کولې او استاد به ځوابونه ویل.

په آخر کې بهشتې پوښتنه وکړه: تاسو وویل چې له دې ځایه څخه مجسمې او نور لرغوني آثار پیدا شوي دي نو هغه آثار اوس چېرې دي؟ هغه د اناهیتا مجسمه به چېرې وي؟

استاد سوړ اسویلی وکیښ، ویې ویل: بهشتې لورې! موندل شوي آثار ټول کابل ته وړل شوي او په ملي موزیم کې ایښودل شوي وو خو په تنظیمي جگړو کې جگړه‌مارو موزیم لوټ کړ. د منډیگک آثار هم په هماغه آثارو کې وو. خدای خبر چې پر چا به یې خرڅ کړي وي. څه چې پاتې وو، هغه بیا طالبانو مات کړل.

علمي سیر تمام شو. غونډۍ ته نژدې یو بس موټر ولاړ و. محصلان ورو ورو وروختل.

استاد باوري ځیرک او بهشتې ته وویل: زه به خپلو محصلانو ته د کندهار نورې لرغونې او تاریخي سیمې وښیم. که تاسې هم راسره ولاړ شئ، خوشحاله به شم.

ځیرک او بهشتې یو بل ته وکتل. د گل‌وزرې تت آواز راغی: ورځئ گرانو!

استاد دوی د بس په لومړي سیټ کې په خپل څنگ کې کېنول. بس روان شو.

بهشتې وویل: ما هېڅ فکر نه کاوه چې مونږ دې لرغونپوهان هم ولرو خو شکر دی لرو یې.

استاد وخندل: هاهاهاها. لرو یې بهشتې گلې. په کابل پوهنتون کې د لرغونپوهنې څانگه لرو. د کوشاني مطالعاتو په نوم مرکز لرو چې ډېر لرغونپوهان په کې کار کوي. نن سبا د وطن په اکثرو ځایونو کې زمونږ خپل لرغونپوهان څېړنې کوي. مونږ ځینو ځوانانو ته د لرغونو آثارو ترمیم کول هم ورزده کړي دي. دوی د ملي موزیم هغه آثار چې طالبانو

eilia.org



مات کړي وو یا پخپله خراب شوي وو، بېرته رغوي.

ځیرک وویل: استاده! تاسې چې یو لرغونی شی پیدا کړئ، څنګه پوهېږئ چې څومره پخوانی دی؟

استاد ځواب ورکړ: یو خو موږ ته د هرې دورې د آثارو ځانګړنې معلومې دي. مثلاً د اسلامي دور آثار یو رقم وي، د یونان – باختري تمدن آثار بل رقم، تر هغه د پخوا وختونو آثار بل رقم. بله دا چې د کاربن ۱۴ په معاینه کولو سره د یوه شي لرغونتوب ډېر دقیق معلومېږي. البته که د ژوندیو موجوداتو بقایا یعنې د ونو، بوټو ټوټې، فوسیلونه، او د انسان یا حیوان هډوکي وموندل شي، په دغې معاینې سره یې د مړینې وخت پیدا کولی شو او بیا پوهېږو چې هغه آثار چې له دې سیمې څخه موندل شوي دي، څومره پخواني دي.

بهشتې وویل: ځیرکه! هغه زیارت ته وګوره. د دې زیارت عکس هم زموږ پر پیسو شته.

بس د زیارت خوا ته تاو شو او ځیرک له مخامخ شیشې ښکلي زیارت ته وکتل چې د هرې څنډې له پاسه یې یو وړوکی مینار او د بام پر سر یې لوړه ګنبده وه.

ځیرک وویل: رښتیا وایې. ما هم لیدلی. ته ودرېږه، امممممم، لسګون. پر لسګون نوټ باندې د همدې زیارت عکس چاپ شوی دی.

استاد وویل: آفرین! پیدا دې کړ. دا د میرویس نیکه زیارت دی.

د زیارت مخې ته ښکلی چمن، ګلان او ونې وې.

eilia.org





کندهار، د میرویس نیکه زیارت

موټر ودرېد. لومړی ځیرک او بهشته له استاد سره کښته شول او بیا محصلان.

د زیارت ودانۍ اته څنډې درلودې. باغچې ته مخامخ څنډه یې تر نورو څنډو لویه وه او د دروازې دواړو خواوو ته یې د محراب په بڼه شیشکونه جوړ وو. په نورو څنډو کې یې دوه دوه شیشکونه سره سر په سر جوړ شوي وو او دېوالونه یې په ښکلو هندسي شکلونو ښایسته شوي وو. د زیارت په ننه کې په هر دېوال کې یو محراب و چې څو تاخچې په کې وې او قرآن کریمونه په کې اېښودل شوي وو.

استاد محصلانو ته وویل: د دې ودانۍ معماري ته ځیر شئ! دا د پخوانۍ او نوې معمارۍ د سبک ګډوله ده. دا ودانۍ په ۱۳۱۱ شمسي کال کې هاغه مهال جوړه شوه چې محمد نادر شاه پاچا و او محمد ګل خان مومند د کندهار تنظیمیه رییس.

محصلانو د ودانۍ هرې برخې ته په ځیر کتل.

eilia.org



استاد، ځيرک او بهشتې ته وويل: گرانو! څه باندې درې سوه کاله مخکې موږ خپل دولت نه درلود. وطن مو د لويو امپراتوريو تر منځ وېشلی و. دلته د صفوي امپراتورۍ حاکم يو ظالم سړی و چې گورگين خان نومېده. خلک د هغه له ظلمه ډېر په عذاب وو نو ميرويس خان چې قومي مشر و، راپاڅېد. هغه خلک راټول کړل، د گورگين عسکر يې مات کړل او وطن يې آزاد کړ. بيا يې د افغانانو خپل دولت جوړ کړ. خلک هغه د درنښت په خاطر نيکه بولي.

دوی له دې ځای څخه د کندهار ښار ته ولاړل. د احمدشاه بابا زيارت ته.

ته خو به احمدشاه بابا پېژنې؟

احمدشاه بابا په ۱۷۴۷ ميلادي کال کې پاچا شو او قوي حکومت يې جوړ کړ. د هغه په وخت کې له اصفهان څخه تر ډيلي پورې د افغانستان خاوره وه. خو وروسته بيا د ده لمسيانو د واک په سر له يو بل سره جنگونه وکړل، بې اتفاقي راغله او د وطن ډېره خاوره نورو ملکونو ونيوه. احمدشاه بابا شاعر هم وو او له وطن سره يې ډېره مينه لرله. هغه په يوه شعر کې ويلي وو:

د ډيلي تخت هېرومه چې راياد کړم

زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه

دوی چې د احمدشاه بابا د مزار په کتلو بوخت وو، يوې کندهارۍ محصلې ځيرک او بهشتې ته د بي‌بي عينو کيسه وکړه.

ته هم غواړې چې دا کيسه واورې؟

گل‌وزرې راغله او ځيرک او بهشته يې پر څټ سپاره کړل. دوی په هوا شول. د کندهار له ښاره چې لږ د شرق خوا ته لاړل، په يوه لويه سيمه کې يې نوي ښکلي جوړ شوي کورونه وليدل چې پاک پراخ سړکونه، ښايسته چمنونه او پارکونه، دنگې ونې او د اوبو يو لوی کوږ ووږ کانکريټي ډنډ په کې وو. کورونه په کې ډېر منظم جوړ شوي وو. هره خوا يې پاکه صفا وه. گل‌وزرې وويل چې دا سيمه عينو مېنه نومېږي.

eilia.org



بهشتۍ وویل: ښه! دا عینو مېنه ده؟ نو زه به د بي‌بي عینو کیسه درته وکړم.

ګل‌وزرۍ وویل: ژر کوه نو. له نیمروز څخه تر دې ځایه پورې په وړې نس راغلــې یمــه. تاسو زما خوراک بیخي هېر کړی و.

ځیرک وویل: رښتیا وایې. هله بهشتۍ، بسم الله وکړه.

بهشتۍ وویل: احمدشاه بابا د ډیلي جنګ ته روان و. د ده په لښکر کې یــو تکــړه عســکر زلمی نومېده. زلمی د بي‌بي عینو مېړه و. دوی له یو بل سره ډېره مینه درلوده. د دوی نوی واده شوی و چې زلمی جنګ ته ولاړ. احمدشاه بابا او عسکر یې ولاړل او پوره کال یې تېر کړ. کله چې بېرته بریالي راغلل، کندهار ته نژدې وو چې شپه شوه. احمدشاه بابا وویــل چې اوس شپه ده، خلک ویده دي. نو موږ او تاسې شپه همدلته تېره کړو. سبا ســهار بــه ښار ته ورشو. خیمې یې ودرولې او د خیمــو چارچــاپېره یــې پهــره‌داران ودرول. نــور سپاهیان ټول ویده شول خو زلمي ته خوب نه ورته. د زلمي زړه نو سخت بې‌قــراره و چــې ژر کور ته ورشي او خپله ماینه ووینې نو له خیمې څخه راووت. پر آس یې پښه واړوله او ښار ته یې ځان ورساوه. کله یې چې د خپل کور دروازه وټکوله، مېرمنې یې پوښتنه وکړه چې څوک یې؟

ده وویل: زلمی یم. موږ له جنګه په خیر راغلو. دښمن مو مات کړ او بریالي راغلو.

عینو وویل: نو دا څنګه بریمن راتګ دی چې نه ډول وډنګېده او نه خلک خبر شول؟

زلمي وویل: احمدشاه بابا او نور لښکر له ښاره د باندې تم شول. دوی به سهار راشي خو زما زړه ناقراره و. په تا پسې ډېر خپه شوی وم نو زه راغلم او دوی پاتې شول.

عینو ورته وویل: ته څه رقم سپاهي یې چې خپل ملګري او پاچــا دې پــرې ایښــي دي او پخپله راغلی یې. بېرته به ځې او هر کله چې له نورو سپاهیانو سره په خپل پاچا پسې یو ځای راغلې او ډولونه وډنګېدل زه به له نورو خلکو سره ستاسو هرکلي ته دروځم او پــه مینه به دې کور ته راولم.

زلمی وشرمېده او بېرته قرارګاه ته ستون شو. سپېدې چاودلې وې چــې دی قرارګــاه تــه

eilia.org



ورسېد. کله چې قرارګاه ته ورننوته، پهرهدار ونيو او پاچا ته يې بوت.

پاچا پوښتنه وکړه چې څه کيسه ده؟

زلمي ټوله کيسه ورته وکړه.

احمدشاه بابا وويل: ستا مېرمن ډېره غيرتي ښځه ده.

دوی چې څنګه د کندهار ښار ته راورسېدل، احمد شاه بابا عينو بي‌بي دربار ته وروغوښتله. د درناوي له پاره يې پوړنی ورباندې واچاوه او د دې کار په خاطر يې يو کاريز ورته ورکړ. وروسته بيا دغه کاريز او دا سيمه د عينو په نامه مشهور شول.

ګل‌وزرې وويل: ډېر ښه. نو اوس دا راته ووايه چې د دې کيسې مطلب څه و؟

بهشتې وويل: امممم. فکر کوم مطلب به يې دا وي چې عينو ته قانون مهم و. سره له دې چې په مېړه پسې به ډېره خپه شوې وه خو بيا يې هم مېړه ته د کور دروازه خلاصه نه کړه ځکه چې هغه قانون مات کړی و او د پاچا امر يې نه و منلی.

ګل‌وزرې وويل: آفرين! سمه پوهه شوې يې. که هر څوک قانون مراعات کړي، ګډوډي به ختمه شي.

ځيرک وويل: ما هم د احمدشاه بابا د مور يوه کيسه واورېده. وايي احمدشاه بابا چې پاچا شو، غوښتل يې چې د کندهار د ښار چارچاپېره يو دېوال تاو کړي چې د دښمن له بريده يې خوندي کړي. دا مشوره ورته سپين ږيرو ورکړې وه. د احمدشاه بابا مور زرغونه انا خبره شوه. هغې ورته وويل: زويه! ته د ټول وطن پاچا يې که يوازې د دې ښار؟ ته بايد ټول وطن وساتې. که دا ښار په دېوالونو ساتې نو ټول وطن به په څه شي ساتې؟ ته بايد دومره غښتلی اوسې چې د وطن هره سيمه درباندې خوندي وي. ته بايد د وطن د ټولو خلکو غم وکړې چې هغوی درسره مينه وکړي. هماغه وه چې احمدشاه بابا له دې کار څخه تېر شو.

ما چې دا کيسه واورېده، پوه شوم چې موږ ولې د احمدشاه بابا مور زرغونه انا بولو.

eilia.org



اناګانې خو د ټولو بچیانو او لمسیانو غم کوي او له ټولو سره مینه کوي زرغونې انا هم د وطن د ټولو خلکو غم کاوه.

ګلوزرې وویل: همداسې ده. او هر چا ته خلک بابا هم نه وایي. احمدشاه ځکه بابا دی چې د وطن د ټولو وګړو خدمت یې کاوه. هغه ټول وطن یو موټی کړ. که هغه نه وای نو دا اوسنی افغانستان به نه و.

بهشتې وویل: ځیرکه! لاندې وګوره. څومره ډېرې تختې دي.

لاندې په یوه هواره دښته کې بیخي ډېرې نیلي رنګه تختې په مایل شکل داسې درول شوې وې چې مخونه یې لمر ته وو.

ځیرک وویل: اوهووووو! چې دا به څه شی وي؟

ګلوزرې وویل: څوک پوهېږي چې برېښنا له څه شي جوړېږي؟

ځیرک وویل: د اوبو په بندونو کې غټ غټ ټوربینونه لګول کېږي. اوبه ټوربینونه څرخوي او برېښنا تولیدېږي. لکه د سلما بند او د کجکي بند کې مو چې ولیدل.

بهشتې وویل: په مزار شریف کې یوه فابریکه ده چې کود و برق نومېږي. په دې فابریکه کې له ګازو څخه کیمیایي کود او برېښنا جوړېږي.

ځیرک بیا وویل: رښتیا جنرېټر هم برېښنا تولیدوي.

ګلوزرې وویل: نور؟

ځیرک وویل: امممم. په هرات کې مو چې د بادي ژرندو خبره وکړه، تا وویل چې د بادي برېښنا دستګاوې هم شته.

ګلوزرې وویل: آفرین!

بهشتې په خوشحالۍ وویل: پیدا مې کړه! هلته وګورئ! دې تختو ته نژدې د برېښنا پایې ولاړې دي. دغه تختې به برېښنا تولیدوي.

eilia.org



ګل‌وزرې وویل: شاباس بهشتې بېګم! دغه تختې د لمر وړانګې په برېښنا بدلوي. حکومت په ډېرو پیسو د لمریزې برېښنا دا سیستم جوړ کړی دی چې د کندهار خلکو ته برېښنا برابره کړي.

څیرک وویل: نو زموږ حکومت هم د احمدشاه بابا په شان د وطن د ټولو خلکو غم کوي. په هر ځای کې سړکونه جوړوي، د اوبو بندونه جوړوي، مکتبونه او پوهنتونونه، کلینیکونه، هر څه جوړوي.

ګل‌وزرې وویل: دا د حکومت وظیفه ده. باید دا کارونه وکړي خو خلک هم باید دا شیان ښه وساتي او له حکومت سره مرسته وکړي څکه چې دا هر څه د همدې خلکو له پاره دي.

دوی د شرق خوا ته په الوت وو. له زابله تېر شول. غزني ته ورسېدل.

ګل‌وزرې وویل: تاسې پوهېږئ چې د منځنیو پېړیو د دنیا تر ګردو لوی عالم څوک و؟

څیرک او بهشتې یو بل ته سره وکتل. دواړو وویل: نه.

ګل‌وزرې وویل: اوس به یې وپېژنئ.

ګل‌وزرې د یوه قبر څنګ ته راکښته شوه. ویې‌ویل: دا د ابوریحان بیروني مقبره ده. هغه خورا لوی عالم و. هغه لومړنی کس و چې د ځمکې شعاع او د ځمکې محیط یې ډېر دقیق اندازه کړي وو. د هر ښار موقعیت یې په نقشه کې ښودلی و. د هر ځای له پاره یې د قبلې لوری معلوم کړی و. د لمانځه د وختونو د معلومولو له پاره یې فورمولونه جوړ کړي وو او ډېر نور کارونه. څیرکه! د امریکا قاره چا کشف کړه؟

څیرک وویل: موږ خو په جغرافیه کې لوستي دي چې کریستوف کولمب په کښتۍ کې هندوستان ته روان و خو لاره ورنه غلطه شوه او امریکا ته ورسېد. هغه فکر کاوه چې همدا به هند وي خو وروسته بیا معلومه شوه چې دا بله قاره ده.

ګل‌وزرې وویل: خو تر کریستوف کولمب پنځه سوه کاله د مخه ابو ریحان بیروني امریکا

eilia.org



کشف کړې وه، بې له دې چې په کښتۍ کې سفر وکړي. جالبه دا ده چې هغه سمندر بيخي ليدلی نه و.

بهشتې وويل: دا نو څنګه؟

ګل‌وزرې وويل: ابو ريحان د رياضي په محاسبو دا کار کړی و. هاغه مهال خلک يوازې آسيا، اروپا او افريقا پېژندل. امريکا چا ته نه وه معلومه. ابو ريحان ويلي وو چې په ځمکه کې يوه بله قاره هم شته. ده ان دا خبره هم کړې وه چې دا قاره به له آسيا څخه څومره لرې وي. جالبه دا ده چې اوس چې پوهانو له آسيا څخه د امريکا واټن اندازه کړی دی، دا له هغې اندازې سره ډېره نژدې ده چې البيروني ښودلې وه.

ځيرک وويل: جالبه ده. چې امريکا يې نه وه ليدلې نو واټن يې څنګه اندازه کړی و؟

بهشتې وويل: رښتيا وايي. دا نو څنګه کېدای شي؟

ګل‌وزرې وويل: آفرين! که ابو ريحان ستاسو خبرې اورېدلې وای، څومره به خوشحاله شوی و. دا ځکه چې هغه به ويل هېڅ خبره بې دليله مه منئ. د هر شي له پاره بايد ثبوت وغواړئ. خبره داسې وه چې کله هغه د ځمکې محيط اندازه کړ او پوه شو چې ځمکه څومره لويه ده نو ويې ويل چې داسې نه کېږي چې د ځمکې پر مخ دې يوازې همدومره وچې وي او نورې ټولې اوبه.

کله چې سلطان محمود غزنوي پر هند باندې حمله وکړه، البيروني هم هند ته ولاړ او د هند د خلکو پخوانۍ ژبه يعنې سانسکريت يې زده کړه او ډېر کتابونه يې مطالعه کړل. بيا يې د هند د خلکو د دود دستور، باورنو، علم او پوهې او نورو شيانو په باره کې يو ښکلی کتاب وليکه. پوهېږئ! ما په غزني کې هر څه پرېښودل او د البيروني قبر ته راغلم، دا په دې چې دی خورا لوی عالم و او انسانانو ته يې ډېر خدمت کړی و. بله به درته وکړم. د سلطان محمود زوی، سلطان مسعود چې پاچا شو، ده ته يې د اوښ يو بار سره زر ورکړل. دومره ډېر سره زر يې ورکړل چې د اوس په حساب اووه - اته ميليونه ډالره کېدل. خو ده سره زر وانه خيستل. ده وويل چې زه سره زر نه غواړم. زه يوازې دا غواړم

eilia.org



چې تحقیق ته مې پرېږدئ او د تحقیق په چارو کې مې مداخله مه کوئ. نـو دی داسـې لوی انسان و. ده به ویل چې هېڅ خبره په پټو سترګو مه منئ. هر څه باید تجربه کړئ او په عقل او علم یې درته ثابته کړئ.

څیرک وویل: هېڅ باور مې نه کېده چې زموږ په وطن کې دې داسې لوی عالمان تېر شوي وي.

ګلوزرې وویل: د سلطان محمود غزنوي په دربـار کـې ډېـر نـور عالمـان، شـاعران او هنرمندان هم وو خو البیروني د تاریخ، جغرافیه، کیمیا، ریـاضي، سـتورپوهنې او نـورو علمونو بې‌جوړې عالم و. په هاغه زمانه کې د ده په شان لوی عالم په ټوله دنیا کې نه و.

څیرک او بهشته داسې حیران وو چې خولې یې وازې پـاتې وې او سـترګې د ګـلوزرې خولې ته نیولې وې.

ګلوزرې وویل: څو به.

دوی والوتل. د غزني هغو منارونو ته ولاړل چې زر کاله پخوا د سلطان محمود غزنـوي په وخت کې جوړ شوي وو. دا هم د هرات او غور د منارونو غوندې دنګ او ښایسته وو.

eilia.org





د غزني مينارونه (عکس د ښاغلي نجيب الله مسافر)

ګلوزرې دوې ورې چوکۍ راوړې چې رسۍ ورپورې تړل شوې وې. د چوکیو رسۍ یې په خپله غاړه کې واچولې. ځیرک او بهشته پر چوکیو کېناستل. ګلوزرې منډې کړې او په هوا شوه. چوکۍ هم په هوا شوې، لکه له هلیکوپټره چې ځوړندې وي.

ګلوزرې وویل: زما خوراک!

ځیرک خوله پورته ونیوه، په لوړ غږ یې وویل: موږ خو ځوړند یو، غږ به مو څنګه درورسېږي؟

ګلوزرې ځواب ورکړ: چیغې مه وهه. په کراره خپله کیسه ووایه. زه یې اورم.

ځیرک وویل: سمه ده. نو زه به د سلطان محمود غزنوي د وخت یوه کیسه درته وکړم. زما انا کیسه کوله چې د سلطان محمود غزنوي په وخت کې یو لوی عالم و چې بهلول نومېده. هغه ښه عالم و خو ملنګي ژوند یې کاوه، په دربار کې نه اوسېده. په دې وخت کې نو د غزني مسلمانانو د هندوانو ځورول شروع کړي وو. یوه ورځ د ماښام د لمانځه

eilia.org



وخت و چې بهلول دربار ته راغی. پاچا او درباریان یې په بهلول پسې لمانځه ته ودرېدل. بهلول چې الحمد شریف شروع کړ، ویې ویل «الحمدلله رب المسلمین».

چا غږ وکړ چې «رب العالمین».

ده بیا وویل «الحمدلله رب المسلمین».

دا وار سلطان محمود غزنوي پخپله غږ وکړ چې «رب العالمین».

بهلول سلام وگرځاوه.

سلطان پوښتنه وکړه: څنگه په لمانځه کې غلط شوې؟

بهلول وویل: زه غلط شوی نه یم، تاسې غلط شوي یئ. که په دې باندې عقیده لرئ چې الله رب العالمین دی یعنې د ټولو خلکو خدای دی نو ولې ستا په پاچاهۍ کې هندوان ځورول کېږي؟ که الله رب العالمین دی نو هندوان هم په همدې عالمیانو کې راځي.

هماغه وه چې سلطان محمود امر وکړ چې نور دې څوک هندوان نه ځوروي.

گلوزرې وویل: واه! ځیرکه گله! ته خو اوس بیخي فلسفي خبرې کوې.

ټولو وخندل.

ځیرک وویل: په فلسفه باندې نه پوهېږم خو مور پوهېږو چې هر څه خدای پیدا کړي دي نو دا هر څه او هر څوک به په خدای باندې گران وي. مور مې وایي په لاره چې ځې پام کوه چې پر مېږیو پښه کېنږدې، گنې خدای بیا درنه خپه شي. چې د مېږي په ځورولو خدای خپه کېږي نو د انسان په ځورولو به خود خپه کېږي.

گلوزرې وویل: ته څومره ښه فکر لرې. آفرین ځیرک جانه!

بهشتې وویل: آفرین گلوزرې! څومره ښه ځای ته دې راوستلو. واه! دا سپین غرونه څومره ښه ښکارېږي!

د بامیان غرونه په واورو پوښلي وو. دلته هم د پنجشیر، بدخشان، او غور غونډې ډېر

eilia.org



غرونه وو او د غرونو په منځ کې تنگې درې وې. خو جالبه دا ده چې په غزني کــې اوړی و، دلته ژمی. آسمان شین او غرونه سپین. غرونه د لمر وړانگو ته داسې ځلېدل چې د چـا سترگې يې برېښولې. د يوه غره په ډډه کې گڼې پېغلې او ځوانان په رنگارنگ تودو جامو کې ولاړ وو. په پښو کې يې د سکي لرگينې درې او په لاسو کې يــې د ســکي لکــړې وې. گلوزرې ورو ورو د هغوی څنگ ته راکوزه شوه. ها خوا ته لاندې په هواره کې يوه سره پټه د دوو لکړو پر سر د سړک له يوه سره تر بل سره پورې تړل شوې وه.

ځيرک او بهشتې د چوکيو پړي خلاص کړل او ورنه کښته شول.

گلوزرې وويل: اوس به نو وگورو چې د سکي په سيالۍ کې زما ملگري جايزه گټې که د باميان ورزشکاران.

بهشتې وويل: سکي؟ ما په ژوند کې د سکي لوبه نه ده کړې.

ځيرک وويل: ما هم نه ده کړې او بله دا چې موږ خو د سکي بوټونه او لکړې هم نه لرو.

گلوزرې دوې بڼکې ځيرک ته او دوې بهشتې ته ورکړې. ويې ويل: موږ سره چې گرځې، داسې مزې به کوې. هاهاها. هله نو پر بڼکو ودرېږئ او په دې ورزشکارانو پسې ځانونه ورخوشي کړئ.

ورزشکارو نجونو او هلکانو په وار سره له هغه لوړ ځايه مخ په ځـوړ ځانونــه خــوشي کړل. د سکي اوږده هوار بوټونه لکه يخمالک ښوييدل او دوی خپلــه لاره پــه دوو اوږدو لکړو چې په لاسونو کې يې وې، سموله. لاره کږه وږه او ټيټه جگه وه.

آخري کسان ځيرک او بهشته وو. دوی نو د سکي د بوټونو پر ځای د گلوزرې بڼکې لرلې خو لکړې ورسره نه وې چې په کږليچونو او پيچومو کې خپل لوری سم کړي.

ښه نو ته څه فکر کوې چې دوی به دا ستونزه څنگه حل کړې وي؟

اها! دوی هم په ښويېدو ځانونه خوشي کړل او په تېزۍ سره مخ پــه ځــوړ روان شــول. دوی ژر دا زده کړه چې د لاسونو په خوځولو او يوې بلې خوا ته د مــلا پــه کږولــو سره

eilia.org



خپله توله يا موازانه وساتي او په پيچومو کې داسې وګرځي چې د غره له تيږو سره ټکر نه شي.

ورزشکاران مخکې، ځيرک او بهشته ورپسې وو. له دوو دريو پيچومو چې تېر شول، ځيرک او بهشته له يو څو ورزشکارانو څخه مخکې شول.

تا کله يخمالک وهلی؟ موږ چې واړه وو واورې به مو د يوه دېوال بېخ ته راټولې کړې؛ داسې چې د دېوال خوا ته به واوره ډېره وه او د ځمکې خوا ته کمه. بيا بـه مـو يـو زوړ پتنوس يا تال راواخيست، واوره به مو ښويه کړه. بيا به مو د واورې لوړ سر ته د ختلو له پاره د پښو ځايونه جوړ کړل. پرې وبه ختو او ځانونه مو خوشې کړل. په تېزۍ سره بـه وښوييدو. هی هی! څومره خوند به مو اخيست.

ښه نو. ځيرک او بهشته چې څومره کښته خوا تلل، هماغومره به له نورو نه مخکې کېدل او سرې پټې ته تر ټولو مخکې ورسېدل. د سړک په دواړو غاړو کـې ډېـر خلـک ولاړ وو، ماشومان، ځوانان، پېغلې. ټولو بهشتې او ځيرک ته چکچکې وکړې او دوی جايزه وګټله.

پوهېږې چې د سيالۍ جايزه څه وه؟

د سکي بوټونه؟

نه.

دا د باميان د لرغونو ځايونو د کتلو ټکټونه وو. د باميان په لرغونو ځايونو کې تـر ټولـو مشهور د بودا دوې مجسمې دي چې طالبانو ړنګې کړې. د باميان ښار په مرکز کې يـوه لويه لوړه غونډۍ ده چې خاوره يې شګلنه او کلکـه ده. د دې غونـډې هغـه ډډه چـې د جنوب خوا ته ده، د دېوال غوندې نېغه ده. په همـدې ډډه کـې يـې د بـودا دوې داسـې مجسمې وې چې يوه يې ۵۳ متره او بله يې ۳۵ متره لـوړه وه. پـوهېږې چـې ۵۳ مـتره څومره لوړ وي. لکه شل پوړيزه ودانۍ. دا په نړۍ کې تر ټولو لوړې او لـويې مجسـمې وې. د مجسمو له پاره د غونډۍ په دېوال کې د محراب غوندې ځايونه کيندل شوي وو او دا مجسمې په کې توږل شوې وې. اوس نو يوازې د محراب په بڼه چوکاټونه يې پاتې دي

eilia.org



او د مجسمو ټوټې په يوې لويې کوټې کې اېښودل شوې دي. دا مجسمې څه باندې ۱۸۰۰ کاله وړاندې جوړې شوې وې.



باميان، د بودا د لوړې مجسمې چوکاټ (عکس د ښاغلي نجيب الله مسافر)

خير نو که مجسمې نه شته، نور شيان هلته شته چې په کتلو ارزي. د مجسمو په ځای کې دواړو خواوو ته يې د غونډۍ په منځ کې زينې دي. په دې زينو چې وخېژې، په څو پوړونو کې د غونډۍ په منځ کې کوټې دي. دا کوټې هم د هغو کوټو په شان وې چې ځيرک د سمنګان په تخت رستم کې ليدلې وې. هماغسې ګبندي چتونه او پر چت او دېوالونه يې د محراب په بڼه ځايونه کيندل شوي او ښکلي شکلونه په کې جوړ شوي وو. ځينې شکلونه يې رنګه هم وو. هغه لارښود چې ځيرک او بهشتې ته يې معلومات ورکول، وويل چې دا روغني رنګ دی او په دنيا کې په اول ځل په همدې غارونو کې کارول شوی دی. هغه دا خبره هم وکړه چې دا غارونه او کوټې د بودايي راهبانو عبادت ځايونه وو.

eilia.org





باميان، د بودا د لوړې مجسمې تر څنګ دننه په غونډۍ کې لرغونی معبد

eilia.org





باميان، د بودا د لوړې مجسمې تر څنګ دننه په غونډۍ کې لرغونی معبد

eilia.org



هغوی به دلته کېناستل او رياضت به يې کاوه چې فکـر يـې راټـول وي او څـوک ورتـه مزاحمت ونه کړي.

ځيرک ته هغه ډېرينه کوټنۍ ورياده شوه چې د تخت رستم پر سر وه او ګل‌وزرې په کې د بودايي راهبانو په شان د رياضت له پاره ناسته وه.

ستا به په ياد وي چې د تخت رستم چارچاپېره لوی ژور خندق و او راهبانو به دا خنـدق له اوبو ډکول؟

ځيرک او بهشته په لاربنود پسې روان وو. له يوې کوټې څخه بلې ته، له يوه پوړ څخه بل پوړ ته او په آخر کې د مجسمې له پاسه دهلېز ته ورسېدل چې د مجسمې له يوې خوا بلې خوا ته غځېدلی و. دوی يوه شېبه هلته ودرېدل. د دهلېز له دريڅې څخه يې لاندې وکتل. د باميان بازار، کورونه او د مخامخ غره په ډډه کې هوټلونه داسې ښـکارېدل لکـه د لاس ورغوي.

لاربنود وويل: اوس په باميان کې ډېر ښه هوټلونه جوړ شوي دي ځکه چې ډېر خلک لـه لرې ځايونو څخه د باميان ليدو ته راځي.

بهشتې پوښتنه وکړه: د هاغه مخامخ غره پر سر کلا غوندې شی چې ښکاري، هغـه څـه شی دی؟

لاربنود وويل: له دې ځايه چې کښته شو، هلته به هم ځو. هغه ځای شهرِ غُلغُله نومېږي. هغه هم ډېره پخوانۍ کلا ده.

نيم ساعت وروسته ټول په شهر غلغله کې وو. د يوې ورانې کلا د دېوالونو پاتې شوني، د کلا په بر سر کې يو برج او څو کوټې او دهلېزونه.

eilia.org





باميان، شهر غلغله

لاربښود وويل چې دا كلا څه باندې ۱۴۰۰ كاله پخوا جوړه شوې ده او د باميان پاچاهــان به په كې اوسېدل. اته سوه كاله وړاندې د مغولستان چنګېز پر دې ځای حملــه وكـړه. د پاچا ساتونكو د هغه لمسی وویشت او مړ يې كړ. بيا چنګېز خپلو عسكرو ته امر وكړ چې دا ښار به يو مخ ورانوئ. هغوی ډېر زور وكړ خو د كلا خكو كلكه دفاع كوله. ډېر وخــت تېر شو خو كلا ماته نه شوه. بيا د پاچا لور د مغولو پر يوه افسر مينه شوه. هغــې خپـل مين ته د كلا د اوبو راز ووايه. خبره داسې وه چې دا كلا خو تاسې وينئ چې له هــوارې ځمكې څخه ډېره لوړه ده، تر سل مترو زياته لوړه ده نو د اوبو له پاره يې له لرې ځــای څخه د ځمكې لاندې يو كاريز تېر كړی و چې د كلا له منځه به تېرېده. د كلا اوسېدونكو به له همدې كاريز څخه اوبه اخيستې. بيا نو هغه افسر خپل مشر يعنې چنګېز خــان تــه حال ووايه. چنګيزيان د كاريز بر سر ته ورغلل او اوبه يې بندې كړې. بيا نو د كلا خلكــو د تندې په وجه تسليم شول او مغولو كلا ونيوله. هغوی په كلا كې پراته درې څلــور زره

eilia.org



کسان ټول له يوه سره ووژل.

ځيرک اسويلی وکيښ. د بهشتې په سترګو کې اوښکې رغړېدې.

څو شېبې ټول غلي وو.

بيا لاربښود وويل: پوهېږئ چې دا کلا ولې شهر غلغله بلل کېږي؟

ځيرک وويل: نه.

هغه وويل: تاسې خو به پوهېږئ چې غلغله شور او فرياد ته وايي. خلک وايي کله چې د چنګيز عسکرو دلته خلک وژل نو د خلکو چيغې او فريادونه دومره لوړ وو چې تر لرې ځايونو پورې رسېدل. نو هماغه وو چې خلکو ورباندې د شهر غلغله نوم کېښود.

له دې ځايه په موټرو کې سپاره شول. يو ساعت يې د غرب خوا ته مزل وکړ. د باميان سړکونه نو دومره ښه او هوار وو چې سفر په کې خوند کاوه. ټول سړکونه پاخه، د سړک په غاړو کې د هرې سيمې او د هر کلي نوم پر غټو لوحو ليکل شوی و. د هر ځای واټن هم ليکل شوی و چې فرضاً يکاولنګ ته څومره لاره ده. ټرافيکي نښې چې چېرته کږلېچ او پېچومی دی، چېرته پل دی، چېرته سړک مخ په لوړه ځي او چېرته مخ په ځوړ.

ځيرک وويل: جالبه ده! په دا دومره ولايتونو کې چې زه وګرځېدم، په هېڅ ځای کې داسې ښه سړکونه او منظمې لوحې او نښې نه وې. په باميان کې څنګه دا هرڅه ډېر ښه دي؟

لاربښود وويل: دا خو په دې چې دلته جنګ نشته. په نورو ځايونو کې هم سړکونه جوړ شوي وو خو په جنګونو کې وران شوي دي. د باميان خلک هوښيار دي. دوی جنګ نه کوي ځکه يې هر څه سم دي. دلته آرامي ده نو ډېر خلک چکر او مېلې ته راځي. هغوی دلته په هوټلونو کې شپې کوي، له دوکانونو څخه شيان اخلي او خپلې پيسې دلته مصرفوي نو د باميان د خلکو ژوند هم ورسره ښه شوی دی.

په همدې خبرو خبرو کې د غونډيو له پاسه بند امير ښکاره شو چې د غونډيو په منځ کې په يوه ژور ځای کې و. اوږی و. آسمان شين او لمرين و. د بند اوبه د آسمان غونډې نيلي

eilia.org



ښکارېدې. زېړې، شنې، سرې بېړۍ د اوبو پر سر ګرځېدې. د بند په شمالي څنډه کې ډېر خلک راټول وو.



باميان، د بند امير يوه څنډه

د ځيرک دوی موټر د غونډۍ له سره کښته خوا روان شو او بند ته نژدې ودرېد.

د چپس او برګر خرڅولو غرفې، د پيرکيو، شور نخودو او شـيريخ پلورلـو کراچـۍ، پـر مېزونو د باماني مېرمنو په لاس جوړې شوې ګاڼې، تسبيح، ببوزي، او پر ځينو مېزونـو تورې عينکې او ګردې خولۍ چې چارچاپېره يې د چترۍ غوندې جوړه ده چې مخ او څټ له لمره وساتي.

ځيرک او بهشتې تورې عينکې او خولۍ واخيستې. د بند خوا تـه روان شـول. د بنـد لـه څنډو څخه اوبه کښته توېيدې او په دېوالونو کې يې ځـړوبي جـوړ کـړي وو. د اوبـو د توېيدو شرهار له لرې اورېدل کېده.

eilia.org





د بند امیر په دېوالونو کې ځړوبي

ځمکه تکه سپينه وه، لکه تباشير او له بند څه تويې شوې رڼې اوبه په کې هوارې بهېدې. ځيرک او بهشتې بوټونه وکښل او په اوبو کې يېلې پښې ګډ شول. اوبه يې تر ښنگرو پورې رسېدې. داسې يخې چې ته وا له يخچاله دې رايستلې دي. دوی وېرېدل چې پښې يې په خټو نه شي خو ځمکه داسې کلکه وه لکه کانکرېټ، خاورې ختې په کې بيخي نه وې. هلته خاوره له ګچ او چونې سره ګډه وه ځکه خو ځمکه تکه سپينه ښکارېده او کلکوالی يې هم په همدې وجه و.

د بند د دېواله سر ته وختل. دا دېوال هم لکه ځمکه سپينه وه. د بند اوبه داسې رڼې وې چې نقره‌يي او زرين کبان په کې اوچت ښکارېدل چې دې خوا ها خوا ګرځي. لږ ها خوا ته خلکو بېړيو ته انتظار کاوه. لاربښود بهشتې او ځيرک ته ټکټونه واخيستل. څو شېبې وروسته له پلاسټيک څخه جوړه شوې بېړۍ راورسېده. د دوو کسانو د کېناستو ځای په کې و. ځيرک او بهشته وروختل. د دواړو له پښو سره اوسپنيز پېډلونه وو. دواړو پېډلونه

eilia.org



وګرځول او بېړۍ په اوبو کې روانه شوه.

ته د اوبو پر سر ګرځېدلی یې؟ په بېړۍ کې دې چکر وهلی دی؟

ډېر خوند کوي. بهشته او ځیرک پوره یو ساعت بېړۍ چلوله خو د بند بل سر ته ونه رسېدل. بند ډېر لوی و. دا هم لکه د شیوا جهیل غونډې چې ځیرک د بدخشان په شغنان کې لیدلی و، طبیعي بند و.



د بند امیر یوه څنډه (عکس ښاغلي نجیب الله مسافر اخیستی)

یو ساعت وروسته چې دوی بېرته د بند څنډې راغلل او له بېړۍ څخه کښته شول، ګلوزرې هلته ولاړه وه. هغې وویل: دا وار به بل رقم الوت وکړو.

دوې بڼکې یې بهشتې ته او دوې بڼکې یې ځیرک ته ورکړې. ویې ویل: دا بڼکې مو په مټو پورې وتړئ او په ما پسې والوځئ.

درې واړه په هوا شول؛ ګلوزرې په منځ کې، ځیرک یې په یوه او بهشته یې په بله خوا کې. هی هی! الوتل نو څومره خوند کوي.

eilia.org



ځيرک او بهشتې به کله د اوبو خوا ته ورټيټ شول او کله به پورته تلل. په لاره کې يې له يو بل سره سيالي کوله. کله به بهشته مخکې شوه او کله ځيرک. دوی له باميان څخه بېرته د غزني خوا ته لاړل. د غزني له پاسه تېرېدل چې ځيرک وويل: اوه! ښه شوه چې رايادە مې شوه. د سلطان بند خو مو ونه ليد.

ګلوزرې وويل: رښتيا وايې. ما په پنجشېر کې درسره ژمنه کړې وه چې په غزني کې به بند سلطان دربانديې وينم. ښه نو اوس به يې له پاسه تېر شو. او بله ژمنه مې هم کړې وه. په ياد به دې وي؟

ځيرک وويل: امممممممم. نه.

ګلوزرې وويل: يونيم لک کاله پخواني شيان.

ځيرک وويل: هو. دا دې ويلي وو خو دا خبره دې نه وه کړې چې دا شيان په کوم ځای کې دي.

ګلوزرې د يوې دښتې پر سر په الوت وه. ويې ويل: دا د غزني ناور دی. لرغونپوهانو له دې ځای څخه داسې وسايل موندلي دي چې د ډبرې د عصر وو او شاوخوا يونيم کاله پخواني وو. هغه وسايل له ډبرې جوړ شوي وو.

بهشتې وويل: يونيم لک کاله؟

ګلوزرې وويل: بالکل. يونيم لک کاله. هاغه مهال به خلکو د حيواناتو د ښکار او د لرګيو د ماتولو له پاره له تيږې څخه وسايل جوړول. د نريو تيږو څوکې به يې له نورو تيږو سره سولول چې تېره شي. بيا به يې د يوه اوږده لرګي په سر کې تړله. په دې شي به يې وحشي ژوي ښکار کول او خوړل به يې. په همدې خاطر هاغه زمانې ته ډبر پېر يا د ډبرې عصر وايي.

څو شېبې وروسته دوی يوه لوی بند ته ورسېدل.

بهشتې پوښتنه وکړه: همدا دی؟ بند سلطان ته ورسېدو؟

eilia.org



ګلوزرۍ وویل: نه، نه. دا د سرده بند دی. دا به وګورو بیا به د سلطان بند ته لاړ شو.

دا بند طبیعي وو، د شیوا جهیل او د بند امیر غوندې خو تر هغه وړوکی.

دوی د بند څنډې ته نژدې کېدل چې ډز شو.

ډېرې مرغاوۍ په یوه وار د اوبو له سره والوتې.

ګلوزرۍ وویل: مه ډارېږئ! هلته لاندې یوه ښکاري د چرهیي ټوپک ډز وکړ. دلته خلک د ښکار له پاره راځي.

څیرک وویل: که اوس د ډېرې عصر وای دوی به مرغاوۍ په تیږو ویشتل.

ټولو وخندل.

بیا نو د سلطان بند ته ولاړل خو ورکښته نه شول. همداسې له هوا څخه یې ورته وکتل. د بند دېوالونه له تیږو او کانکریټو جوړ شوي وو.

څیرک پوښتنه وکړه: په هاغه وخت کې چې دا بند جوړېده، سمنټ وو؟

ګلوزرۍ وویل: نه، دا خبره دې څنګه وکړه؟

څیرک وویل: د بند دېوالونه وګوره. کانکریټي دي. کانکریټ خو بې سمنټو نه کېږي.

ګلوزرۍ وویل: آفرین! وایم په رښتیا چې څیرک یې او هر څه ته ځیر کېږې. هغه دېوالونه چې د سلطان محمود غزنوي په وخت کې جوړ شوي وو، خام وو. یو شل یا پنځه ویشت کاله مخکې بیا د بند یو دېوال مات شو. بیا حکومت دې خوا ته نوي پاخه دېوالونه جوړ کړل. پخواني دېوالونه یې اوس تر اوبو لاندې شوي دي. کله چې په بند کې اوبه کمې شي، بیا معلومېږي.

eilia.org





غزنی، بند سلطان هغه مهال چې اوبه په کې کمې دي او پخواني دېوالونه يې ښکاري
(عکس د ښاغلي نجيب الله مسافر)

ځيرک وويل: وی! ستا خوراک خو بيا رانه هېر شو. خيـر دی اوس بـه يـوه ټوکـه درتـه ووايم. وايي يو چا لاپې کولې، ويې ويل چې زما د پلار ساعت شل کاله تر اوبـو لانـدې و خو چې کله مې پلار ساعت بېرته پيدا کړ، لا هم گرځېده.

بل يې وويل: زما پلار شل کاله د اوبو لاندې و او چې کله راووت روغ جوړ و.

هغه اولي پوښتنه وکړه چې ستا پلار دا شل کاله تر اوبو لاندې څه کول؟

ده وويل چې ستا د پلار ساعت يې کوک کاوه چې وگرځي.

گل‌وزرې او بهشتې کټ کټ په خندا شول.

بهشتې وويل: دا دی د سلطان بند دېوالونه هم شل کاله کېږي چې تـر اوبـو لانـدې دي. هاهاها.

eilia.org



په همدې خبرو کې پکتیکا ته ورسېدل. غرونه، غرونه، غرونه او د غرونـو پـه مـنځ کـې تنگې درې. خو دا غرونه متفاوت وو. دومره ډېرې ونې په کې وې چې د غرونو تيږې پـه کې سمې نه ښکارېدې. د نښتر، جلغوزيو، لمنځو او څېړيو ونې.

د يوه لوړ غره پر سر د ځنگله منځ ته ورکښته شول. ځيرک او بهشته څو دقيقې د ځنگله په منځ کې دې خوا ها خوا وگرځېدل. چوپه چوپتيـا وه. د دوی تـر پښـو لانـدې د ونـو رژېدليو پاڼو غژهاري کول. ځينې ونې لنډې خو پلنې وې او ځينې يې دنگې او نرۍ. ښه وړاندې ولاړل. ناڅاپه درب شو. د جلغوزيو يوه غوزه د ځيرک له پښـو سره ولگېـده. لـه ځمکې څخه دوړه پورته شوه.

هررر، هرررررر، هرررررر شورماشور پورته شو. له هرې خوا څخه د غوزو وارونه پـرې وشول.

بهشتې چيغه کړه: بيزوگانې دي. هله وتښته.

ځيرک او بهشتې منډې کړې. بيزوگانو هم له يوې ونې بلې ته او لـه بلـې ونـې بلـې تـه ټوپونه وهل او په دوی پسې راتلې.

گل‌وزرې چې د ونو له پاسه الوتله، له خندا شنه وه. په ډکه خوله خندا يې وويل: وه ساده گانو څه ته گورئ خو والوځئ کنه.

ځيرک او بهشته والوتل او په گل‌وزرې پسې يې ځانونه ورسـول. د دواړو سـتمی کېـده. ساه يې په تېزۍ سره ايستله. ستوني يې وچ شوي وو.

گل‌وزرې وويل: هاهاهاها، څنگه يې پسې واخيستئ. د بيزوگانو لښکر مو وليده؟

ځيرک په خندا وويل: لښکر نه لښکرې يې وې. څومره ډېرې وې.

گل‌وزرې وويل: يوازې بيزوگانې نه دي، په دې ځنگلونو کې لېوه، سورلنډی، او ان يو نيم پړانگ هم پيدا کېږي.

eilia.org



دوی همداسې د ځنګلي غرونو له پاسه الوتل. ځيرک او بهشتې ته نو الوتل ډېر زيات خوند ورکړی و. کله به ونو ته ورټيټ شول، کله به پورته لاړل، کله به تر ګلوزرې مخکې شول او کله وروسته. د دوی خولې له خندا ډکې وه او په خوشحالۍ کې يې د ګلوزرې خوراک بيا هېر کړی و.

ګلوزرې تر يوه ځايه حوصله وکړه خو ويې ليدل چې څوک ورته کيسه نه وايي نو غږ يې وکړ: کولې مې له لوږې نه رباب غږوي.

ځيرک په خندا وويل: نو زه به هم سندرې ووايم. يا قربااااااان

ټولو وخندل.

بيا بهشتې وويل: وبخښه چې ستا خوراک مو هېر و. ښه شوه چې د بودا د مجسمو ځای مو وليد. ما له راهيو نه د بودا يوه کيسه اورېدلې وه. وايي يوه ورځ بودا له خپل يوه شاګرد سره په سفر روان و. ډېر مزل يې وکړ. بودا تږی شو. شاګرد ته يې وويل: ما ته به لږ اوبه راوړې؟

شاګرد يې وويل: ولې نه.

هغه ولاړ او څو شېبې وروسته بېرته راغی خو جام يې تش راوړی و.

بودا وويل: اوبه دې رانه وړې؟

شاګرد ځواب ورکړ: د وياله اوبه خړې وې.

بودا وويل: زه تږی يم او اوبه غواړم.

شاګرد يې بيا ولاړ. دا وار يې ډېر ځنډ وکړ خو چې راغی، جام يې له اوبو ډک کړی و.

بودا وويل: څه دې وکړل چې رڼې اوبه دې پيدا کړې؟

شاګرد ځواب ورکړ: ورته صبر مې وکړ. ورو ورو د اوبو خړوالی کم شو او چې لږ نور صبر مې هم وکړ، اوبه بيخي رڼې شوې.

eilia.org



بودا وويل: غوسه هم همداسې ده. که صبر ورته وکړې، ورو ورو کمېږي او ختمېږي.

ګل‌وزرې وويل: ښه نو! مطلب دې دا دی چې که ما هم صبر کړی وای، تاسو به زما خوراک راکړی و. هاهاهاها.

بهشتي په خندا وويل: نه. تا خو صبر کړی و. دا کيسه مې هسې په بودا پورې رايادە شوه. خو زه پوه نه شوم چې طالبانو ولې د بودا مجسمې ړنګې کړې؟ دا خو زموږ فرهنګي ميراث و.

په دې وخت کې دوی داسې غرونو ته ورسېدل چې ونې په کې کمې وې، يوه دلته، بله هلته.

ګل‌وزرې وويل: دا د خوست غرونه دي. پخوا دا غرونه هم د پکتيکا د غرونو غوندې ډېرې ونې درلودې خو خلکو ډېرې ونې ووهلې او غرونه يې داسې سپېره کړل.

په خوست کې هم سړکونه پاخه او سم وو. د سړکونو دواړو غاړو ته ونې ولاړې وې. ښار يې هم نسبتاً لوی او ښکلی و. څو لوی لوی پارکونه او د فوټبال او کرېکټ ميدانونه په کې وو. په ډېرو لرې ځايونو کې هم مکتبونه وو. هلکان او نجونې مکتبونو ته تلل. د ښار په يوه ځای کې ډېر خلک سره راټول وو. غونډه وه. يو مشر سړی د سټېج پر سر ولاړ و، په ميکروفون کې يې خبرې کولې.

ځيرک دوی راکښته شول. د هغه مشر سړي خبرو ته غوږ شول چې ويل يې موږ له دولت څخه مننه کوو چې په خوست کې دويم پوهنتون، د پاچا خان پوهنتون، جوړوي.

ځيرک له يوه ځوان څخه پوښتنه وکړه: دلته بل پوهنتون هم شته؟

هغه وويل: هو. د شيخ زايد پوهنتون. خو اوس که خدای کول دا دويم پوهنتون به هم جوړېږي. دلته خلک له تعليم سره ډېره مينه لري ځکه خو دولت بل پوهنتون هم ورته جوړوي.

eilia.org





خوست، شيخ زايد پوهنتون

ځيرک وويل: ستاسو سړکونه خو هم پاخه او ښه دي. داسې ښکاري چې دلته جنګ نشته.

ځوان وويل: ښه شي ته دې پام شوی دی. نه، دلته شکر جنګ نشته. زموږ خلک هوښيار دي. پوهېږي چې په جنګ کې مو وطن ورانېږي او خلک وژل کېږي.

ځيرک وويل: ډېره ښه. خو که ستاسو خلک هوښيار دي نو غرونه يې ولې داسې سپېره کړي دي. ونې يې ولې داسې وهلې دي؟

ځوان څو شېبې غلی و. بيا يې وويل: ته ښه وايې.

ځيرک دوی شيخ زايد پوهنتون ولاړل. دا نو د يوې غونډې په ډډه کې و. ښکلې ودانۍ، شنه چمنونه او ښايسته ونې په کې وې. د پوهنتون په چمن کې يو هزاره او يو اوزبيک محصل له يوه خوستوال محصل سره ناست وو. هزاره او اوزبيک محصلانو داسې په خوستواله لهجه پښتو ويله چې ځيرک يې بيخي حيران کړی و.

ځيرک د هغوی په څنګ کې کېناست. هغوی ويل چې دلته خلک راسره ډېر ښه کوي. د پوهنتون په ليليه کې اول د نورو ولايتونو هغو محصلانو ته ځای ورکوي چې پښتانه نه

eilia.org



دي وروسته بيا نورو ته کوټې ورکوي. استادان مو درسونه راته په فارسي ژبه هم تشريح کوي چې ښه مو زده شي. خو اوس موږ پښتو زده کړې ده، استادان چې په فارسي درس تشريح کړي، موږ ورته وايو چې استاده موږ په پښتو پوهېږو. دوکانداران موږ ته هر شی ارزانه راکوي، وايي چې تاسې مسافر يئ. خوستوال ملګري مو راته مېلمستياوې کوي او مېلو ته مو بيايي. د دې ځای ځوانان له کتاب او مطالعې سره مينه لري. د کتاب پلورنکو کار و بار دلته ډېر ښه دی.

ځيرک وويل: د دې پوهنتون نوم راته عجيب غوندې ښکاري. شيخ زايد؟

خوستوال محصل وويل: هو. شيخ زايد د عربي متحده اماراتو امير و. زموږ خوستوال په اماراتو کې ډېر دي. هلته مزدوري کوي. د اماراتو دولت وويل دا چې خوستوالو زموږ د ښارونو په آبادولو کې برخه اخيستې ده نو موږ به هم د دوی لـه پـاره يـو پوهنتـون جوړوو. د دې پوهنتون د جوړولو پيسې د اماراتو دولت ورکړې دي.

د پوهنتون فضا د ځيرک ډېره خوښه شوه. هلته محصلان لکه ورونه سره خواږه وو.

بهشتې لږ ها خوا له څو نجونو سره مجلس کاوه. دا نجونې د طب محصلانې وې.

محصلانو دوی د حکيم تڼيوال پارک ته بوتلل. دا نو دومره لوی پارک و چې په کابل کـې هم هغسې پارک نشته. په پارک کې د لوبې او ساعت تېرۍ ډېر وسايل وو. يو وړوکی رېل ګاډی چې پر يوې لوړې ګردې پټلۍ ګرځېده، الوتکې چې هم ګردې تاوېدې او هم کښـته پورته تلې، څرخونه، هغه کښتۍ چې مخ ته او شا ته ځي او لکه ټال ټالۍ وهي، يـو ډېـر لوړ برج چې کېبل ورنه راوتلی او د پارک په بل سر کې په يوه ټيټ برج پـورې نښـتی او خلک په مخصوصو کمربندونو ځان تړي. پر کېبل ځان ځوړندوي او بيا په تېزۍ سره د پارک تر بل سر پورې ښوييږي.

محصلانو ځيرک او بهشتې ته ښه خوندور آيس کريمونه واخيستل او د آيـس کـريم لـه خوړولو وروسته ګلوزرې ورپسې راغله.

دوی بيا والوتل. مخکې له دې چې ګلوزرې خپل خوراک وغواړي، بهشتې وويل: مـا لـه

eilia.org



خوستوالو پيغلو نه يوه نوې کيسه زده کړې ده. اوس به يې تاسو ته ووايم. موږ او تاسو خو وليدل چې د خوست غرونه په ځنګلونو پوښلي دي نو کيسه داسې ده چې وايي يو بوډا و يو يې زوی و. دوی به له غره څخه لرګي راوړل. يو څه به يې خرڅ کړل او څه به يې د کور له پاره وساتل. لرګي به يې پر خرو راوړل. د دوی په غرونو کې د څېړيو او نښترو ونې دومره ګڼې وې چې کله به د ونو منځ ته ورغلې، لس ګامه وړاندې به درته نه ښکارېده. په دې ځنګلونو کې لېوان، زمري او سورلنډيان هم اوسېدل، بيزوګانې خو په کې دومره ډېرې وې چې په هره ونه کې به يوه دوې ناستې وې. کله کله به بيزوګانو پر انسانانو باندې د نښترو د پرګيو (غوزو) وارونه هم کول او پخپله به يې ورته خندلې.

ځيرک وويل: هماغسې چې زه او ته يې ويشتلو. هاهاهاها.

بهشتې وويل: هو. هماغسې. اوس نو کيسې ته غوږ شه. د هر قوم خپل غر و او په غره کې د هر خېل سېمه معلومه وه چې څوک به د کوم ځای لرګی وهلی شي. د قوم مشرانو په لانده لرګي ناغه ايښې وه چې څوک به يې نه وهي. پخوا ښه وه چې وچ ښاخونه په اسانۍ سره پيدا کېدل؛ خو وروسته د غره په ټيټو ځايونو کې وچې څانګې خلاصې شوې. خلک مجبور وو چې پورته پسې وخېژي او د ځنګله منځ ته ورننوځي؛ نو هر وخت به دوه درې ملګري سره يو ځای کېدل او په ګډه به غره تلل.

يوه ورځ د سهار په خره کې د ملا له اذان سره ژنی پاڅېد. اودس او لمونځ يې وکړ. بيا يې پلار ته وويل چې زه به يو څو ملګري پيدا کړم او غره ته به لاړ شم. دی ووت خو نيم ساعت وروسته بېرته کور ته راغی. پلار يې چې په انګړ کې پر کټ پروت و، سر يې راپورته کړ، پوښتنه يې وکړه: غره ته نه ولاړې؟

زوی يې وويل: نه، دادا. څوک مې پيدا نه کړل چې راسره ولاړ شي.

پلار يې پوښتنه وکړه: هېڅوک پيدا نه شو؟

ژنی ځواب ورکړ: نه.

پلار يې وويل: ګوره! زه چې ژنی وم په ځنګله کې مې يو ملګری و، مجبور نومېده. کوم

eilia.org



وخت چې به يوازې وم، ښه پرېمانه لرگي به مې ووهل، بيا به مې مجبور ته غړ وکړ چې خرې راسره بار کړي. هغه به اوس هم هلته وي. بس غږ ورباندې وکړه، پخپله به ځان درورسوي.

ژني د اوبو پتېکی (پتک) په ملا پورې وتاړه. نيمه ډوډۍ او يوه چکه گوړه يې په دسمال کې تاو کړه او د خرې په کته کې واچوله. خرې يې په مخه کړې. روان شو. ښه ډېر مزل يې وکړ.

لمر تازه د ونو پر څوکو لگېدلی و چې ژني ځنگله ته ورسېد. د غره په بېخ کې يې خرې چينې ته ودرولې. دی د چينې بر سر ته ورغی. خولۍ يې له سره لرې کړه. په رڼو اوبو کې يې وړو وړو ماهيانو ته وکتل چې د اوبو په تل کې د ښويو تيږو په منځ کې کښته پورته گرځېدل. مخ لاس يې تازه کړ. بيا يې د پتېکي پاتې اوبه خالي کړې او بېرته يې د چينې له خوږو اوبو راډک کړ. خرو له چينې په راوتلي لښتي کې وربوزنه ورننه ايستلي وو. ښايسته ځنډ يې اوبه وڅښلې.

ژني بيا خرې رواني کړې. د ځنگله په منځ کې پورته خوا روان شو. خرې يې په ونو پورې وتړلې. تېره تبرگی يې راواخيست او د وچو ښاخونو په وهلو يې پيل وکړ. ښه درانه درانه بارونه يې وتړل. کار يې چې خلاص شو، وچه ډوډۍ او گوړه يې مخې ته کېښوده او په اوبو پورې يې وخوړه. بيا نو راپاڅېد. لاسونه يې د خولې په دواړو خواوو کې ونيول او په زوره يې نارې کړې: مجبوره! وه مجبوره!

چا يې ځواب ورنه کړ. دا وار يې مخ بلې خوا ته ونيو او تر لومړي ځل يې لا په لوړ اواز چيغه کړه: مجبوره! مجبووووره!

بېرته يې خپل غږ واورېد چې په غره کې يې انگازې کولې. ستونی يې وچ شو. پتېکی يې راواخيست. لږ اوبه يې تېرې کړې. لويه ساه يې واخيسته او بيا يې څومره چې توان و، هماغومره يې په زوره د مجبور نوم واخيست؛ خو خبره هماغه وه. د مجبور درک نه لگېده.

eilia.org



بله چاره نه وه. پخپله مجبور شو چې درانه بارونه په يوازې سر په خرو باندې بار کړي. ډک ترنګونه يې کرار کرار وڅکول او د يوې پرښې سر ته يې پورته کړل. بيا يــې خــرې راوستلې د پرښې لاندې يې ودرولې. په کرار يې يو ترنګ په يوې خرې بار کړ، بيا بل او ورپسې يې دريم ترنګ بار کړ.

کور ته چې ورسېد، لمر په اسمان کې نيغ ولاړ و. پلار يې مخې تــه ورووت. بارونــه يــې ورسره کښته کړل. ژنی چې ډېر ستړی و، پلار ته يې په غوســه وويــل: نــن دې د دريــو کسانو کار په يوازې سر راباندې وکړ. اخ ملا دې راماته کړه.

پلار يې وويل: ولې؟ مجبور دې پيدا نه کړ؟

ژني وويل: نه بابا. مجبور چېرته و. په چيغو چيغو مــې مــری ورپســې وشېرلــه خــو د مجبور پته ونه لګېده.

پلار موسکی شو، ويې ويل: ښه نو! آخر کې دې څه وکړل؟

ژني د تندي خوله وچه کړه، ويې ويل: پخپله مجبور شوم چې خرې پــه يــوازې سر بــار کړم.

پلار يې ورته وخندل: ما خو همدغه مجبور درښييلی و. که ځان يوازې وګڼې، مجبور بـه شې او ډېر لوی کارونه به په يوازې سر وکړې.

ګلوزرې وويل: واه! څومره خوندوره کيسه!

دوی د ډېرو غرونو له پاسه سفر وکړ او ورسېدل جلال آباد ته.

څه ښه وږم! د نارنج د ګلو وږم په ټوله فضا کې خپور و او ورسره د ګلابــو خشــبويي. اورځلا د عطرو کارخانه. په دې کارخانه کې د نارنج د ګلو او د ګلابو شوده ايستل کېدله. د کارخانې مالک وويل چې پخوا به دلته خلکو کوکنار کرل. د کوکنارو د کرلو په وجه ډېر ځوانان معتاد شوي وو. موږ دا کارخانه جوړه کړه او خلکو ته مو وويــل چــې تاســې د ګلابو باغونه جوړ کړئ، موږ يې په ښه بيه درنه اخلو. اوس ډېر خلــک د ګلابــو باغونــه

eilia.org



لري. موږ د ګلابو او د نارنج د ګلو شوده راباسو او بهر ته یې لېږو. هلته پروسس کېږي او د اورځلا په نوم عطر ورنه جوړېږي. دا عطر اوس ښه مشهور شوی دی او د دنیا ډېر خلک یې په دې خوښوي چې طبیعي دي.

ځیرک او بهشته په کارخانه کې وګرځېدل. ماشینونه او د ګلانو د شودې ایستلو چارې یې وکتلې. د کارخانې مالک هر یوه ته د اورځلا د عطرو یو یو بوتل ورکړ.

بیا دوی یوه باغ ته ولاړل چې د امیر امان الله خان قبر په کې و. د مرمر له سپینو ډبرو ښخه جوړ شوی قبر، د باغ په یوه کونج کې. هلته د یوه مکتب شاګردانې راټولې وې. د هر چا په لاس کې یو یو ګل و. هغوی د امان الله خان پر قبر ګلونه کېښودل. وروسته د هغوی معلمې وویل: ګرانو شاګردانو! موږ ولې دلته راغلي یو؟

ټولو په یوه غږ وویل: راغلي چې د امان الله خان قبر ته ګلونه کېږدو.

معلمې بیا پوښتنه وکړه: ولې د امان الله خان قدر کوو؟

نجونو وویل: ځکه چې زموږ وطن یې آزاد کړی دی.

معلمې وویل: ښه نو. غوږ شئ چې زه د امان الله خان کیسه درته وکړم. سل کاله پخوا امان الله خان پاچا شو. هاغه مهال افغانستان دا واک نه درلود چې له نورو ملکونو سره رابطه وکړي. انګلیسانو دا واک ورنه اخیستی و. امان الله خان د کابل په عیدګاه جومات کې اعلان وکړ چې له دې وروسته موږ خپلواک یو. له هر هېواد سره مو چې زړه وغواړي دوستي کوو او رابطه ورسره پالو. انګلیسانو دا نه منله نو جګړه وشوه؛ دا مو له انګلیسانو سره درېیمه جګړه وه. افغانانو انګلیسان مات کړل او هغوی مجبور شول چې د افغانستان خپلواکي ومني. دا هغه وخت و چې هند او اوسنی پاکستان او ډېر نو ملکونه د انګلستان مستعمرې وې او خپل واک یې نه درلود.

eilia.org





جلال آباد، د امیر امان الله خان مقبره

امان الله خان غوښتل چې افغانستان پرمخ ولاړ شي، پر خپلو پښو ودرېږي او پیاوړی شي نو ډېر مکتبونه یې جوړ کړل. د نجونو لومړنی مکتب په هماغه وخت کې جوړ شو. ځوانان یې نورو ملکونو ته ولېږل چې ښه تعلیم وکړي او بیا راشي خپل وطن جوړ کړي. دوی د وطن لومړني ډاکټران، انجینیران، پیلوټان او مسلکي معلمان وو. د امان الله خان مېرمن ملکه ثریا هم ورسره اوږه په اوږه روانه وه. هغې به نجونې هڅولې چې تعلیم وکړي. د هغه په پاچاهۍ کې ډېر کارونه وشول. د راډیو دستگاه جوړه شوه؛ اخبارونه او مجلې راووتې. د کاغذ، قند، سمنټو، صابون، اورلگیتو، شیشې، یخي جوړولو، ټوکر اوبدلو او ډېرې نورې فابریکې جوړې شوې. له اروپایي او آسیایي ملکونو سره مو تجارت پیل شو. عصري حکومتي سیستم او منظم پوځ رامنځته شول. په کابل او جلال آباد کې هوټلونه او ماڼۍ جوړې شوې. رېل گاډی راغی. په لومړي ځل خلکو ته د کوي (چیچک) واکسین ولگول شو. په کابل کې یو عصري روغتون د نارینه‌وو او بل د ښځو له پاره جوړ

eilia.org



شو. په درېو نورو ولايتونو کې هم روغتونونه جوړ شـول. الـوتکې واخيسـتل شـوې او پيلوټان ورته ورزول شول. په کابل کې هوايي ډګـر جـوړ شـو. د هغـه پـه وخـت کـې افغانستان په يوه لويه جرګه کې خپل اساسي قانون جوړ کړ او دا په دې ټوله سيمه کـې لومړنی هېواد و چې اساسي قانون يې درلود. که امان الله خان په واک کې پاتې وای، اوس به افغانستان د اروپايي ملکونو غوندې آباد وای خو ارمان چې ځينې خلک ناپوه وو. هغه يې کار ته پرې نه ښود او حکومت يې نسکور کړ.

ټولو لاسونه لپه کړل. ټولو دعا وکړه چې خدای دې امان الله خان په جنت کـې خوشـحاله لري.

ځيرک په چورت کې و چې ولې خلکو امان الله خان پرې نه ښود چـې وطـن آبـاد کـړي. آبادي خو د ټولو خلکو په ګټه ده.

ګلوزرې ورته وويل: اخ! ګرانه! سل کلونه تېر شول خو لا هم ځينې خلک هماغسې دي. تا خو هغه خراب شوي سړکونه، وران شوي پلونه، سوځېدلي مکتبونه وليدل کنه. اوس هـم داسې خلک شته چې د وطن آبادي نه غواړي او هره ورځ خپل وطن په خپل لاس ورانوي.

د ځيرک او بهشتې سرونه ځړېدلي وو. ځيرک د لمن پيڅکه پـه ګوتـه تاوولـه. د بهشـتې لاسونه مړه پړه ځوړند وو.

دوی داسې شرمېدلي وو لکه په امتحان کې چې ناکامه شوي وي؛ لکه مهمه لوبه يې چې بايللې وي؛ لکه د امان الله خان ناکامول چې د دوی کار وي؛ لکه د اوس وخت د سـوځول شويو مکتبونو او وران شويو پلونو او سړکونو ملامتي چې د دوی په غاړه وي.

ګلوزرې د دواړو پر سر خپل وزر تېره کړه. ويې ويل: مه خپه کېږئ. پوهېږئ، تاسې هر څه سمولی شئ. هر څه ستاسو په لاسونو کې دي.

بهشتې او ځيرک يو بل ته سره وکتل. دواړو اوږې پورته وغورځولې.

ځيرک ګلوزرې ته مخ واړاوه، ويې ويل: موږ نو څه کولی شو؟

eilia.org



ګل‌وزرې وویل: ډېر ښه. که تاسې او ستاسو همزولي ښه تعلیم وکړئ، ښه او بد وپېژنئ، په هر څه باندې فکر وکړئ، مخکې له دې چې د چا خبره ومنئ، ښه غور وکړئ چې خبره يې سمه ده که نه نو تاسې چې لوی شئ، وطن به مو آباد کړئ او څوک بــه مــو د وطــن ورانولو ته نه پرېږدئ. هلئ! راځئ چې يو بل لرغونی ځای دربانديې وګورم.

ځيرک او بهشتې ورو ګامونه واخيستل. د ګل‌وزرې شا ته وختل. ګل‌وزرې والوتــه او پــه څو شېبو کې هډې ته ورسېده. خو د هډې کيسې ځيرک او بهشته لا پسې خپه کړل. هغــه داسې چې ګل‌وزرې ورته کيسه وکړه چې هډه د بودايي تمدن د هــنر لــوی مرکــز و. پــه لومړي ځل د بودا ښکلې مجسمې په همدې هډه کې جوړې شوې دي. د دې ځای خلکو له يونانيانو څخه د مجسمې جوړول زده کړي وو. له دې ځای څخه ډېر ارزښتمن لرغــوني آثار پيدا شوي وو، داسې آثار چې بې ساري وو.

ځيرک پوښتنه وکړه: هغه آثار اوس چېرې دي؟

ګل‌وزرې سوړ اسويلی وکيښ او ويې ويل: آه! ښه درته ووايم. آثار خو يــې د کابــل مــلي موزيم ته لېږلي وو خو په ۱۳۷۱ کې چې جهادي تنظيمونه کابل ته ننوتــل، مــوزيم يــې لوټ کړ. دا او ډېر نور آثار يې له موزيم څخه غلا کړل. هغه آثار تر ننه پــورې ورک دي. هغوی يوازې موزيم نه بلکې ټول کابــل او ټــول افغانســتان يــې لــوټ کــړ. د فــابريکې ماشيونه، د پوځ ټانکونه، موټرې او طيارې، د دولت او د خلکو مالونه او هر څه يې چور کړل. دوی په خپلو منځو کې جګړې وکړې او ټول کابل يې له خاورو سره خاورې کړ.

ځيرک دېوال ته تکيه وکړه. سترګې يې پټې کړې.

بهشته کېناسته او سر يې پر زنګنو کېښود.

ګل‌وزرې هم غلې وه.

ډېر ځنډ وروسته ځيرک وويل: ډېره د شرم خبره ده. کاش پــه دې شــيانو نــه وای خــبر شوی. هېڅ مې باور نه کېږي. وطن خو زموږ د ټولو کور دی. دا نو څنګه کېدای شي چې څوک دې د خپل کور شيان غلا کړي.

eilia.org



بهشتۍ وويل: ما ته هم شرم درېږي. مکتبونه، سړکونه، پلونه، کلينيکونه دا هر څه زموږ د ټولو دي خو په موږ کې بيا داسې کسان شته چې سوځوي يې، ورانوي يې. لکه څوک چې د خپل کور شيشې ماتې کړي، دېوالونه يې رنګ کړي، لوښي کودي يې مات کړي. دا خو د هوښيارو کسانو کار نه دی.

ګلوزرې وويل: همداسې ده. دا د هوښيارو خلکو کار نه دی. نو زه بيا هم درته وايم چې هر څه ستاسو په لاسونو کې دي. که تاسې او ستاسې همزولي هوښيار اوسئ، وطن بـه نه ورانېږي.

ځيرک سترګې پټې کړې وې. ورو ورو ساه يې کښله. د خور غږ يې واورېد چې ويل يـې: ځيرکه! مور مې وايي کور ته راشه چې ګرمي ده.

ځيرک سترګې پرانيستې. په چپ لاس کې يې لېنده وه. په ښي لاس يـې د لېنـدې کاسـۍ کش کړې وه. مخامخ د ونې پر لوړ ښاخ يوه مرغۍ ناسته وه. مرغۍ ځيرک ته کتل. ښـه يې ليدل چې ځيرک يې ولې خو نه الوته. د دې مرغۍ سترګې بل رقم وې. تر نورو مرغيو غټې. له سترګو نه يې تته شنه رڼا راوتله.

ځيرک چارچاپېره داسې حيران حيران کتل لکه څوک چې له ژور خوبه راويښ شي او پوه نه شي چې په کوم ځای کې دی.

ځيرک په خپله کوځه کې ولاړ و. په هماغه ځای کې چې له سفره مخکې ولاړ و. د بهشتۍ او ګلوزرې درک نه و. په کراره يې جېب ته لاس کړ. هګۍ هماغسې سلامته وه.

اوه! دا نو څه کيسه ده؟

دا هرڅه خوب و؟

ده په ولاړو خوب ليدلی و؟

د لېندې له کاسۍ نه يې تيږه خطا کړه. د لېندې رابړ يې تاو کړ. انګړه ته ننوت. ورو ورو تکاوۍ ته کښته شو. اوسپنيز بکس يې خلاص کـړ. وړوکـی لـرګين صـندوق يـې تـرې

eilia.org



راوایست. هګۍ يې په احتياط سره بېرته په کې کېښوده. لېنده يې هم په تکاوۍ کې وغورځوله.

له تکاوۍ بېرته راووت. کور ته ورغی. کوټې ته ننوت.

مور يې وويل: زويه! اوس ګرمي ده. د باندې مه ګرځه چې مريض نه شې. مازديګر چې هوا ښه شوه بيا لوبې وکړه.

ځيرک پر دېوال باندې ځړېدلي ساعت ته وکتل. له يوې بجې څخه يوازې پنځه دقيقې تېرې شوې وې. دا هر څه يوازې په پنځو دقيقو کې تېر شوي وو.

بيخي ګنګس شوی و. حيران و.

تر مازديګره يې څه ونه ويل خو بيا يې زړه تنګ شو. په ټيټ غږ يې خور ته وويل: زرغونې! ته راشه چې يوه خبره درته کوم.

د انګړ کونج ته ولاړل. د منې تر ونې لاندې کېناستل.

ځيرک وويل: ګوره! يوه خبره درته کوم خو چا ته به يې نه وايې.

زرغونې وويل: ښه سمه ده. نه يې وايم.

ځيرک د ګلوزرې او د خپل سفر کيسه ورته وکړه.

زرغونې وويل: دروغ وايې.

ځيرک وويل: قسم دی. قرآن شريف دې ما ووهي که دروغ درته وايم.

زرغونه پاڅېده. د کور خوا ته روانه شوه. ويې ويل: په ما دې د ماشومې ګومان کړی؟

ځيرک د باندې ووت.

ملګرو يې کرېکټ کاوه. خو دی کرار په يوه کونج کې کېناست.

ملګرو يې ورته وويل چې راځه ته هم لوبه وکړه خو ده ونه منل.

eilia.org



لوبه خلاصه شوه. ملګري يې ترې راتاو شول چې ولې نن داسې خپه غوندې يې؟

ده د سفر کيسه ورته وکړه.

ټولو ورپورې وخندل. يوه وويل: خوب دې ليدلی که لېونی شوی يې؟

بل وويل: هسې نه چې ته پېری يې او موږ هسې د انسان ګومان دربانديې کړی.

هرررر شو. بيا ټولو وخندل.

څو ورځې له کوره ونه وت. ټوله ورځ به ځان ته ناست و. کتابچه يې راخيستې وه. د هغو ځايونو کيسې يې په کې ليکلې چې په سفر کې يې ليدلي وو. د لرغونو سيمو، کلاګانو، ښارونو، سيندونو، بندونو ...

بله ورځ يې مور له زرغونې پوښتنه وکړه چې دا ورور دې ولې داسې خپه غوندې دی.

زرغونې وويل: خدای خبر. ها بله ورځ چې په سره غرمه کې د باندې وتلی و او تا وويل ورته غږ وکړه، بيا چې راغی ما ته يې ويل چې د يوې مرغۍ په شا سپور شوی و او ډېرو ځايونو ته تللی و.

مور ته يې سودا ولوېده. ببګا يې پلار ته کيسه وکړه. ويې ويل چې زوی دې کوم ډاکټر ته بوځه. هسې نه چې د اعصابو تکليف ورته پيدا شوی وي.

پلار يې هغه کوټې ته ننوت چې ځيرک په کې ناست و او په کتابچه کې يې څه ليکل.

پلار يې پوښتنه وکړه: ځيرکه زويه! مکتبونه خو رخصت دي نو ته څه شی ليکې؟

ځيرک ژر کتابچه بنده کړه. ويې ويل: هسې. رسمونه باسم.

پلار يې کتابچه ورنه واخيسته. د منځ يوه پاڼه يې واړوله. د آی خانم په اړه معلومات يې ولوستل.

پوښتنه يې وکړه: دا معلومات دې له کومه پيدا کړي دي؟

eilia.org



ځیرک وویل: که ویې وایم، هسې یې هم نه منې.

پلار یې وویل: ولې به یې نه منم. ته خو یې راته ووایه.

ځیرک ورته کیسه وکړه.

پلار یې د کتابچې څو نورې صفحې هم ولوستې، د شیوا جهیل، بند امیر، منډیگک. بیا یې په انټرنټ کې د همدې ځایونو په اړه معلومات وکتل. څه چې ځیرک لیکلي وو، ټول سم وو.

هغه هم حیران و چې دا نو څنگه کېدای شي.

رخصتۍ خلاصې شوې. مکتبونه شروع شول. د ځیرک ملگرو ټول مکتب خبر کړی و چې ځیرک داسې اوتې بوتې وایي. وايي چې د مرغۍ پر څټ سپور شوی او ډېرو ځایونو ته یې سفر کړی دی.

بس نو ملنډې شروع شوې. چا به ویل: څنگه یې د گل‌وزرې انډیواله!

چا به ویل: وه هلکه! چې د گل‌وزرې خوراک هېر نه کړې.

بل به په ملنډو ویل: زه په رخصتیو کې پر خره سپور شوم، مریخ ته ولاړم.

بیا به ټولو وخندل.

د ځیرک خلق تنگ و خو له چا سره یې بحث نه کاوه. هغه دا هر څه زغمل.

خو زرغونې منلې وه چې زیرک په ریښتیا هم له گل‌وزرې سره سفر کړی دی.

ځیرک به هره ورځ ورته د یوه سفر کیسه کوله او زرغونه به ورته غوږ غوږ وه.

څو ورځې تېرې شوې. د اسد اته ویشتمه راورسېده. د افغانستان د خپلواکۍ سلمه کلیزه وه.

د ځیرک پلار دی او زرغونه د خپلواکۍ جشن ته بوتلل.

eilia.org



هره خوا د افغانستان په بیرغ او د امان الله خان په عکسونو ښایسته شوې وه.

ځیرک زرغونې ته د امان الله خان په اړه هغه خبرې وکړې چې په جلال آباد کې معلمې خپلو شاګردانو ته کړې وې. بیا ولاړل دارالامان ماڼۍ ته. دا ماڼۍ امان الله خان جوړه کړې وه. په تنظیمي جګړو کې ماڼۍ ورانه ویجاړه شوې وه، دړې، کړکۍ، غالۍ، مېزونه او چوکۍ، سویچ او ساکټ او قندیلونه یې ټول لوټ شوي وو. اوس بیا د وطن نجونو بېرته ودانه کړې وه. د دارالامان د ماڼۍ رغوونکې د وطن انجینیرانې وې.



د دارالامان ماڼۍ چې په جګړو کې ورانه شوې وه

eilia.org





د دارالامان ماڼۍ تر رغولو وروسته

زرغونې چې په دې هر څه خبره شوه، د کميس غاړه يې په دواړو لاسو ونيــوه او پورتــه پورته يې کړه او په موسکه خوله يې زيرک ته وويل: زيرکه! ښه يې ويلي دي چې لــوپټې مو له دستاره کمې نه دي. وينې چې موږ څومره تکړه يو.

زيرک په خندا وويل: بالکل. خدای دې تا هم انجينيره کړي چې بيا تــر دې هــم ښايســته ماڼۍ جوړې کړې او زه درسره هسکه شمله وگرځم او ووايم چې زرغونې خور مې داسې تکړه انجينيره ده.

وروسته له پلار سره پغمان ته ولاړل. طاق ظفر يې وکوت. دا هغه طاق و چــې امــان الله خان د انګليسانو تر ماتولو وروسته جوړ کړی و.

د پغمان په هغه ماڼۍ کې چې امان الله خان جوړ کړی و، لــوی جشــن و. لرغــوني آثــار، مجسمې، د وطن د توليــداتو نندارتونونــه، د رســامانو، نقاشــانو او خطاطــانو ښــکلې تابلوګانې او آثار، د مختلفو قومونو جامې، موسيقي او ډېر نور شيان.

eilia.org





طاق ظفر، پغمان، کابل (عکس د ښاغلي نجيب الله مسافر)

دې جشن ته ډېر کتابونه هم راوړل شوي وو. د ماشومانو له پاره هم ډېر کتابونه تازه چاپ شوي وو. معلوماتي کتابونه، شعرونه، کيسې، ناولونه.

ځيرک زرغونې ته وويل: پوهېږې! امان الله چې کله د وطن خپلواکي واخيسته، خلکو ته يې څه وويل؟

زرغونې په خندا وويل: نه بابا. زه خو ګلوزرې چکر ته نه ومه بيولې چې وپوهېږم.

زيرک هم وخندل او ويې ويل: ښه نو، غوږ شه! امان الله خان وويل چې اصلي خپلواکي په تعليم او ترقي کې ده. تورې او ټوپکې مو کېږدئ او تعليم ته مخه کړئ. په تعليم به مو وطن آباد کړئ او بيا به چا ته محتاج نه يو.

زرغونې وويل: ښه خبره يې کړې ده. نو زه او ته بايد ډېر کتابونه ولولو. راځه چې يو څو کتابونه واخلو.

دواړه هغو مېزونو ته ولاړل چې کتابونه ورباندې اېښودل شوي وو.

eilia.org



ځيرک يو کتاب راپورته کړ. عنوان يې و «عمومي معلومات». ده د کتاب پاڼې اړولې. د ځمکې، ستورو او کايناتو په باره کې په زړه پورې معلومات او ښکلي عکسونه په کې وو. ده کتاب په تخرگ کې ونيو. بل کتاب يې پورته کړ. څو پاڼې يې واړولې. دا د هغه ماشوم کيسه وه چې فضا ته تللی و. د پيل څو کرښې يې ولوستې. ښه کيسه وه. خوښه يې شوه. دا کتاب يې هم په تخرگ کې ونيو. بل يې راپورته کړ.

زرغونه وړاندې تللې وه، څو مېزه هاخوا.

ځيرک د کتاب په ليدلو بوخت و چې زرغونې غږ وکړ: ځيرکه! ځيرک! هله دلته راشه! دا وگوره.

هغې يو کتاب پورته نيولی و.

پوهېږې چې کوم کتاب و؟

باور به دې نه شي.

د زرغونې په لاس کې همدا کتاب و. همدا چې ته يې لولې او پر پوښ يې د ځيرک او بهشتې رسمونه دي چې په هوا کې د گلوزرې پر څټ سپاره دي.

پای

کابل، چهلستون

۲٤.۰٦.۲۰۱۹

د شپې ۱۱:٤۰